دا کارمې په قصدي توګه وکړ، ځکه هغه څه چې زه يې دخپل ځان اونورو په اړه پېژنم دا دي، چې موږد خوښۍ په کارونوکې په الٰهي پرېکړه اوبرخليک ايمان لرو، خوپرهغوکارونوچې زموږ زړه يې نه غواړي بيا هغه مهال موږ قهرجن شو، له همدې امله د اسلام اساسي شرط او کلکه غوښتنه هم دا ده، چې ته د خيراوشرپه اندازه، په خوږو اوترخوايمان - يقين - ولرې .

***

## پرالله (ﷻ) يقين لرونکی زړه به الهي لار ښوونه ومومي

داچې پرالٰـهي پرېکړوباندې د باوري بنده نېکمرغي اود بې يقينه انسان په برخه شك اوسرګرداني وي، نود دې حقيقت دڅرګندولو له پاره غواړم ديوه نامتوامريکايي ليکوال "بـوډلي" قېصه درته وکړم : نوموړي ليکوال د څوارلسو کتابونوترڅنګ د"بيديا بادونه" او د محمد (ﷺ) په نامه د کتابونوليکونکی هم دی .
دغه ليکوال په ۱۹۱۸زکال په شمال لوېديځې افريقا کې له مسلمانو کوچيانو سره استوګنه غوره کړه، چې تل به يې لمونځونه کول، روژه به يې نيوله او د الله ذکر به يې کاوه، همدغه ليکوال هلته دخپلوځينولیدنوپه اړه وايي :

يوه ورځ داسې سخت طوفاني باد راوالوت، چې د بيديا شګې يې له ځان سره بادولې اود سپين سمندرګي هغه بل اړخ ته به يې د فرانسې د "رون " درې ته غورځولې، طوفان دومره سخت ګرم و چې ما داسې انګېرله ګواکې د سر وېښتان مې له بېخه راوځي، نو زه د ډېرسخت قهرله امله داسې شوم چې لېونتوب ته نژدې وم، خو دغوعربومسلمانانوهېڅ ډول فرياد نه کاوه . د طوفان ترپای وروسته يې يواځې خپلې اوږې وخوځولې او همدومره يې وويل : الٰـهي پرېکړه وه ! بيا له پوره قوت سره خپلوکارونو ته ولاړل، د قبيلې مشر وويل : موږلا ډېرڅه له لاسه نه دي ورکړي، موږ خود دې وړ وو، چې هرڅه مو له لاسه ورکړي وی، خو د الله تعالیٰ فضل او کرم وشو، له موږ سره اوس هم څلوېښت سلنه څاروي پاتي دي، چې ددې په واسطه کولای شوخپل کاربيا له سره پيل کړو. دلته يوه بله پېښه هم شوې وه، يوه ورځ په موټر کې په يوې لويې صحراء کې تېرېدو،ناڅاپه د موټريو ټاير وچاودېده، موټروان احتياطي ټايرهېرکړی و، چې له همدې امله ماته سخت قهرراغی او له سختې اندېښنې اوتشويش سره مخ شوم . ما له خپل کوچي ملګري څخه وپوښتل اوس به موږڅه کوو؟ هغه راته تسلي راکوله او ويل يې چې قهر- غوسه د خورما د زړي د نري تار په اندازه هم ګټه نه لري، بلکې کېدای شي انسان د بې عقلۍ اوحماقت

لورته یوسي، نو له همدې امله اړ شوچې په پنچرموټر حرکت پیل کړو، لږ لا تللي نه وو، چې موټرحرکت هم پرېښود، له څېړنې وروسته څرګنده شوه چې د موټر تېل هم ختم شوي دي، په دې حالت کې هم د مخکیني ځل په څېر زما کوچې ملګروهېڅ خفګان ونه کړ او نه پرې دغې پېښې کومه اغېزه وکړه، بلکې په ساده ډول له موټرڅخه ښکته شول او پرلاره یې خوږې سندرې زمزمه کولې . په هغه صحراء کې له عربي کوچپانوسره چې ما اوه کاله ژوند تېرکړ، زه یې په دې قانع کړم چې هغه سرګردان، د شرابو او نېشو له امله مست او د ناروغو نفسونوڅښتنان، چې نن سبا په امریکا او اروپا ویاړي په حقیقت کې دوی د هغه مدنیت یا پرمختګ قربانیان دي، چې د نظام بنسټ یې پربیره ولاړ دی . همدا لیکوال وایي، په صحرا کې چې اوسېدم هېڅکله مې تشویش نه دی کړی، بلکې د الله په جنت کې مې خوښي، ارامي او قناعت ترلاسه کړ، بېشکه ډېر خلك د زور په هغه عقیده باندې چې عربانومنلي ملندې وهي، او له دې امله پرې مسخرې کوې چې دوی پرالهي پرېکړو اوبرخلیک باندې ایمان لري .

خوځوك پوهېږي کېدای شي عرب مسلمانان د حقیقت تل ته رسېدلي وي، ځکه زه چې خپل پخواني یادونه راپه زړه کړم، شاته وګورم اوخپل پخوانی ژوند مخې ته کیږدم، نوماته څرګندیږي چې زما تېرژوند به هرومروپه بېلابېلو پړاوونو کې له یو ډول داسې پېښوسره مخ کېده، چې هغه به ښېخې پخوا زماپه ګومان کې هم نه و، او نه ما دهغې مخنیوی کولی شو، خوعرب مسلمانان دا ډول پېښوته قضاء، قدر اوقسمت وایي، اوس نو چې ته ورته کوم نوم غوره کوې ستاخوښه ده .

د خبرې لنډیز دا دی چې : له اوولسو-۱۷- کلنو راهیسې ما هغه صحراء پرېښې، خو تراوسه هم د پرېکړه لیک اوبرخلیک په اړه هماغه دعربو مسلمانانوپه عقیده یم، نوپه همدې اساس زه له ټولوهغو پېښوسره چې له ماسره یې د مخنیوي په اړه کومه لار نه وي، په ارامۍ ، ډاډ او د هماغه قوم په تګلاره چلند کوم . زه دا ویلای شم، کوم خویونه چې ما له عربانوڅخه زده کړل زما د اعصابو په قرارولو کې یې له ماسره د زرګونوطبي او اراموونکو درملو پرتله هم ډېره مرسته کړې ده.

زه- لیکوال - وایم بېشکه چې عربوکوچپانوداحقیقت د رسول الله(صلی الله علیه وسلم) له لاربښوونو څخه لاس ته راوړی اود رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د پیغمبرۍ موخه هم داده، چې خلك له کړاوڅخه وژغوري او له تیاروڅخه یې رڼا ته را وباسي، له سرونو خاورې وڅنډي او له ځانونوڅخه یې هرډول پیټي

او زولنې لرې کړي . بېشکه له کوم پيغام سره چې رسول الله (ﷺ) خلکو ته رالېږل شوی، په هغه پيغام کې د پوره ډاډ او امن رازونه او له ناکامۍ څخه د خلاصون لارښوونې پرتې دي، نو دا رسالت پرالٰهي پرېکړه باندې اقرار، په دليل باندې عمل، ټاکلي موخې ته رسېدل، د خلاصون لوري ته هڅې اوځانګړې پايلې ته د رسېدلوستومانۍ ته وايي .

د الٰهي دين د راتګ موخه دا ده، چې تاته په نړۍ کې ستا ټاکلی مقام درپه ګوته کړي، چې ستا فکرقرار، زړه دې ارام او پرېشاني دې له منځه ولاړه شي، عمل دې سپېڅلی اوخوی دې ښکلی شي اوپه پای کې له تاڅخه يونمونه يي بنده جوړشي، چې - په دنيا کې - دخپل شتون له رازه خبراود خپل پيدايښت موخه ورته روښانه وي .

***

## منځنۍ تګلاره

﴿ همدارنګه موږتاسويومنځلارى اُمت ګرځولي ياست﴾. البقره ۲:۱۴۳

نېکمرغي په اعتدال - منځلاريتوب - کې پرته ده، خوداسې نه چې له کرښې تېرى وکړې او يا ورڅخه وروسته پاتې شې، نه زياتى اونه کمى . بېشکه چې اعتدال يوه الٰهي ستايل شوې لارده، چې بنده له هردول يوارخيزه فکرڅخه ژغوري . د اسلام لويه ځانګړتيا داده چې منځلارى دين دى، نوځکه اسلام د يهوديت او نصرانيت ترمنځ يو بېل دين دى، يهوديت هغه دى چې جنده يې پورته کړې او عمل يې له منځه وړى او نصرانيت هغه دى چې په عبادت کې بې دليله زياتى کوي، خواسلام له علم اوعمل، روح اوجسد، عقل اونقل تولوسره راغلى دى هغه کارچې ستا د نېکمرغۍ لامل ګرځي دا دى چې په عبادت کې منځلاريتوب وکړې، نوته ډېر زياتى مه کوه چې جسم به دې سست کړي، قوت، زغم اوپه عبادت کې به دې دوام له منځه يوسي .

همدا راز کموالى هم مه کوه چې نفل پرېږدې، فرضي عبادتونه زيانمن کړې او د ناپاکۍ لورته ورمات شې . دارنګه په لګښت کې هم له منځلارۍ څخه کار واخله، سرمايه دې مه تباه کوه، چې بېوزله اوغمجن به شې او په غوڅه توګه خپله ورکړه هم مه ايساروه، بخيلي مه کوه، که نه نوخلکوته به ملامت او له دعاووڅخه به بې برخې شې، په چلند اواخلاقوکې بايد له زياتې بيړى اوخورا

نرمښت، د ډېرتریخوالي اوپریوتې خندا، د بوګنونکې ګوښیتوب او ډېر زیات ګډون په منځ کې لارغوره کړې . بېشکه چې په کږو وږو، پرېکړو او له نورو سره په راشه درشه کې منځلاریتوب همدې ته وايي . لنډه دا چې نه به دومره زیاتوالی وي چې د اخلاقوپیمانه پرې سرته وخیژي، او نه داسې کمښت چې د خیربنسټ پرې ړنګ شي، ځکه چې له اندازې څخه تېری اسراف او کمي جفا او بې خیري ده .

﴿ د خپلې مهربانۍ له مخې الله تعالىٰ هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی و دهغې ربښتینې خبرې ښوونه وکړه، چې په کې په جلا جلا لارو روان وو او چاته چې د الله پاك خوښه وشي سمه لار ورته ښايي ﴾. البقره ۲:۲۱۳

نېکي د دووبدیوپه منځ کې پرته ده، یوه د افراط ـ زیاتوالي- اوبله د تفریط ـ کموالي ـ بدي ده .

خیرد دوو شرونو په منځ کې پروت دی، یو د غُلو- تجاوز- او بل د جفا- نیمګړتیا- شردی .

حق د دوو باطلو په منځ کې پروت دی، یو د زیاتوالي اوبل د کموالي باطل .

نېکمرغي د دوو بدبختیو په منځ کې پرته ده، یوه د بې پروایۍ له امله پرېوتل، بله یې بې زړه توب دی .

***

## نه تېری او نه کمی

"مُطرف بن عبدالله" وايي: ترټولوبد مزل ستومانه کوونکی تګ دی اوهغه داسې وي چې انسان په کې ډېرزیار وباسي چې خپل ځان او د سورلۍ څاروی هم ستومانه کړي، رسول الله(ﷺ) وايي : (( بدترین څرونکي هغه دي چې سختي کوي)). دارنګه له خپلې کورنۍ او له هغه چا سره چې الله پرې دغه کس واکمن کړی دی بد چلند کوي . د بخیلۍ او اسراف ترمنځ حالت ته سخاوت، د بې زړه توب اوسرکشۍ ترمنځ حالت ته شجاعت ـ مېړانه ـ او د تېزۍ او سستۍ ترمنځ حالت ته حلم یا زغم، د تندي د ګونجې کېدو او د خندا ترمنځ حالت ته موسکا او د زړه کلکوالي او فریاد ترمنځ حالت ته صبروبل کیږي. له حد څخه د

تېري له پاره درمل شته، چې له تېري څخه ځان ژغورل او د دې سوزونکي اور وژل دي، کومه چې جفا- نیمګړتیا- ده، نو دهغې درمل قوي هوډ، لوړهمت اوښه هیله ده.

﴿ وښایه موږته نېغه لار، دهغه چا لار چې تا پرې پېرزوکړې ده، نه دهغه چا لارچې غضب ورباندې شوی اونه د بېلارو لاره ﴾. الفاتحه ۱:۵

***

## لنډه دمه

په دنیا کې له صبرڅخه سخت شی نشته، چې هغه یا د محبوب ـ ګران شي- د له منځه تلو، یا د ناخوښوشیانوله پېښېدوسره منځته راځي، په ځانګړې توګه کله چې موده اوږده شي او له خلاصون څخه نوره ناهیلي منځته راشي، البته دغه اوږده موده بیا یوې داسې توښې ته اړتیا لري، چې سفرته پرې رسېږي، خودغه توښه څوډوله ده، یوه دا چې د ازمېښت اندازې ته سترګې غړول اوکېدای شي چې ستونزه ځنډمنه شي . بله دا چې په ازمېښت کې اخته انسان چې په کوم حالت کې قرارلري، نو له هغه حالت نه بد اوخراب هم شته. د بېلګې په ډول کېدای شي د زوی په ورکېدو یا له منځه تلو وازمایل شي، چې داکاربه د پخواني پرتله ورته ډېر ارزښتناک وي، یعنې د زوی ورکېدل د مال پرتله ډېر زورغواړي .

بل ډول دا دی چې په دنیا کې یې بدله وغوښتل شي . همدارنګه په آخرت کې یې د ثواب هیله لرل دي . بل داچې خلک صابرانسان په دغه صفت سره وستایي، هغه په خپله له دغې ستاینې څخه خوند واخلي او ورسره له الله (ﷻ) نه اجرهم غواړي . بله دا چې فریاد هېڅ ګټه نه لري، بلکې فریادي انسان ته خپل فریاد شرمنده ګي اړوي او دې ته ورته نورداسې شیان چې ځان ترې ساتل په کاردي او داهغه څه دي چې عقل اوفکریې بدګڼي، نو د صبرپه لارکې له پورتنیو شیانوپرته بله کومه لارنشته، نوصبرکوونکي ته په کاردي چې ځان پرې بوخت وساتي او خپلې د ازمېښت شېبې پرې تېرې کړي .

***

## اولیآء څوک دي

د ولیانوځینې صفات په دې ډول دي: په شوق سره د اذان انتظار، تکبیر تحریمه ته ځان رسول، د لومړي صف ډېرشوق، په مسجدکې همېشه کېناستل، د سینې روغتیا، د سنتوڅرګندول، ډېرذکرکول، د حلال رزق ګټلو له پاره ځان ستړی کول، د بې ارزښتو کارونوپرېښودل، په پرده پوښ ژوند راضي کېدل، د قرآنکریم اونبوي حدیث زده کړه، تندی پراخول، د مسلمانانوپه غمېزو دردېدل، شخړې شاته غورځول، په ستونزوکې صبراوښېګڼه کول دي . هغه منځلاری ژوند غوره دی چې نه سرکشه شتمني اونه وېرونکې نېستي په کې وي، یواځې هماغه ګوزاره حال کافي اوشافي ژوند وي، چې د ژوند هدف اوغرض لاسته راوړي، نوهمدا یې ګټور ژوند اوښه خوراک دی . یوکورچې ته په کې اوسېږې، یوه مېرمن چې ته ورسره خپل ژوند وکړې، یوه ښایسته د سورلۍ وسیله، اوهغه مال چې د اړتیا پوره کولولپاره وي او بس همدغه ګوزاره حال ژوند دی .

***

## الله پرخپلوبندګانوښه مهربان دی

ماته د ریاض یوه مخورشخص قېصه کوله، چې پر۱۳۷۶هـ ق کال د "جبیل" سیمې له اوسېدونکوڅخه یوه ډله سمندري ښکاریان د کبانود ښکارپه موخه سمندرته ولاړل، درې شپې او ورځې پرلپسې هلته پاتې شول، خویوکب یې هم ونه نیوه، حال دا چې پنځه وخته لمونځ یې کاوه، په داسې حال کې چې ترڅنګ یې یوه بله ډله هم وه چې هېڅ لمونځ یې نه کاوه، خوچې کله به یې ښکاروکړ کبان به یې ونیول، نوله لومړنۍ ډلې خلکوڅخه ځینوله ځان سره وویل : سبحان الله ـ پاکي ده الله لره! سره له دې چې موږ ټول لمونځونه کوو،خوبیاهم موږ ته هېڅ ښکارپه لاس نه راځي، او دا ډله چې الله تعالی ته یوه سجده هم نه کوي، ښکارته یې وګورئ! شیطان دوی ته د لمانځه د پرېښودوپه اړه وسوسه واچوله، دوی لمونځ کول پرېښودل، لومړی یې د سهارلمونځ پرېښود، بیا د ماسپین، بیا د مازدیګر، خوکله چې د مازدیګرد لمانځه وخت تېرشو، نو دوی سمندرته ولاړل ، دا ځل یې یوکب ښکارکړ، هغه یې له اوبوڅخه راوویست، ګېډه یې ورته وڅیرله، ګوري چې د ګېډې په منځ کې یې یوه قیمتي مرغلره پرته ده ، نویوه نفرهغه مرغلره راواخیسته اوپه لاس کې یې اړوله راړوله، په ځیر یې ورته کتل اوبیا یې وویل: سبحان الله! کله چې موږ د الله عبادت کاوه، موږهېڅ ترلاسه نه کړل، خوکله موچې سرکشي وکړه دا قیمتي ښکارموپه برخه شو!! په

يقين سره چې دا روزي د شك وړده بيا يې دا ملغلره سمندرته وغورځوله او ويې ويل، چې الله تعالىٰ به موږ ته ددې ښكار بدله راكړي، پرالله تعالىٰ قسم چې زه به بيا دا راوانخلم، ځكه چې دا موږ ته د لمانځه تړپړېښودو وروسته لاسته راغلې ده، نورو‌ملګروته يې وويل : راځئ له دې ځای څخه چې موږ په کې د الله تعالىٰ نافرماني كړې ده لاړشو، له هغه ځايه نژدې درې ميله وړاندې ولاړل اوهلته په خپله خيمه کې مېشت شول. دويم ځل بيا سمندرته ولاړل، په دې ځل يې د"كنعد" په نوم يوكب ښكاركړ، ګېډه يې ورته څيرې كړه ګوري چې په منځ کې يې هماغه ملغلره پرته ده، نو ټولو الله(ﷻ) وستايه، شكريې پرځای كړ او ويې ويل : ثنا اوستاينه هغه الله لره ده چې وروسته له لمونځ ذكراو استغفارڅخه يې موږ ته دا پاك رزق را په برخه كړ، بيا يې هغه ملغلره واخيسته . نوته فكر وكړه چې مخكينی څه ډول حالت و، د نافرمانۍ پرمهال يې پليت رزق په برخه شو او د طاعت اوبنده ګۍ پـرمهال يې پاكه روزي په برخه شوه . ﴿ څومره به ښه خبره وی كه هغوی د الله او رسول په وركړه خوښ شوي وای او داسې يې ويلی وای، چې الله موږ ته كافي دی، ډېر ژر به الله پاك له خپلو خزانو څخه موږ ته ډيرڅه راكړي او د هغه رسول به هم لوړېينه راباندی وكړي، موږ يواځي يو الله ته ورتلونكي يوو﴾. التّوبه ٩:٥٩

دې ته وايي د الله تعالىٰ مهرباني، چا چې د الله تعالىٰ د خوښۍ له پاره څه پرېښودل، نو الله به ورته ښه بدله وركړي . په دې اړه ماته د علي (رضي الله عنه) قېصه راپه زړه شوه، يوه روځ هغه د كوفې مسجد ته ننوت چې د څاښت دوه ركعته لمونځ وكړي، د مسجد له دروازې سره يې يوهلك وليد اوهغه ته يې وويل : ترهغې چې زه لمونځ كوم زما دې قچرې ته پام كوه، بياجومات ته ننوت اودا يې په زړه کې وه چې دغه هلك ته به د څارنې په بدل کې يودرهم وركوي، كله چې علي (رضي الله عنه) مسجد ته داخل شو، هغه هلك له قچرې قېضه وويسته او بازارته يې د خرڅولو له پاره يوړه، علي (رضي الله عنه) چې راووته ګوري چې هلك او د قچرې قېضه هم نشته، نو يونفريې ورپسې ولېږه او ورته يې وويل، بازار ته ولاړ شه، كېدای شي هغه هلك به قېضه هلته پلوري، قاصد ورپسې روان شو، ګوري چې هغه هلك قيضه په ځان پسې راكاږي، نو قاصد ورڅخه هغه په يودرهم واخيسته اوبېرته راغی، علي (رضي الله عنه) يې له حال څخه خبركړ، نوهغه وويل : سبحان الله ! پرالله قسم دی، زما زړه کې وه چې زه به دغه هلك ته يودرهم وركوم، خوهغه بدمرغه ونه منله او په ناروا لاريې ترلاسه كړ . بېشكه چې الله تعالىٰ خپل لطف- مهرباني- په خپلوبندګانوپسې ګرځوي، كه هرچېرته ځي هرځای اوسيږي اوكه هرځای ته كډه كوي .

﴿ چېرته چې یاست او د قرآن هره برخه لولې او تاسوچې هرڅه کوئ او په خپلوکړنوکې ډوب یاست، نو موږ دربانديٍ ګواهان یو اوستا له رب څخه ډېره کوچنۍ ذره نه په ځمکه اونه په اسمان کې پېټدلای شي ﴾. یونس ۶۱:۱۰

***

## پرهېزګارته به بې خیاله له هرلوري روزي ورکوي

"تنوخي" په خپل کتاب "الفرج بعد الشدّة " کې یوه قېصه رانقلوي چې دلته یې یادونه اړینه ده، وایي یوسړی چې د روزۍ د لاس ته راوړلوټولې دروازې یې پرمخ تړل شوې وې، یوه داسې ورځ هم پرې راغله چې په کورکې یې هېڅ نه و، نوهغه شخص قېصه کوي چې زه اومېرمن مې په لومړۍ ورځ وږي پاتې شو، په دوهمه ورځ چې لمړدوبېدو ته نژدې شومېرمنې مې وویل بهر ووځه اوموږ ته خوراک راوړه، که نه نوموږ خوله لوږې څخه مړه کیږو . هغه زیاتوي، په دې وخت کې مې یوه خپلوانه فکرته راغله او کورته یې ولاړم، خپله قېصه مې ورته وکړه، هغې راته وویل موږ کره یو دانه کب شته، خوپمن شوی دی، ماوویل : پروا نه کوي را یې کړه موږ له لوږې مرګ ته نژدې یو، نوهغه مې راوخیست او کورته مې راوړ، په کور کې مې ګېډه ورته څیرې کړه، ګورم چې یوه دانه ملغلره په کې پرته ده، هغه مې رواخیسته، بازارته مې یوړه او په زرګونو دینارو مې وپلورله، بیا مې خپلوانه له قېصې خبره کړه، هغې راته وویل زه له دې څخه له خپلې تاکلې برخې پرته نورهېڅ نه اخلم . هغه کس وایي زه له دې وروسته شتمن شوم، کورته مې سامانونه واخیستل، خپل ژوند مې پرې برابر کړ او د ښې پرېمانه روزۍ څښتن شوم، چې دا یواځې د الله (ﷻ) لطف - مهرباني- وه او بس .

﴿ کومه لورېینه چې پرتاسوشوې ده د الله له لوري ده﴾. النّحل۱۶:۵۳
﴿ پیغمبره هغه وخت یاد کړه چې تاسوبه خپل رب ته چېغې وهلې، نوستاسو غوښتنه یې ومنله ﴾. الانفال ۸:۹

***

## الله هغه ذات دی چې باران وروي

ماته یود قدروړکس چې عابد اوپرهیزګارانسان و قېصه کوله، چې له خپلی کورنۍ سره په یوه بیدیا کې د یوې باندې په اړخ کې اوسېده او د خپل رب په عبادت بوخت و. داسې وخت راغی چې زموږ ترڅنګ اوبه ختمې شوې، زه ووتلم چې خپلې کورنۍ ته د څښلواوبه راپیدا کړم، چې ومې کتل نو د نژدې سیمې حوض هم وچ شوی و، شاوخوا مې ډېره پلټنه وکړه، خو یوڅاڅکی اوبه مې هم پیدا نه کړې، ټول سخت تږي شوي وو، کوچنیانو مو هم اوبه غوښتلې، خوپه دې وخت کې زه قریب اوقبلوونکي رب ته متوجه شوم، پاڅېدم، تیمم مې وکړ، مخ په قبله شوم، دوه رکعته نفل لمونځ مې وکړ، بیامې خپل دواړه لاسونه پورته کړل له الله تعالیٰ څخه مې وغوښتل، ومې ژړل، تردې چې اوښکې مې راوبهېدې او له الله تعالیٰ څخه مې په پوره ټینګاردعاء وغوښته، نو د الله (ﷻ) دا وینا مې راپه زړه شوه چې: ﴿ څوك دی هغه ذات چې د محتاج غوښتنه مني﴾. النّمل ۲۷:۶۲

پرالله قسم زه لا له خپل ځای څخه پاڅېدلی نه وم، چې سخته وربځ راپیدا شوه په داسې حال کې چې اسمان مخکې پوره شین و، وربځې زموږ د سیمې او کور پرسرشوې، بیا ښه ټینګه شوه او باران یې راخوشې کړ، دومره باران وشو ټول هغه حوضونه چې زموږ شاوخوا کې وو له اوبوڅخه ډك شول، د الله تعالیٰ په فضل زموږ ستونزه ورکه شوه، اوبه مو وڅښلې، غسلونه، اودسونه موهم پرې وکړل او د الله تعالیٰ حمد او شکرموپرځای کړ . له باران نه وروسته زه له خپلې سیمې لرې هغه خوا ولاړم ، ګورم چې هلته پوره وچکالي اوقحطي وه، نوزه په دې خبره باوري شوم چې دا باران الله (ﷻ) زما په دعاء ووروه، نوبیا مې الله وستایه او شکرمې پرځای کړ . ﴿الله تعالیٰ هغه ذات دی چې د خلکوله ناهیلۍ وروسته باران وروي، خپل رحمت خوروي اوهغه کارجوړوونکی اوستایلی شوی ذات دی﴾.الشوریٰ۴۲: ۲۸

بېشکه موږباید له الله (ﷻ)څخه په غوښتنه کې ښه زاري اوټینګار وکړو، رېښتیا ده چې د نفسونوحالت سموونکی، روزي اوولاربښوونکی، توفیق ورکوونکی اوټینګوونکی، مرسته کوونکی او غږ اورېدونکی له الله (ﷻ) پرته بل څوک نشته، اوالله (ﷻ) دخپلوپیغمبرانو له ډلې د یوه پیغمبرزکریا(علیه السلام) په اړه وایي :﴿ مېرمن مو ورته روغه کړه ،بېشکه چې په ښېګڼوکې یې بیړه کوله، په هیلواو ډار سره یې موږه بللواو موږ ته غاړه ایښودونکي وو﴾. الانبیآء ۲۱:۹۰

***

## الله (ﷻ) يې ښه بدله ورکړه

" ابن رجب " او نورو ليکلي چې په مکه مکرمه کې يوعابد اوسېده، يو وخت يې د خوراک خرڅه ختمه شوه، دسختې ولږې له امله مرګ ته نژدې و، په همدغه حال کې يوه ورځ د مکې په کوڅوکې ګرځېده چې ګوري يوقيمتي اوښايسته هار له چا څخه پرېوتې و، هغه يې راواخيست په خپل لستوڼي کې يې ونيوه اوحرم شريف ته ولاړ، هلته ګوري چې يوسړی دهمدغه هارپه اړه اعلان کوي، هار موندونکی وايي ما ورڅخه د هارنښې وپوښتلې، ټولې نښې يې سمې وښودې، ما ورته هغه هارپه دې شرط وسپاره چې ماته به يوڅه بدله راکړي، خوهغه خپل امېل واخيست ، روان شو او شاته يې هيڅ نه کتل او ماته يې د يو درهم يا د خرماد پټرکي په اندازه هم څه را نه کړل.

ما له ځان سره وويل : ای الله ما خو دا کس ستا د رضا له امله پرېښود، ته ماته له هغه هم ښه بدله راکړې ! زياتوي چې له دې وروسته دسمندرپه لور وخوځېده، په يوې بېړۍ کې سپورشو، سخت تند باد راوالوته، چې له امله يې بېړۍ واوښته اوهغه کس په يوه وچه تخته سپورشو، چې باد به د اوبوپرسرښي او کيڼ اړخ ته غورځاوه، تردې پورې چې هغه يې يوې ټاپووزمې ته ورسوه، له بېړۍ کوزشو، ګوري چې هلته يوجومات دی، خلك په کې لمونځونه کوي، نوهغه کس هم ورننوت اولمونځ يې په کې وکړ، ګوري چې په مسجد کې د قرآنکريم څه پاڼې پرتې دي، هغه يې راواخسيتې اوپه لوسلتو يې پيل وکړ، کله چې د ټاپووزمې خلکوهغه وليد، نوپوښتنه يې ورڅخه وکړه چې ايا ته لوستل کولای شې؟ هغه ورته وويل هو! خلکو ورته وويل زموږ کوچنيانوته قرآن ورزده کړه . هغه شخص وايي په تنخواه مې ورته د قرآن زده کړه پيل کړه، بيامې يوه ورځ څه ليکنه کوله، نوهغوخلکوراته وويل خوښه دې نه ده چې زموږ بچوته ليك ورزده کړې ؟ ما وويل ولې نه! نوپه تنخواه باندې مې ورته ليك ښوونه هم پيل کړه. څه وخت وروسته يې راته وويل دلته زموږ په کلي کې يوه يتيمه ده، پلاريې ډېرښه انسان و، هغه مړشوی دی، خوښه دې نه ده چې هغه درته په نکاح کړو؟ ما وويل سمه ده، هغه يې هم راته په نکاح کړه، نوپه لومړي ځل چې زه له خپلې مېرمنې سره مخ شوم، ګورم چې هماغه امېل يې په غاړه و، کوم چې ماپه مکه کې پيداکړی و، ما ورته وويل که د دې هارحال راته ووايې ؟ هغې راته وويل، پلارمې يوه ورځ دا هارپه مکه مکرمه کې ورك کړی و، بيا يوچا پيدا کړی و او زما پلار ته يې بېرته سپارلی و، نوپلاربه مې هر وخت وروسته له لمانځه دا دعاء کوله چې کاشکې لورته مې الله (ﷻ) دهغه نېك سړي په څېرمېړه ورپه برخه

کړي، ما ورته ووېل هغه هارېي چې موندلی وهغه زه یم . نوهغه هارپه څومره ښه حلال ډول لاسته ورغی، ځکه چې یوځه یې د الله تعالی د رضا له امله پرېښي وو، نو الله (ﷻ) ورته دهغې ښه بدله ورکړه . رسول الله (ﷺ) وایی (( الله پاك دی او له پاکوشیانو پرته نورڅه نه قبلوي)) .

***

## له الله څخه پرته له بل چا نه مه غواړه

بېشکه چې د الله(ﷻ) مهرباني نژدې ده،هغه اورېدونکی اودعاء قبلوونکی دی، نیمګړتیاوې په موږ کې دي، موږ ډېراړ یو، الله ته باید زاري او ننواتې وکړو،باید ماڼیجن اوستړي نه شو، په موږ کې دې هېڅوک داسې نه وایي، چې سوال کوم خوسوال مې نه قبلیږي، په کار ده چې خپل مخونه ورته په خاوروکې سپېره کړو، الله ته غږ وکړو، په "یا ذالجلال والاکرام" دعاء پورې ځانونه ونښلوو، اود هغه ذات ښکلي نومونه اولوړصفتونه باربارووایو، ترهغې چې الله پاک موغوښتنه ومني او یا موهغه حالت په برخه کړي، چې هغه (ﷻ) یې زموږله پاره خوښوي ﴿پټ په زاریو له خپل رب نه غوښتنه وکړئ﴾.الاعراف۵۵:۷

یو داعي - دین ته رابلونکي- په خپلې یوې رسالې کې لیکلي چې یو مسلمان له خپلې کورنۍ سره بهرني هېواد ته د پناه اخیستلو له پاره ولاړ، بیا یې د هغه هېواد د تابیعت پاڼې غوښتنه وکړه، دروازې یې په مخ وتړل شوې، نو ډېرې هڅې یې وکړې، خپل ټول کوښښونه یي په کار واچول، چاسره یې چې پېژندل په دې اړه یې خبرکړل، خو ټولې لارې چارې یې ناکامې شوې، څه وخت وروسته له یوه پرهېزګارعالم سره مخ شو، هغه ته یې له خپل حال څخه سر وټکاوه،عالم ورته ووېل، د شپې په وروستۍ برخه کې پاڅېږه اوله خپل رب څخه دې وغواړه، بېشکه هغه د هرکاراسانوونکی دی . دا خبره د دې حدیث معنا هم ده، چې : (( کله چې ته څه غواړې، نوله الله څخه یې وغواړه، اوکله چې څه مرسته غواړې نوله الله نه یې غواړه اوپه دې پوه شه که ټول خلك راټول شي چې تاته ګټه دوررسوي، نوهېڅ ګټه درته نشي رسولای مګرهغه اندازه چې الله تعالی درته لیکلي وي )).

هغه سړی وایي پرالله قسم چې له دې وروسته ماخلکوته ورتګ او سپارښتنې پرېښودې، لکه څرنګه چې هغه عالم راته ویلي وو د شپې درېیمه برخه کې مې لمونځ پیل کړاوهم مې سهاربانګ نه مخکې وخت کې له الله (ﷻ) نه

خپله غوښتنه غوښتله، يوځوورځې وروسته ماخپله پخوانۍ غوښتنه چارواکوته بيا وړاندې کړه، داځل مې هېڅوك سپارښتنې ته هم ونه لټول، څو ورځې لا تېرې نه وې چې په خپل کورکې يوناڅاپي خبرراکړل شو، چې اړوندې ادارې ته غوښتل شوی يې اوتابعيت پانه يې راوسپارله، دا کارپه سختوحالاتوکې ترسره شو .

﴿ الله پرخپلوبنده ګانومهربان دی﴾. الشّورىٰ۴۲:۱۹

***

## څو ارزښتناکې شېبې

تنوخي (رحمه الله) ليکلي چې په بغداد کې يو وزير د يوې بوډۍ ښځې پرمالونوتېری وکړ، دهغې ښځې ټوله شتمني يې په زورخپله کړه، ښځې ورته ژړا اوستياني وکړې، له تېري کولوڅخه د لاس اخېستنې غوښتنه يې ترې وکړه، خو هېڅ اغېز يې پرې ونه کړ، له خپل ظلم څخه يې لاس وانه خيست، نه يې توبه وويسته، نو بوډۍ ورته وويل زه به هرومرو تاته خېرا وکړم، وزير د دې ښځې پر خبره ملنډې اوخندا وکړه، او ورته يې وويل: ته کولی شې د شپې په درېيمه برخه کې خېرا وکړې، وزير داخبره دظلم، غرور اومسخرې په ډول وکړه . بوډۍ ښځه ولاړه او د شپې په درېيمه برخه کې يې عبادت پيل کړ، لږ وخت لا تېرشوی نه و، چې وزيرله خپلې دندې څخه ګوښه شو، ټول مالونه يې ونيول شول، ځمکې اوشتمني يې ورڅخه واخيستل شوې، د هغو ناوړو کړنوله امله چې له خلکو سره يې کړې وې، په بازار کې ودرول شو اوپه دورو به وهل کېده، نوهغه بوډۍ يې ترڅنګه تېره شوه، ورته يې وويل، ډېرښه! تاماته د شپې د وروستۍ برخې دعبادت په اړه نصيحت کړی و، نوماد هغې ډېره ښه پايله وليده .

زموږ په ژوند کې دغه درېيمه برخه ډېره ارزښتناکه ده، زموږ قيمتي وخت دی، داهغه وخت دی چې زموږ رب (ﷻ) په کې داسې غږکوي : (( ايا څوك غوښتونکی شته چې څه ورته ورکړم ؟ څوك بخښنه غواړي چې بخښنه ورته وکړم څوك بلونکی شته چې بلنه يې ومنم )).

ما څوکاله ژوند تېرکړی، سره له دې چې زه اوس ځوان يم، په خپل ژوند کې مې زيات څه اورېدلي او ډېرو پېښو زما پر ژوند اغېزې کړې دي، چې زه به يې ټول عمرهېرې نه کړم . ماپه دې ټوله موده کې داسې څوك ونه مونده، چې هغه د خلاصون او اسانۍ په راوستو، مرسته اومهربانۍ کولوکې له ډېرنژدې

رب څخه نژدې وي، هغه مهال چې د خلیج حالت کړکېچن و، زه د ځینوخلکوپه ملګرتیا له "ابها"څخه په الوتکه کې ریاض ته روان شوم، کله چې الوتکه والوته، لږه شېبه وروسته موږ ته خبرراکړل شوچې الوتکه به د"ابها" هوایي ډګرته د څه تخنیکي ستونزو له امله بېرته راګرځي، الوتکه راکوزه شوه، د دوی چې څومره په توان کې وو هغه یې جوړکړل، الوتکه بېرته والوته، کله چې موږ ریاض ته نژدې شو او د الوتکې د کوزېدو وخت راورسېد، د الوتکې ټایرونه نه پرانیستل کېدل، الوتکې پوره یوساعت موږ د ریاض د ښارله پاسه وګرځولو، له لسوڅخه ډېرې هڅې وشوې، الوتکه به هوایي ډګرته راغله اود کوزېدوهڅه به یې وکړه، خوپایله به یې منفي وه، موږ ډېرخواشیني شو، زیاتوخلکوروحیه وبایلله او راپرېوتل، د ښځو ژړاګانې ډېرې شوې، ما ولیدې چې اوښکې پرمخونورابهېدې، موږ دځمکې او اسمان په منځ کې بند پاتې وو، مرګ ته موسترګې غړولې او د سترګوله رپ څخه موهم مرګ نژدې ګڼه، په دې وخت کې مې هرڅه زړه ته راوستل، خوما د نېك عمل په شان نورهېڅ ونه موندل، ټولوخپل زړونه د الله تعالیٰ اوآخرت لورته واړول، دنیا موبې ارزښته اوټیټه وګڼله، مینه مو ورسره ورکه کړه، په رېښتینو چغوکې ټولودا دعاء پیل کړه: (( لا اله الاّ الله وحده لا شریک له له الملک وله الحمد وهو علی کلّ شئ قدیر)).

هغه مهال یومشرپاڅېده، او ویې ویل چې باید الله(ﷻ) ته پناه یوسواو ورڅخه غوښتنه اوبخښنه وغواړو، اوالله (ﷻ) ته غاړه کېږدو. الله (ﷻ) د خلکوحال داسې بیانوي: ﴿ کله چې دوي په بېړۍ کې سواره شي، نوپه اخلاص سره له الله نه د خلاصون غوښتنه کوي﴾ . العنکبوت۲۹:۶۵

موږپه دعاګانوکې هغه ذات ته چې د اړانسان دعاء قبلوي، ډېرې زارۍ وکړې، لږ وخت لا تېرنه و، چې زموږالوتکه د یوولسم یا دولسم ځل له پاره بیا هوایي ډګرته راغله په دې ځل الوتکه په خیراوسلامتۍ سره ښکته شوه، کله چې موږ له الوتکې څخه کوز شو داسې وو لکه له قبرونوڅخه چې راوتلي وو، خولږ وخت وروسته زموږ نفسونه بېرته خپل ځای ته راغلل، اوښکې وچې شوې، د شونډو په سرنرۍ خندا ښکاره شوه، نود الله (ﷻ)مهرباني څومره ډېره ده ؟

شاعر وایي: موږته چې کله کوم ضرر را پېښ شي، نوموږ څومره ډېرالله پاک ته دعاء کوو، خوکله چې زموږ ستونزې له منځه ولاړې شي بیاموهغه رب هېرشي، کله چې په سمندرکې سفر کوو، نو ورته زاري کووچې بېړۍ موراته وژغوره، خوکله چې موږ ساحل ته ورسېږو، بیا یې حکمونه نه منو، کله چې په الوتکه کې په پوره ډاډ سپرېږو، اولاندې نه راغورځېږو، لامل یې

دا دی چې ساتونکی مو الله دی . ( دا یواځې د الله تعالٰی لطف اومهرباني ده او بس).

***

## ځوک موپه سخته کې په کاریږي

د سعودي عربستان یوې پخوانۍ ورځپاڼي "القصیم" د یوه د مشقي ځوان قېصه لیکلې ده : هغه ځوان غوښتل د الوتکې له لارې چېرې سفر وکړي، نو په همدې موخه یې د الوتکې سفرلیک هم واخیست، خپلې مورته یې خبر ورکړچې په فلاني ساعت الوتنه ده، هغه غواړي چې اوس ویده شي له مورڅخه یې وغوښتل چې باید د الوتنې له وخت څخه یې وړاندې له خوبه پاڅوي، هغه ځوان ویده شو، خومور یې چې د خبري سرچېنو له لارې د هوا دحالاتو د خرابوالي اورېدلي و، چې فضا وربځ اوسخت طوفاني بادونه هم شته، نوپرخپل همدغه یو زوی ووېرېده، د مهربانۍ له امله یې هغه په خپل وخت له خوبه ویښ نه کړچې له هغې الوتنې پاتې شي، کومه چې په ناسمه هوا کې ترسره کیږي، او د بېړني حالت د پېښېدو وېره هم شته، نوکله چې د الوتکې د الوتنې ټاکلی وخت تېرشو او ډاډمنه شوه چې الوتکه خو الوتلې ده، د زوی خونې ته ورغله چې هغه راویښ کړي، خوهغه له خواشینوونکې پېښې سره مخ شوه، ګوري چې زوی یې په خپله بستره کې مړ پروت دی . ﴿ ای پیغمبره! دوی ته ووایه ، له کوم مرګ نه چې تښتئ هرومرو ورسره مخ کیږئ، بیابه هغه ذات ته ورشئ، چې پټ اوښکاره ټول ورته څرګند دي، نوتاسوبه په خپلوټولودنیایي کړنوخبرکړي﴾. الجمعه ۶۲:۸

عام خلک وایي، فلانی له مرګ څخه تښتېده، خوپېرې واوښت، اودا هم وایي، چې نجات موندونکي ته په سمندرکې هم لارجوړیږي، خوکله چې د انسان د مرګ ټاکلې موده راورسیږي، نوهرشی کولی شي چې هغه ووژني .

***

## د مرګ له قېصوڅخه

شیخ"علي طنطاوي"په خپلو یادونو او اورېدنو کې یوه قېصه رانقلوي، چې په شام کې یوه سړي لارۍ چلوله، یوه ورځ ورسره د لارۍ په شاته شکرۍ کې یوسړی سپورشو، شاته په لارۍ کې د مړي له پاره یوتیار جوړ شوی تابوت ایښودل شوی او ورباندې د ضرورت له پاره یو ترپال هم پروت و . د لارې په

اوږدو کې باران پیل شو، تردې چې د لارئ ورستنئ برخې ته هم اوبه راننوتې، نوهغه وروستنی کس اړشوچې ځان له باران څخه خوندي کړي، نوپه تابوت کې ننوته اوځان يې په هغه تراټ کې پټ کړ، څه وخت وروسته يوبل کس همدې لارئ ته په لاره کې وخته او شاته د تابوت ترڅنګ کښېناست، خوپه دې پوه نه و چې په تابوت کې څوك شته، خوباران وريږي دا دوهم سړی داسې انګېري چې په موټرکې ګوښې همدی دی اوبل څوک ورسره نشته، ناڅاپه لومړي کس له تابوت څخه خپل لاس په دې نيت راوويست، چې باران ودرېدلی که نه، کله چې يې لاس راوويست نو د هغه دويم کس وربانده‌ې نظرشو، له ليدلو سره سم د هغه زړه وبوګنېده، سخته وېره ورننوته،ځکه هغه داسې وانګېرله، چې ګواکې مړی بېرته راژوندی شو، نود وېرې له امله بېواکه شو او له لارئ څخه لاندې پرېوته، د سرد دماغو برخه يې په ځمکه ولګېده ځای پرځای مړشو، نوالله تعالٰی داسې ټاکلې وه چې مرګ به يې په دې ډول اوپه دې وسيله ترسره کيږي . شاعروايي :
هرڅه په الهي فيصله سرته رسيږي اومرګ د انسان له پاره پندونه دي ډېرسترپندونه .

نو، بنده ته په کار دي چې تل مرګ په ياد ولري، مرګ پرې وربارد‌ی، د مرګ په لورکوښښ کوي اوسهاراوماښام مرګ ته سترګې په لار وي . په دې اړه د علي (رضي الله عنه) وينا څومره ښکلې، د تعجب وړ اوپه زړه پورې ده، وايي: آخرت زموږ په لور راروان او دنيا له موږ څخه تلونکې ده، او دغه دنيا اوآخرت دواړه زامن لري، نوتاسو د آخرت زامن شئ، نه د دنيا زامن، ځکه چې نن ورځ د کارده اوحساب نشته، اوسبا د حساب ورځ ده کارنشته .

له پورتنئ ويناڅخه موږ ته دا فايده رارسيږي، چې انسان بايد په دنيا کې د آخرت له پاره پوره تيار وي، خپل حالت جوړکړي، بيا له سره توبه وباسي او په دې پوه شي چې له زورور، ستر، مهربان اوعزت ورکونکي رب سره مخامخ کيږي، مرګ له چا نه هم د راتلواجازه نه اخلي، نه له چا سره مينه اونه اړېت غرېت کوي ، مرګ له راتګ نه مخکې چاته د خطرزنګ نه وهي .

﴿هېڅ نفس په دی نه پوهيږي، چې سبا ته به څه کوي اوپرکومه ځمکه به مړ کيږي ﴾. لقمان ۳۱:۳۴

***

## له خپلې نېټې به یوه شېبه وړاندې او وروسته نه شئ

شیخ "طنطاوي" د خپلویادونواولیدنوحیرانوونکوقېصوپه لړکې دا هم یاده کړې ده، چې یوځل اوږد بس له سورلیوڅخه ډک و، بس چلوونکي ښې اوکیڼ خوا ته کتل، ناڅاپه یې بس ودروه، سورلیو ورته وویل ولې ودرېدې؟ هغه ورته وویل هغه بوډا سړي ته ودرېدم چې له ورایه لاس خوځوي غواړي له موږسره سپورشي، ټولو وویل موږخوهیڅوك نه وینو! موټروان وویل هغه دی ورته ښه ځیرشئ ! سورلیو دېخوا په شان وویل موږخوهېڅوك نه وینو، بس چلونکي په ټینګارسره وویل دغه دی راغی له موږ سره سپرېږي، ټولو وویل: په الله قسم چې موږته خوڅوك نه ښکاري، په همدې جریان کې ناڅاپه موټروان دخپل بس په چوکۍ راپرېوته اومړشو، نېټه یې پوره شوه، مرګ یې راورسېد او دا یې د مړینې لامل و. ﴿ کله چې دمرګ نېټه راورسیږي، نو یوه شېبه هم وړاندې او وروسته کېږي نه ﴾. الاعراف ۳۴:۷

انسان له بوګنونکوشیانوڅخه ویرېږي، دمرګ له اټکلي ځایونوڅخه خپل زړه بایلي، خوبیا ناڅاپه له ډاډمنوځایونوڅخه ورته مرګ راشي . ﴿ منافقین هغه کسان دي چې په خپله له غزاڅخه پاتې شوي وو اود نوروخپلوانو او ورونوپه اړه به یې ویل، که زموږ یې منلې وای، نو وژل شوي به نه وای، ورته ووایه که تاسو رېښتیني یاست نو د خپل مرګ مخه مو ونیسئ ﴾. آل عمران ۱۶۸:۳

په موږکې د حیرانتیاخبره دا ده چې ترڅو بوږنونکي پېښې رامنځته شوي نه وي، ترهغې پورې له الله تعالیٰ سره د مخامخېدو، د دنیا له سپکوالي او ورڅخه د کډې کولوپه اړه فکرنه کوو .

***

## له الله پرته بیا هرڅوک درڅخه هېرشي

پر۱۳۱٤هـ ق کال مې له ریاض څخه "دمام" ښارته سفروکړ، په اټکلي ډول به دغرمې دولس بجې وې چې هلته ورسېدم، په هوایي ډګرکې کوزشوم، غوښتل مې هلته خپل یوملګری وګورم، خوهغه خپل کارته تللی و او له دندې څخه ناوخته راستنېده، نو یو وړوکی موټرمې کرایه کړاود ملګري د کار ځای ته ولاړم، بیا یوهوټل ته ولاړم کله چې ورننوتم، هلته مې زیات خلك ونه

لیدل، ځکه چې موسم برابرنه و، ما دهغه هوټل په څلورم پوړکې یوه کوټه په کرایه ونیوله، چې د هوټل له چاروکو او کارکوونکوڅخه هم لرې وه، هېڅوک راسره په هوټل کې هم نشته، خپلې خونې ته ننوتم، خپله لاسي بکسه مې د کټ له پاسه کېښوده او د اودس ځای ته ننوتم، دروازه مې ځان پسې بنده کړه، چې اودس مې بشپړشو،غوښتل مې دروازه پرانیزم، خو له بده مرغه هغه نه پرانیستل کېده، ډېرکوښښ مې وکړ خو بریالی نه شوم . زه په دغه تنګ ځای کې بند پاتې شوم، نه کړکۍ وه چې څوک ورنه ښکاره شي، نه تیلیفون و چې له چاسره اړیکې ونیسم، نه نژدې څوك و، او نه کوم ګاونډی و چې ورته غږ وکړم، په دې وخت کې مې الله (ﷻ) را په زړه شو، په خپل ځای کې شل دقیقې ودرېدم، خودا لږه موده راباندې داسې تېره شوه لکه درې ورځې، خولې راباندې راماتې شوې، زړه مې په لړزېدوشو، بدن مې په رپېدو راغی، ځکه یوخودا ځای نا اشنا او حیرانوونکی و، بله دا چې ناڅاپي ستونزه وه، اودلته تلیفون نه وچې کوم خپل یا ملګری خبرکړم، او پردغو ټولو سر بېره بده دا وه چې هغه یو ناوړه ځای و، په دغو شلودقیقوکې مې بېلابېل پندونه او یادونه مخې ته راغلل او ډول ډول پېښې مې راپه زړه شوې . شاعروايي : کله کله یوساعت ټول عمرتنګوي، اوکله یوځای ټوله ځمکه راتنګه کړي .

په پای کې مې دا فکر وکړچې دروازه ښه په زور ووهم، همداسې مې وکړل، په خپل خواراوکمزوري جسم مې دروازه وهل پیل کړل، په دې جریان کې راته څرګنده شوه، چې په دروازه کې یو اوسپنیز قید د ساعت ګر په څېرورو ورو پرانیستل کیږي، نومابه بیا بیا دروازه خوځوله، چې ستومانه به شوم کېښناستم بیا به پاڅېدم پیل به مې وکړ، نوالله تعالی رحم وکړ، دروازه پرانیستل شوه او زه ترې داسې راووتم، لکه له قبرڅخه چې راوتلی یم، خپلې کوټې ته ولاړم د الله(ﷻ) شکر اوستاینه مې وکړه او دانسان کمزوري او ناچاري را په زړه شوه، مرګ ورپسې څرنګه ګرځي راګرځي، همدارنګه راته په خپلوځانونو او عمرونوکې نیمګړتیاوې راپه زړه شوې او له آخرت څخه بې پامه کېدل رایاد شول . ﴿ له هغې ورځې نه ووېرېږئ چې تاسو په کې الله ته ورګرځئ ﴾. البقره ۲ :۲۸۱

﴿هرچېرې چې یاست مرګ به درپسې وي ان که تاسوپه کلکو برجورو قلاګانو کې اوسېږئ ﴾. النّسآء ۴:۷۸

ما په دې اړوند نا اشنا شیان لوستلي او اورېدلي دي، لکه یوکس د مرګ لور ته روان شي، خوهغه ورته په ژوند بدل شي، بل کس د ژوند خوا ته

درومي، خوهغه ورته په مرگ بدل شي، بل كس داسې وي چې درملنه غواړي خوپه هغو درملوكې ورته هلاكت وي، څوك له خپل ځان څخه تېرېږي د مرگ په ډگرونوكې د مرگ پلټنه كوي، خو وژغورل شي، نوپاكي ده هغه خالق ذات لره چې هغه د ښه تدبيراوحكمت څښتن دى .

***

## كله ناكله ځانونه په دردونو جوړيږي

د كارناموځينوليكونكويادونه كړې، چې يوسړى په پښو شل شوى و، په خپل كوركې كښېنول شو، ډېركلونه يې د ناروغۍ له امله پرېشانه، نااميده او ستړي تېركړل، طبيبان يې له درملنې څخه ناچاري شول اوپه دې اړه يې د هغه كورنۍ ته ځواب وركړ. يوه ورځ داسې پېښه شوه چې دكور له چت څخه يې پرسربانديې يو لړم راولوېده، لړم يې پرسرڅوځله په نېشونو ووهه، بيايې څوځله وچېچه، نو بدن يې د پښو له پنجو نه نيولې ترسره پورې وخوځېده، هماغه و چې په اندامونو كې يې ژوند بيا وخوځېده او روغتيا يې د جسم په ټولوبرخوكې وخوځېده، لومړى يې خپله يوه پښه وخوځوله گوري چې هغه خوځيږي، بياپه دواړو پښو ودرېده، بيا په كوټه كې وگرځېده، وروسته يې د كوټې دروازه پرانيسته، ښځه اوماشومان يې راغلل، گوري چې هغه ولاړدى، هك پك شول، نژدې ووچې د دغې ناڅاپي او حيرانوونكې پېښې له امله بې هوښه شي، خپله ټوله قېصه يې ورته وكړه. نو پاكي ده هغه ذات لره چې د دغه سړې درملنه يې په دې ډول وكړه . دا قېصه مې يو طبيب ته وكړه، هغه ومنله او ويې ويل، چې د طب له نظره يوه زهرجنه ماده شته چې د هغې د زهرو تېزوالى په څه كيمياوي موادوكميږي بيا پرې د شلانو يا گوزڼ وهلو درملنه كيږي، نو لوى دى هغه لطيف او مهربانه رب چې هېڅ داسې رنځ يې نه دى رالېږلى مگر درمل يې هم ورته رالېږلي دي .

***

## د اولياآوو كرامات

"صله بن اشيم" چې يو زاهد اوعابد تابعي و، د عربي جزيرې شمال ته د الله تعالٰى په لار كې د جهاد له پاره وځي ، شپه پرې راغله يوه ځنگل ته ورننوت چې لمونځ وكړي، د ونو په منځ كې اودس كوي اوبيا لمانځه ته پورته

کېږي، په دغه وخت کې یو داړونکی اوڅیرونکی زمری چېغه کوي، ورو ورو د "صله" په لورنژدې کېږي کله چې ورته وررسېده ورڅخه تاو را تاوشو، خو"صله"په عبادت بوخت و اوپه قراره یي دوه رکعته لمونځ ترسره کړ، سلام یې وګرځوه، بیا یې زمري ته وویل که تاته زما د وژنې امرشوی وي، نوما وخوره! او که درته امرنه وي شوی، نوما پرېږده چې له خپل رب سره مناجات وکړم، له دې خبرې سره زمري خپله لکۍ وخوځوله او روان شو،"صله " بېرته خپل لموځ ته دوام ورکړ . د دغه ډول پیښوپه اړه تاته په کار دي چې د " البدایة والنهایة " او د تاریخ نور کتابونه ولولې . د اصحابو د کارنامواو د تاریخ په کتابونو کې د رسول الله (ﷺ) د غلام چې "سفینه" نومېده قېصه هم شته، چې له څوملګروسره د سمندرغاړې ته تللي وو، کله چې وچې ته ورسېدل، نوګوري چې یو زمری یي په خوا ورروان دی، "سفینه" ورته وویل ای زمریه! زه د رسول الله (ﷺ) د اصحابوله ډلې څخه یم او خادم یې هم یم زه او دا نور هم زما ملګري دي، ستا په موږ هېڅ زور نه رسیږي، نو زمري د دې خبرې په اورېدوسره شا وروارولوه، په تېښته شو او داسې یوه تېزه چېغه یې وکړه چې ټوله سیمه یې وکړنګوله، له کبرجن پرته نورهېڅوک له دغو پیښوڅخه انکارنه شي کولی، که نه نو د الله تعالٰی په کړنوکې چې په خپل مخلوق کې یې ترسره کوي ډېرې بېلګې شته، که خبره نه اوږدېدلای، نومابه په لسګونوداسې قېصې درته کړې وای، چې هغه د دې موضوع په اړوند په سم او روغ روایت سره نقل شوي دي . زما په اند له پورتني حدیث څخه همدومره پوهېدل په کاردي چې هلته یو مهربان اوحکیم رب شته چې هېڅ شی ورڅخه پناه نه دی، بېشکه د الله(ﷻ) حلم، لطف اواطلاع په بنده ګانو پسې هرځای ته رسېدونکي دي . ﴿هروخت چې درې کسان پټې خبرې کوي نوڅلورم یې الله وي، اوکه پنځه کسان پټې خبرې کوي نو شپږم یې الله وي، که د پټو خبرو کوونکوشمېرلږ وي او یا ډېر، هرچېرته چې وي الله ورسره هملته شته دی﴾. المجادله ۵۸:۷

***

## الله ښه وکیل اوګواه دی

امام بخاري (رحمه الله) په خپل صحیح کتاب کې نقل کړي، چې په بني اسرآئیلوکې یوسړي له چا څخه زردیناره پوروغوښت، پور ورکوونکي ورته وویل: ایا کوم ګواه لرې؟ هغه ورته وویل، زه له الله تعالٰی پرته بل هېڅ ګواه نه لرم پور ورکوونکي وویل، چې الله(ﷻ) د شاهد په توګه ډېرکافي دی، بیا یې ورته وویل څوك ضامن لرې؟ هغه ځواب ورکړ، چې زه خو له الله تعالٰی پرته بل هېڅ

ضامن نه لرم، نوپور ورکوونکي ووېل، الله (ﷻ) د ضامن په توګه کافي دی، بیا يې ورته زردیناره ورکړل، پور اخیستونکی ولاړ او د دواړو په منځ کې ځرګنده نېټه وټاکل شوه.

کله چې ټاکلې نېټه راورسېده، نو پوروړی له کوره روان شو چې زر دیناره حقدارته ورسوي، خود دواړوپه منځ کې یو سیند و، کله چې پوروړی سیند ته ورسېده، نو د بېړۍ په لټه کې ولاړ دی چې په کې سپورشي اوهغه کس ته ځان ورسوي، خوهېڅ يې ونه موندل، په دې کې شپه په رارسېدو شوه، د شپې هم ډېر وخت ودرېده، خوهېڅوك يې ونه موندل چې له ځان سره يې یوسي، نو ویې ویل ای الله! هغه کس له ماڅخه ګواه غوښتی و، ما پرته له تا بل هېڅوك ونه مونده، هغه له ما څخه ضامن غوښتی و، خوما له تا پرته بل هېڅوك ضامن پیدا نه کړ، نو ای الله ته هغه ته زما دا پیغام ورسوه! بیا يې یو وچ لرګی راوخیست په هغه کې يې سوری وویست، هغه زردیناره اوپیغام يې په کې کېښودل، لرګی يې نهرته وغورځاوه، هغه لرګی د الله تعالی په امر، مهربانۍ او پاملرنه په اوبوکې روان شو، پور ورکوونکی د نهر په هاغه بله غاړه ولاړ دی او له شوې ژمنې سره سم د پوروړي ملګري انتظاريې کاوه، خوهېڅوك يې ونه موندل، نوپه زړه کې يې ووېل، غوره به دا وي چې زه خپل کورته خاشاك ـ ګرګۍ ـ یوسم، ناڅاپه يې هغه لرګی واخیست اوکورته يې یوړه چې مات يې کړ، ګوري چې دینارونه اولیك په کې پروت دی . دا ځکه چې ګواه رب (عزوجل) مرسته وکړه، ضامن رب خپل ضمانت په سمه توګه ترسره کړ، هغه په خپل شان کې ډېرلوړ دی . ﴿ مؤمنان باید پریو الله توکل وکړي ﴾. آل عمران ۳:۱۶۰ ﴿ که مؤمنان یاست، پرالله تعالی توکل وکړئ﴾. المآئده ۵: ۲۳

***

## لنډه دمه

شاعر" لبید" وايي : له خپل نفس سره چې کله خبرې کوې، دروغ ورته وایه، ځکه نفس ته رېښتیا ویل د انسان هیلې زیانمنوي . شاعر"بستي" وايي، ته پرېشانه اوستومانه طبیعت هوسا اوستوماني يې ختمه کړه، اوهغه په څه ټوکو بوخت کړه، خوکله چې نفس خوشحالوې نوپه دومره اندازه يې هوساکړه لکه په خوراک کې چې مالګې ته اړتیا وي .

شاعر"ابوعلي بن شبل" وايي : په کومه اندازه چې جسم خوندي ساتل کيږي په هماغه اندازه په کې نفس او روح پاتې کيږي، لکه اور چې په لوښي کې ساتل کيږي، نوته نفس په دردوونکي ناهيلۍ مه وژنه، اومه هغه ته خپلې هيلې او اميدونه اوږدوه . د سختيوپه وخت کې ورسره د سوکالۍ ژمنه اوپه سوکالۍ کې ورسره د سختۍ ژمنه کوه، دهغې رغونه دا او هغه ( ژمنه اودارول) ګډل کيږي او د درملو اغېز هلته ډېروي چې يو له بل سرخلط - ګډوډ- شي، يعنې چې هغه دارو د څو بېلابېلوشيانو له ګډون څخه لاس ته راغلي وي .

***

## پاکه روزي خوره چې دعا دې قبوله شي

سعد بن ابي وقاص(رضي الله عنه)دغه حقيقت پېژندلی و اوله هغو لسو کسانوڅخه و، چې دنيا کې پرې د جنت زېرى شوى و،اومحمد (ﷺ) ورته د نبنې ويشتلو او دعاء قبلېدو دعاء کړې وه، نوکله به يې چې دعاء وکړه هغه به قبلېده . د بېلګي په ډول عمر(رضي الله عنه) د اصحابو يو پلاوى د دې له پاره واستوه، چې په کوفه کې د سعد (رضي الله عنه) د عدل په اړه داډ ترلاسه کړي، نو د کوفې خلکودغه پلاوي ته د سعد (رضي الله عنه) ستاينه وکړه، خوکله چې دغه پلاوى د بني عبس د قبيلې مسجد ته راغی يوکس پاڅېد او ويې ويل، ايا تاسوله ما څخه د سعد په اړه پوښتنه کوئ ؟ هغه خوپه دعوه اوفيصله کې انصاف نه کوي، برابرنه دی روان او له خپل رعيت سره سم چلند نه کوي، نو سعد (رضي الله عنه) وويل: ای الله! که دا کس د ځان ښودنې له پاره پاڅېدلی وي، نوته يې سترګې ړندې، عمر يې اوږد اوپه فتنوکې يې اخته کړې . هماغسې وشول، الله تعالی يې دعاء ومنله، د هغه کس عمر دومره اوږد شو چې وريځې يې پرسترګو راپرېوتې، هغه به د کوفې د ښارپه کوڅوکې پيغلوته مخې مخې ته کېده، هغوی ته به يې سترګکونه وهل او ويل به يې په فتنوکې اخته بوډا يم، چې د سعد(رضي الله عنه) خبرا را باندې لګېدلې دي . دا ستر ويار له دې امله د سعد (رضي الله عنه) په برخه شوی و، چې له الله (عزوجل) سره يې اړيکې ټينګې، نيت يې ورسره رېښتينی او د الله پرژمنو يې پوره باور درلود.

په "سير اعلام النبلاء" کې د سعد (رضي الله عنه) په اړه دا هم ليکل شوي، چې يوه ورځ يوسړی پاڅېد اوعلی (رضي الله عنه) ته يې کنځلې کولې، سعد(رضي الله عنه) له علي(رضي الله عنه) څخه زياته دفاع- ننګه- وکړه، خوهغه کس کنځلې اوږدې کړې، نو سعد(رضي الله عنه) وويل : يا الله! څرنګه

چې ستا خوښه وي ته مې له دې ځخه خلاص کړې، سمدلاسه یو اوښ چې له کوفې ځخه راخلاص شوی و او تېزې منډې یې وهلې له هېڅ شي ځخه یې مخ نه اړوه تر دې چې خلکوته راورسېده، دخلکو منځ ته ورننوت اوهغه کس ته یې ځان ورسوه، چاچې سعد ته سپکې سپورې ویلې،هغه یې تر پښو لاندې کړاود ټولو خلکو په مخکې یې وواژه .

﴿ بېشکه موږ به هرومروله خپلوپیغمبرانو او مؤمنانوسره د دنیا په ژوند اوهغه ورځ کې مرسته کووچې ګواهان په هغه ورځ کې ودرېږي ﴾. الغافر۴۰:۵۱

لیکوال وایي : زه تاته دا قېصې د دې له پاره وړاندې کوم چې ستا یقین ښه پوخ شي، د الله تعالی پرژمنو دې باورکلك شي، نوبیا ورته لاس پورته او زاري وکړې اوپه دې پوه شه چې مهرباني یواځې د الله (ﷻ) ده، الله درته په خپل کتاب کې وایي : ﴿ له ما ځخه غوښتنې وکړئ زه یې قبلوم ﴾. الغافر ۴۰:۶۰

﴿کله چې زما بنده ګان زماپه اړه درځخه پوښتنه کوي، نو زه ډېر نژدې یم، ځوک چې راځخه غوښتنه لري زه یې غوښتنه منم﴾.البقره ۲:۱۸۶

"حجاج بن یوسف" یوه ورځ حسن بصري (رحمه الله) د رېږولوپه موخه وغوښته، حسن بصري په داسې حال کې ورغی چې په ذهن کې یې د الله تعالٰی له مهربانۍ پرته نورهېڅ نه وو، الله (ﷻ) ته په زاری بوخت شو، په ښکلونوموناو لوړو صفتونویې ورته غږ وکړ، په پای کې الله تعالٰی د "حجّاج" زړه کې بدلون راولي، وېره په کې اچوي، حسن بصري (رحمه الله) لا نه و ورغلی چې حجّاج یې هرکلي ته ځان چمتوکړی و، دروازې ته ورپاځېده، ښه تود هرکلی یې وکړ او بیا یې هغه له خپل ځان سره پرکټ باندې کښېناوه، په ږیره یې ورته عطرمړل پیل کړل، ورسره یې نرمې اومهربانه خبرې پیل کړې، نوښکاره خبره ده چې دا کار یواځې اویواځې د الله (ﷻ) له خوا له ایل کېدلو نورځه نه دي ! د الله(ﷻ) لطف په ټوله نړۍ کې روان دی او شتون لري، هغه که د انسانانونړۍ ده او که د حیواناتو وچه ده او که لمده ده، شپه ده او که ورځ، ساکښ دی که بې ساه .

﴿هېڅ داسې شې نشته چې د الله ستاینه به نه وایي، خوتاسوپرې نه پوهېږئ بېشکه الله پاك د زغم خاوند او بخښوونکی دی﴾. الاسراء ۱۷:۴۴

صحیح روایت دی چې سلیمان(علیه السلام) ته د مرغانوپه خبروپوهه ورکړل شوې وه، یوه ورځ له الله (ﷻ) ځخه د باران غوښتنې په موخه ووته، نود

کوراومسجد ترمنځ يې په لاره کې يو مېږی وليده، چې خپلې پښې يې پورته نيولې اوالله (عزوجل) ته يې دعاء کوله، هغه رب ته يې زاري کوله چې د ورکړې ځښتن دی، ښېګڼه اومهرباني کوي، اوباران وروي، نوسليمان(عليه السّلام) وويل، ای خلکو! بېرته کورونوته وګرځئ، ځکه چې له تاسونه مخکې دعاء شوې ده او تاسوته اړتيا نشته! نود هغه مېږي د دعاء له برکته باران په وربېدوپيل وکړ، دا هغه مېږی وچې کله سليمان(عليه السلام) له خپل سترلښکر سره يوځای روان و، په خبرو يې پوه شوی و او دغه مېږي خپلو نورو مېږيانوته داسې لارښوونه کوله :

﴿ ای مېږيانوخپلوکورونوته ننوځئ هسې نه چې سليمان اودهغه لښکرمو ناپامه ترپښولاندې ونه ځپي، سليمان دهغه په خبره وخندل ﴾. النّمل ١٨:٢٧

دېروخت د الله (ﷻ) لطف اومهرباني ددغه ډول ساکښو له برکته منځته راځي . "ابويعلی" په خپل کتاب کې قدسي حديث رانقلوي : (( زما دې پرخپل عزت او جلال قسم وي که لمونځ کوونکي سپين ږيري، تي رودونکي ماشومان او ګيا خوړونکي څارويان نه وی، ما به پرتاسو باران نه وی ورولی)). (يعنې اعمال مو دومره خرېږدي چې د باران مستحق هم نه ياست) ژباړن .

***

## هر شی د الله (ﷻ) ستاينه او پاکي بيانوي

هُد هُد ـ ملاچرګك ـ چې د مرغانوله ډلې يومرغه دی، هغه هم خپل رب پېژندلی، هغه ته تابع شوی، الله (ﷻ) د سليمان (عليه السلام) په اړه وايي : ﴿ د مرغانو پلټنه يې وکړه نو ويې ويل، څه چل دی چې چرګك نه وينم، ايا هغه ورك شوی دی ؟ زه به هغه ته سخته سزا ورکړم او يا به يې سرغوڅ کړم يا به ماته ـ د نه شتون ـ په هکله ښکاره دليل رواړي، لږځنډ وروسته چرګك راغی او ويې ويل، ما داسې معلومات لاس ته راوړل چې لا تراوسه تاسوته نه دي ځرګند شوي، تاسوته مې د "سبا" له سيمې نه يو پوخ خبر راوړي دی، ما وليدل چې هغه ملکه د سبا او قوم يې پرته له الله څخه لمرته په سجده پرېوځي، شيطان ورته خپلې کړنې ښايسته کړي او له نېغې لارې يې اړولي دي، نوځکه بېلارې شوي دي . ولې الله ته سجده نه کوي چې د اسمانونواوځمکې پټ شيان را وباسي او په هغه کاردېرښه پوهېږي چې تاسويې پټ يا ښکاره کوئ. له الله پرته بل

دعبادت وړ نشته، هغه د لوی عرش څښتن دی، سليمان وويل اوس به موږ وګورو چې ته رېښتينی يی اوکه دروغجن، زما دا ليك يوسه ته يې وروغورځوه! بيا ترې په څنګ شه او وګوره چې غبرګون يې څرنګه دی ﴾. النمل ۲۷ :۲۰ـ ۲۸

نود چرګك له امله دغه اوږده قېصه منځته راغله او دا قېصه په دغو سترو تاريخي پايلوسرته ورسېده، ځکه چې هغه مرغه خپل رب پېژندلی و . يو عالم وايي، حيرانتيا ده! چرګك له فرعون څخه هم ځيرك و، فرعون د پرېمانی او ښه ژوند په حالت کې ايمان رانه وړ، نوهغه ته بيا په سخته کې ايمان ګټه ونه رسوله اوچرګك چې د پرېمانی په وخت کې پرخپل رب ايمان راوړی و، نوهغه ته په سختی کې ايمان ګټه ورسوله . چرګك وويل : ﴿ ولې هاغه الله ته سجده نه کوي چې پټ شيان څرګندوي ﴾. اوفرعون وويل : ﴿ تاسوته له خپل ځانه پرته بل خدای نه پېژنم ﴾. القصص ۳۸:۲۸

نوبدبخته انسان هغه دی چې چرګك هم ورڅخه هوښياروي، مېږی ورڅخه هم خپله تګلاره ښه پېژني، او احمق انسان هغه دی چې په مخ کې يې لارې تيارې وي، رسۍ ګانې يې ورباندې شکېدلې وي او ټول اندامونه يې له ګټې څخه ايسار وي : ﴿ زړونه يې شته خو د پوهې کارترې نه شي اخيستلی، سترګې لري خوحق ورباندې نه شي ليدلی،غوږونه يې شته خوحق ورباندې نه شي اورېدلی ﴾. الاعراف ۱۷۹:۷

د شهدو د مچېوپه نړۍ کې هم د الله تعالٰی مهرباني تل خوځيږي، خيرپه کې روان دی اود الله پاک پاملرنه دهغې وړې او خوارې حشرې ترشا هم ترلې ده دغه مچۍ له خپل چک څخه د رب په قدرت وځي خپله روزي لټوي، له پاك بوټې پرته پربل څه نه کښېني، د ګلانوشيره روي، د ګلابود ګل زياته تږې وي، عامو ګلانوسره مينه لري، نوبيا په څوډوله عسلوباندې بارخپل چک ته په داسې شربت سره ورګرځي چې په هغه کې خلکوته روغتيا پرته وي اود بېرته راګرځېدو پرمهال نبغ په نبغه خپلوچکونوته ننوځي، يو د بل چک ته نه ورځي، خپله لاره ترې نه ورکيږي، اوپه خپلو لارو کې نه اوتريږي . په دې اړه الله (ﷻ) وايي چې :

﴿ ستارب دشاتو مچۍ ته الهام وکړچې په غرونو، ونو اوهغه لوړچتونه چې خلك يې جوړوي ځانونو ته په کې ځالې جوړې کړئ، بياهرډول مېوې وخورئ اوپرهغه لارباندې ځئ چې ستا سو رب درته اسانې کړي دي، له ګېډو

څخه يې رنګارنګ شربت راوځي چې د خلکوله پاره په کې روغتيا ده، په رښتيا چې د فکرمن قوم له پاره په دې کې دعبرت لويه نښه شته ﴾. النّحل ۱۶:۶۸- ۶۹

ستا نېکبختي له دې قېصو، خبرو او پندونوڅخه دا ده چې پرالله پوره يقين ولرې اوپه دې پوه شې چې هلته د الله پاک يوپټ اونرى لطف شته، نوله دې امله بايد ته يواځې له هماغه ذات څخه غوښتنه اواميد ولرې او پرتا باندې په الٰهي برخليک، بشپړه ژمنه او اسماني قانون کې دا لازمي شوې، چې ته به يواځې الله پاک ته سجده کوې، دهغه شکربه پرځاى کوې، دوستي به ورسره کوې اوپه دې پوهېدل هم پرتا لازم دي، چې د الله تعالٰی دا بېشمېره مخلوق او دا ارته نړۍ هم د الله(عزوجل) په مقابل کې تاته هېڅ ګټه نه شي دررسولى، دوى ټول په خپله بې وسه اونېستمن دي، ټول الله تعالٰی ته اړدي، دوى په خپله سهاراوماښام خپله روزي، نېکمرغي، روغتيا، اړتياوې، مالونه اومنصبونه له هغه الله څخه غواړي چې د هر شي مالك ـ څښتن- دى .﴿ اى خلکو! تاسو الله ته اړ ياست اوهغه له هرڅه بې پروا او ستايل شوى دى ﴾ . فاطر۱۵:۳۵

بايد په دې پوه شې چې پرته له الله تعالٰی بل هېڅوك نشته چې ستا لاربښود او مرستندوى شي، تا خپل دوست وګڼي، ساتنه او ژغورنه دې وکړي، يا درسره ښېګڼه وکړي . تاته په کاردي چې هرومرو خپل زړه يو اړخ ته واړوې، خپل رب په ټولو اړخونوکې يواځې وګڼې، هغه په خپل ذات، عبادت، مرسته، غوښتنه، هيله او داسې نورو ټولوکارونوکې يواځې وګڼې . سربېره پردې ته بايد د بشر قدراو ارزښت هم وپېژنې اوپوه شې چې مخلوق خالق ته، فنا کېدونکى تلپاتي ته، نېستمن شتمن ته او کمزورى زورور ذات ته ضرورت لري، نو، قوت، شتمني، بقا اوعزت په پوره او هراړخيزه معنا د الله (ﷻ) په واک کې دي اوبس . کله چې ته په دې پوه شوې نوبيا يې په بنده ګۍ اونژدېوالي باندې نېکمرغه اوخوشحاله شه . که ته بيا ورڅخه بخښنه وغواړې درته بخښنه کوي، که توبه وباسې هغه قبلوي، که ورڅخه غوښتنه وکړى هغه مني، که روزي غواړې روزي درکوي، که مرسته غواړې نو درسره مرسته کوي او که ته يې شکرپرځاى کړې هغه به درباندې خپلى لورېنې نورې هم زياتې کړي .

***

## له الله څخه راضي اوسه

رسول الله (ﷺ) وايي چې دا کلمات بايد وويل شي (( په دې خوښ يم چې الله مې رب، اسلام مې دين اومحمد (ﷺ) مې پيغمبر دی )).

د پورتنۍ ژمنې له غوښتنوڅخه يوه دا ده، چې په بشپړه توګه له خپل رب څخه خوښ اوسې، يعنې، پرحکمونو، پرېکړو اوبرخليک يې خوښ شې، هغه که خيروي او که شر، خوږه وي اوکه ترخه، خو پرالهي پرېکړه اوبرخليک باندې د يقين ترڅنګ د نفس په خوښه تګ سم کارنه ښکاري، په دې معناچې پرپرېکړو او برخليکونوباندې يواځې هغه مهال خوښ اوسې چې کله ستا له غوښتنوسره سمې ترسره شوې وي، اوکه ستا له غوښتنواوهيلوسره برابرې نه وې، بيا نوپه هغه حالت کې ناراضه کيږې، چې دا ډول کړنلاره د مسلمان له شان سره نه ښايي . پخوا ځينې داسې خلك هم تېرشوي، چې له خپل رب څخه به په سوکالۍ کې خوښ او د کړاونوپرمهال به ناخوښه وو، په نعمتونوکې به يې دين ته غاړه اېښې وه، خو په نېستۍ کې به يې د کينه کښنو او ورانکارو لاره نيوله .

﴿ که ګټې ورته مخه کړه نو ډاډه شي اوکه په ازمېښت کې پرېوځي نو بېرته شاته ـ کفر ـ ته ورګرځي، دنيا اوآخرت يې بايلوده﴾. الحج ٢٢:١١

د اسلام په لومړني پړاو کې د عربي کوچېانوهم همدا حال و، هغوی به هغه وخت اسلام ته د خيراو رحمت دين وايه، چې کله به باران وشو، شوده به ډېرشو، ګياه به شنه شوه، نو بيا به يې دين ته غاړه کېښوده، اودينپالنه به يې ټينګه وه، خوکله به چې حالت سرچپه و، وچکالي، قحطي اود مالونو اوڅارويو تباهي به يې وليده بيابه يې له اسلام څخه سرغړونه کوله اوخپل دين به يې پرېښوده. لنده دا چې دهغوي اسلام په نفسي غوښتنوپسې د تګ اسلام و، خو بل اړخ ته نور داسې خلك هم وو، چې له الله تعالی څخه خوښ وو، ځکه هغه څه چې له الله (ﷻ) سره دي هغه يې غوښتل، د الله (ﷻ) ديدار، فضل اومهرباني غواړي او د قيامت ورځې له پاره هڅه کوي .

شاعروايي : ای الله ته مې د پالونکي او پيدا کوونکي په توګه خوښ کړی يې، غوره شوی اومنل شوی پيغمبرمې د لارښود او چراغ په توګه خوښ کړی دی، داسې ژوند غواړم چې قرآن يې لارښوونه کړې وي، که نه نوبياستا په لارکې داسې مړينه غواړم چې دښمنان پرې نه خوشحاليږي .

الله (ﷻ) چې څوک د خپلې بنده گۍ له پاره غوره کړي وي اوهغه بيا د اسلام په دغو مقرراتوناخوښ يا خفه وي، نوهغه د دې جوګه دی چې له نه ختمېدونکي اوتلپاتې بربادۍ سره مخ شي .

﴿ "بلعم بن باعورا" ته مورږد خپل کتاب پوهه ورپه برخه کړې وه، خو هغه ورڅخه ووته، شيطان ورپسې شو، تر دې چې د بېلارو اوسرکښانوله ډلې نه وگڼل شو﴾. الاعراف ۷:۱۷۶

﴿ که الله په کې د خبرې منلو وړتيا ليدلې وی، نوهرومروبه يې - د حق خبره - وراورولې وه اوکه وراورولې يې هم وی، نو- کافرانو- به ترې مخ اړولی وی﴾. الانفال ۸:۲۳

د الله (ﷻ)او د پيغمبرپه پرېکړوخوښېدل د دين يوه ستره دروازه شمېرل کيږي، له همدې لارې څخه الله (ﷻ) ته نژدې کسان چې په اسلام خوښ، حکم ته يې غاړه ايښې او پرېکړوته يې لاس په نامه دي، جنت ته ننوځي. رسول الله (ﷺ) د "حنين" په غزا کی نيول شوي غنيمتونه داسې ووېشل چې ډېره برخه يې يو شمېر قومي مشرانو اوچا چې تازه ايمان راوړی وهغوته ورکړل، خو انصارصحابه يې پرېښودل، په دې خاطرچې (ﷺ) په انصارو باندی د رضا، ايمان، يقين اوخيرله اړخه پوره ډاډمن و، له وېش څخه د انصارو بې برخېتوب داسې فکرپيدا کړ، چې گواکې ملامت شوي دي، خو اصلي راز ورته پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) روښانه کړی نه و، بيا يې راټول کړل او د هغه وېش له رازڅخه يې خبرکړل او ورته يې وويل چې پيغمبرله تاسوسره دی اوله تاسوسره مينه لري اودا چې مالونه يې په نورو ووېشل، يواځې له اسلام سره د زړونو د ټينگښت په موخه وو اوبس، ځکه چې د نوو مسلمانانوپه يقين او ايمان کې لا کمزورتيا شته، او په انصارو پورې تړلې خبره دا ده، چې پيغمبر(ﷺ) ورته وويل، ايا خوښه مونه ده چې خلك له ځانونوسره پسونه او اوښان يوسي او تاسوخپلوکورونو ته رسول الله (ﷺ) يوسئ ؟ انصارځانگړي او نورخلک عام وگڼي دي . الله دې پرانصارو، دهغوی پرزامنو او د زامنوپرزامنو- لمسيانو- ورحميږي، که خلك په يو ناو يا دره کې روان شي او انصارپه بل ناو کې روان شي، نو زه به هرومرو د انصارو په ناو او د انصارو په دره کې روان شم . نو انصارخوښ او ډاډه شو، اود الله (ﷻ) او د رسول الله (ﷺ) له خوښۍ څخه برخمن شول، هغه خلك چې د الله خوښۍ ته سترگې غړوي او د هماغه رب پراخ جنت ته يې تلوسه وي، نوبياهغه خلك له ټولوشتمنيوسره سره دنيا د الله(ﷻ) په خوښۍ نه بدلوي اونه يې دهغه له سترو پېرزوينو سره برابروي .

يوکوچی رسول الله (ﷺ) ته راغی اومسلمان شو، پيغمبر(ﷺ)هغه ته لږڅه مال ورکړ، نو رسول الله (ﷺ) ته يې وويل، ای د الله رسوله! ما خو له تا سره د مال له پاره بيعت نه دی کړی، رسول الله (ﷺ) ورته وويل، نوپه څه شي باندې دې راسره بيعت کړی دی؟ هغه کوچي وويل ما له تاسره په دې تړون کړی، چې ماته يو نری غشی راشي اوپه دې ستوني مې ولګيږي اوهغه خوا ورڅخه بوټ ووځي، نو، رسول الله (ﷺ) ورته وويل که ته له الله سره رېښتيا وايې، نوالله (ﷻ) هم له تاسره رېښتونولي پالي ( يعنې شهادت به دې د غشي له امله په برخه شي). ژباړن.

همداسې وشول، کوچی غزا ته ولاړ، په مېدان کې يې يوغشی په ستوني ولګېده، له څټ څخه يې ووته او پروردګارته په داسې حال کې ورغی چې له ده څخه الله (ﷻ) خوښ او دی له الله څخه راضي و . شاعر وايي : نه مال، نه ورځې، نه دنيا او نه دا د سرو زرو اوجواهرو خزانې، نه د بدبه، نه شان اوشوکت، نه دا هسکې اودنګې مانۍ، نه هيلې، نه دا ترټولو له قيمتي مالونواوځمکوڅخه لاس ته راغلي خوراکونه، دا ټول هېڅ دي، هرښه شی ېناکېدونکی دی او تلپاتې د الله هغه ذات دی چې له ټولو پېرزوکوونکو څخه د خوراعزت او ورکړې څښتن دی .

يوه ورځ رسول الله (ﷺ) مالونه وويشل، نوځينې داسې خلکو ته يې چې د کمزورې ايمان څښتنان، امانت بربادوونکي او له اخلاقوڅخه بې برخې ووهم څه اندازه مال ورکړ، په داسې حال کې چې رسول الله (ﷺ) ځينې داسې کسان له وېش څخه بې برخې پرېښودل، چې د الله تعالٰی په لارکې د هغوی تورې کندو شوې وې، مالونه يې لګېدلي وو، په جهاد او له اسلام څخه په دفاع کې يې ځانونه زخمي شوي وو، رسول الله (ﷺ) له وېش څخه وروسته په مسجد کې پاڅېده او خلکوته يې د مال د وېشل شوې کړنلارې راز داسې څرګنده کړ: (( زه ځينوهغوخلکو ته مال ورکوم چې الله تعالٰی يې په زړونوکې بې صبري اود دنيا طمع اچولې ده، اوچې الله (ﷻ) يې په زړونوکې ايمان اوخيراچولی دی هغه خلک له وېش نه بې برخې پرېږدم، چې "عمروبن تغلب" هم له دغې ډلې څخه دی)).
عمروبن تغلب چې په دې وخت کې هلته و، وايي: د رسول الله (ﷺ) دا خبره په دنيا اوهغه څه چې په دنيا کې دي نه ورکوم .

بېشکه د الله (ﷻ) څخه خوښېدل او د رسول (ﷺ) پرېرېکړوباندې خوښي څرګندول همدې ته وايي . يواځينۍ غوښتنه يې له الله (ﷻ) څخه اجراو ثواب و، نو د يوه صحابي په اند دا دنيا يې د رسول الله (ﷺ) له يوې خوشحالوونکې خبرې سره نه برابروله. بېشکه چې له اصحابوسره د رسول الله (ﷺ) ژمنې د الله تعالٰی

له اړخه د ثواب، رضامندۍ اوجنت ژمني وې، رسول الله (ﷺ) له چا سره د مانۍ، باغ، د کوم زون او ولایت ژمنه نه کوله، بلکې هغه (ﷺ) به داسې ویل، که چا داسې کاروکړ، نوهغه به جنت ته ځي، کله به یې وویل، له ماسره به په جنت کې ملګری وي، ځکه هغه مال لګول، قرباني ورکول او هغه کوښښونه چې په دې لار کې یې کړي دي، دهغې بدله په آخرت کې ورکول کیږي، یعنې دنیا او شتمني یې د داسې سپېڅلوهڅوپه بدل کې کافي نه ده، ځکه چې دنیا ارزانه سودا او بې ازښته دولت او ناخوښه زیار دی .

امام ترمذي روایت کوي چې یوځل عمر(رضي الله عنه) د عمرې کولوهوډ وکړ، نو له رسول الله (ﷺ) څخه یې اجازه وغوښته، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل:(( ای وروه مونږ له خپلې دعاء څخه هېرنه کړې))

د دې خبرې ویونکی رسول الله (ﷺ) دی، چې د بشریت سترلارښود، له ګناهونوڅخه پاك اوسپېڅلی هغه امام دی چې له ځانه هوایي خبرې نه کوي، بلکې د هغه خبره ډېره ښکلې، قیمتي او سترشان لري . د رسول الله (ﷺ) له دې خبرې نه وروسته عمر(رضي الله عنه) وویل : دا یوه داسې خبره ده چې زه ورسره ټوله دنیا اود دنیا شتمني نه برابروم . نو ته هم داسې وانګېره چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خپله تاته هم ویلي وې چې ای وروره ته مونږ له خپلې دعاءڅخه مه هېروه . شاعروایي : مونږخپل وطن پرېښود او کاروان ویده شو، په داسې حال کې چې شپه له نیمایي څخه اوښتې وه، خوای تر ټولوعزتمن اوسخي انسانه (ﷺ) زه ستا د یاد له امله ویده نه شوم، ځکه چې تا زړونه له محبت څخه ډك کړي او د شپوبانه دې د سپوږمۍ په رڼا سره رانجه کړي و . له الله عزوجل څخه د رسول الله (ﷺ) رضامندي په داسې اندازه کې وه چې هغه د ستایونکوله ستاینې څخه پورته ده، ځکه چې هغه د الله (ﷻ) څخه د شتمنۍ، نېستۍ، سوکالۍ، جنګ، زور، کمزورۍ، روغتیا، ناروغۍ، سختۍ او اسانۍ په ټولوحالاتوکې خوښ و . رسول الله (ﷺ) د یتیمۍ په تریخ اوغمجن پړاو کې ژوند کړی دی، خوبیاهم پرهغه حال خوښ و، هغه (ﷺ) له نېستۍ سره مخ شوی دی، ان تردې چې ترټولوخرابه خورما یې هم نه درلوده چې خوړلې یې وی، د ډېرې لوږې له امله یې په ګېډې پورې تیږه هم تړلې وه، له یو یهودي څخه یې وربشې په پوراخیستې وې اوخپله زغره یې په بدل کې ورسره ګرو ایښې وه، په پزکي ویده شوی دی، چې پرمبارکه شا یې خاپونه څرګند وو، داسې درې ورزې پرې هم تېرې شوي چې د خوراك له پاره یې څه نه درلودل، خوهغه له دغو ټولو ستونزوسره له الله تعالی څخه خوښ و . ﴿ الله هغه برکتناك ذات دی که یې خوښه

شي نوله دې شیانوڅخه ښه ښکلي باغونه چې ویالي به ورلاندې رواني وي درکولای شي اومانۍ به درکړي ﴾. الفرقان ۲۵ :۱۰

نو، پیغمبر(ﷺ) له خپل رب څخه د هغه لومړني تکرپرمهال هم خوښ و، له کومې ورځې چې د الله (عزوجل) په ټولي کې ولاړ و او نوره ټوله دنیا یې په مخ کې داسې ودرېده، چې په خپلو اسونو او پلو کسانو، مال، ښکلا، زینت، غرور او دبدبې په واسطه یې دجنګ لار ونیوله، خو له دغو ټولو سره سره له خپل رب څخه راضي و . هغه له الله تعالیٰ څخه په ډېرستونزمن اوسخت حالت کې هم خوشحاله و، د ګران (ﷺ) تره اومېرمنه یې خدیجه (رضي الله عنها ) په یوه کال کې وفات شول، ډېره سخته ستونزه ورته رسېدلې ده، د دروغجن نوم پرې وتپل شو، پرناموس یې تور ولګول شو، رېښتینولي یې په شك وویشتل شوه، تردې چې هغه ته کوډګر، لېونی اوشاعرهم وویل شو، خو رسول الله (ﷺ) په هغه ورځ هم له الله تعالیٰ څخه راضي و په کومه ورځ چې له خپل ټاټوبي څخه ویستلوته اړ ایستل شو، په هغه ځای کې چې یې خاپوړې او لوبې کړی وې، مکې مکرمې ته یې کتل، له سترګو یې اوښکې بهېدې اوداسې یې ویل : (( ښېشکه ته ماته د الله (عزوجل) په ځمکوکې ترټولوګران وطن یې، که ستا اوسېدونکو له تاڅخه زه نه وی ویستلای، نوزه به نه وم وتلی . هغه له خپل رب (عزوجل) څخه په هغه وخت کې هم راضي و، په کومه ورځ چې طایف ته د اسلام بلنې په موخه ورغی، خود طائف اوسېدونکو له اړخه له بدغبرګون او ناوړه هرکلي سره مخ شو، په ډبرو وویشتل شو اوتکې سرې وینې یې ترپښو پورې وبهېدې،خوهغه بیاهم له الله (ﷻ) نه راضي و . له الله (عزوجل) څخه په هغه حال کې هم خوښ و کله چې له مکې څخه مدینې ته په پرېشانۍ سره ولاړ، چې ترشا یې مشرکان په اسونوځغلېدل هرچېرته چې به تللو نوپه لاره کې به یې ورته خنډونه پیداکول، له خپل پالونکي څخه په هره سیمه هر وخت اوهرځای کې راضي و، رسول الله (ﷺ) د اُحد غزا ته ځي، هلته یې سر زخمي کیږي، مخکیني غاښونه یې ماتیږي، تره اونورسپېڅلي ملګري یې په شهادت رسیږي، لښکریې له ماتې سره مخ کیږي، خوپه دې حال کې هم خپلو اصحابو ته وایي : (( زما شا ته قطار ودرېږئ چې خپل ـ رب ـ پالونکی وستایم )).

په داسې حال کې چې مشرکان، منافقان اوکافران یې پرخلاف یو موټی شوي دي، خوبیاهم له الله(ﷻ) څخه خوښي څرګندوی، خپل کارالله ته سپاري، توکل پرې کوي اومخې ته یې کلک ودریږي، نوله الله(ﷻ) څخه د راضي کېدوپه

بدل کې ورته دا ایت په جائزه کې ورکړل شو : ﴿ ژر دی چې الله به تاته هغه څه درکړي چې ته پرې خوښېږې﴾ . الضّحیٰ ۹۳:۵

***

## د خورما په دره کې الله تعالیٰ ته فریاد

لکه مخکې چې یادونه وشوه، رسول الله(ﷺ) له مکې مکرمې څخه چې کورنۍ، تېراو استوګنځی یې په کې و، په ډېرظلم سره وویستل شو او وشړل شو، نوهغه طائف ته ولاړچې هلته خلك اسلام ته راوبولي، خوهلته هم له انکارسره مخ شو، دروغجن ورته وویل شو، تیږې پرې وورول شوې، وکړول شو، سپکې او سپورې ورته وشوې، دواړه سترګې یې په اوښکوکې ډوبې شوې، قدمونه یې په پاکو وینوسره شول او زړه یې دغمیزې په تریخوالي وخوټېده، چاته پناه یوسي ؟ له چا نه غوښتنه وکړي ؟ چاته فریاد وکړي اوچاته ورشي ؟ ښکاره خبره ده چې هغه به قوي او قهّار رب، مرستندویه او زوروړ ذات ته پناه وړي .

رسول الله (ﷺ) مخ په قبله شو، خپل رب ته ودرېده، شکر یې اداء کړ، بیا یې ژبه مبارکه د سخت فریاد، رېښتیني زارۍ او د زړه له کومې د دعاء په عبارتونو وخوځېده، دعاء یې وکړه، ویې ژړل او د خپل مظلومیت اودردمن حال فریاد یې ورته وکړ، د رسول الله (ﷺ) هغه دعاء چې په طائف کې د "النخله" په شپه خپل رب ته کړې وه داسې ده : (( ای الله ! زه د خپلې ناتوانۍ، د حیلې د کمښت او د خلکوپه وړاندې دخپلې بې قدرۍ فریاد تاته کوم، تر ټولوستر رحم کوونکی او د کمزورو رب یې، ته زما رب یې، ته مې چاته سپارې ؟ هغه پردي او بېګانه ته چې تېرۍ او بدچلند راسره کوي او یا مې هغه دښمن ته سپارې، چې تا هغه ته زما معامله سپارلې ده ؟ که ته راڅخه خفه نه یې نو بیا مې پروا نشته، خو ستا بخښنه ماته ترټولو خورا پراخه ده، زه ستا د (سپیڅلي) مخ په هغه نورباندې چې تیارې ورته روښانه شوي اود دنیا او آخرت کار پرې سم شوی دی له دې څخه پناه غواړم چې پرما باندې ستاغضب نازل شي، او یا ستا د ملامتۍ جوګه وګرځم، یواځې تاته زاري کوم، چې ته راڅخه راضي شې او له تاپرته بل د زور او توان څښتن نشته )).

***

## د اسلام د لومړني دور يوځو پېرزوينې

﴿ الله هغه وخت له مؤمنانوڅخه خوښ شوچې له ونې لاندې يې له تاسره تړون وکړ، د زړونو حال يې الله ته ښه معلوم و، نوځکه يې ډاډمن کړل او ډېره نژدې بريا يې ورپه برخه کړه ﴾. الفتح ۱۸:۴۸

دا هغه هدف دى چې د ايمان خاوندان يې هيله من دي، رېښتيني مسلمانان يې غواړي اوبريالي خلک د الله(ﷻ) د خوښۍ حاصلولوته لېواله دي، ځکه چې د الله تعالٰی له رضا څخه نورهېڅ قيمتي شی نشته . الٰهي رضا ترټولوموخوستره موخه او لوړه پېرزو ده . په پورتني آيت کې د "رضا" لفظ ياد شوی دی په داسې حال کې چې بل ځای د بخښنې لفظ کارول شوی دی . ﴿ تر څو ستا مخکيني او وروستني ګناهونه وبخښـي ﴾. الفتح ۲:۴۸

په بل آيت کې د توبې لفظ راغلی دی : ﴿ په رېښتياچې الله پاك پرپيغمبر، مهاجرينو‌او انصارو باندې لورېينه وکړه ﴾. التّوبه ۱۱۷:۹

اوپه څلورم آيت کې د "عفوې" لفظ ياد شوی دی : ﴿ الله (ﷻ) تاته بخښنه کړې ده ولې دې ـ دوه مخوته ـ اجازه ورکړه﴾. التّوبه ۴۳:۹

دلته په دې ځای کې حقيقي رضا ذکرشوې ده، نو الله (ﷻ) ورڅخه ځکه راضي شوچې له تاسره يې د ونې لاندې بيعت وکړ او الله تعالٰی پرهغه څه چې د دوی په زړونو کې وو پوه دی، نو دوی بيعت په حقيقت کی د رېښتني ټولواک الله (عزوجل) د راضي کولواود خپلوقيمتي روحونو له پاره چې له تن څخه يې ووځي ترسره کړی و، هغه بيعت يې د ګرانوځانونو په قيمت ترسره شو، يعنې نفسونه يې د الهي ذات د خوښۍ قرباني شي چې يوازې او زورور ذات دی .

لنډه دا چې بيعت د ژوند او وجود په موخه ترسره شوی و، ځکه چې د بيعت کوونکو اصحابوپه مرګ کې د شريعت ژوندون اوپه شهادت کې يې د اُمت بقاء پرته ده، اوپه تګ کې يې هغه لومړنی ميثاق ـ تړون ـ چې د ټولوانسانانو روحونو پرې اقرارکړی دی خوندي پاتې کيږي .

الله (ﷻ) يې د زړونوپه ټينګ ايمان، سپېڅلي نيت، او بشپړې رېښتينولې خبر و، بېشکه ستومانه ، ستړي، بې خوبه، وږي تږي، زيانمن، خفه اوتنګ شول، خوبياهم الله تعالٰی ورڅخه خوښ شوی و. بېشکه چې خپل ټبر، کورنۍ، مالونه، کورونه اولادونه يې پرېښودل، د بېلتون تريخوالی او د ناشنايۍ سوز، د

سفر او کډې وړلو راوړلو ناخوالې یې وزغملې، خو بیاهم الله (ﷻ) ورڅخه راضي شو. بېشکه چې له کورونوڅخه تېښتې ته اړ ایستل شو، وشړل شو، دانه وانه، ستړي ستومانه شول، خوالله (ﷻ) ورڅخه راضي شو. آیا د دغومجاهدینواو د اسلامي اُمت ننګیالیو بدله باید د پسونو، غوایانو او اوښانو غنیمتونه وي ؟ ایا له دین څخه د دغه ډول سربښندونکو اوساتندویانو مکافات باید مالي او دنیایي شیان وي ؟ آیا ته ګومان کوې چې له دغه ډول غورو انسانانو څخه د جوړې ډلې او ټولي ځورېدلي زړونه به د ګوتوپه شمارپه یو څو روپو، باغونو او یا په ښکلو ماڼیو یخ شي؟ نه هېڅکله هم نه! د الله (ﷻ) رضامندی باندې راضي کیږي ، په بخښنه یې خوشحالیږي اوپر دغه ایت یې زړونه یخیږي : ﴿ د صبرپه بدل کی یې جنت او د ورېښموجامې ورکړی، هلته به یې په تختونوتکیه کړې وي، نه به په کې د ګرمۍ اونه به سخته یخني احساسوي، دجنت د ونوسیوري به پرې ځوړند اومېوې به یې په بشپړډول په خپل واك کې وي، د سپینو زرو لوښې او ښیښه یې ګیلاسونه به ورته د ځښلو له پاره وړاندې کیږې، د سپینو زرو ښېښې به د جنت ساقیانو په بشپړډول اندازه کړي وي﴾.الانسان ۷۶ :۱۲-۱۶

***

## که د اور پرسکروټو ولاړ وی بیاهم الله څخه راضي شه

له "بني عبس" قبیلې څخه یوسړی د خپلو ورکو اوښانوپسې له کوره ووته، درې ورځې له کورڅخه دباندې و، هغه یوشتمن سړی و، الله (ﷻ) ورته زامن، لوڼي، ډېرمال، اوښان، غویان اومیږې ورکړې وې، له خپل ټبراو مال سره د بني عبس قبیلې په کلي کې په یو پراخه کورکې د یوه خوړترڅنګ په پوره سوکالۍ، داډ او پراخۍ کې یې ژوند تېروه، پلار او زامنو دا فکرنه کوه چې یوه ورځ به پېښې دوی ته راځي اوغمیزې به یې له تباهۍ سره مخ کوي . شاعروایي : ای د شپې په لومړۍ برخه کې خوشحاله خوب کوونکیه! بېشکه پېښې خوکله د پېشنمي په وخت کې هم پېښیږي . نو د هغې کورنۍ لویان اوکوچنیان ټول د خپلو ټولومالونوترڅنګ ارام ویده وو، پلاریې له کورڅخه بهر د اوښانو پلټنه کوله، ناڅاپه ورباندې الله تعالی داسې سخت نړوونکی سېلاب راوست چې په هېڅ شي اړ نه و، له هېڅ شي څخه یې مخ نه ګرځوه، سترسترګټونه اوخاورې یې را په مخه کړي وو، د شپې په وروستۍ برخه کې سېلاب پردغه کورنۍ باندې راپېښ شو او ټول یې په مخه کړل، کوریې ورته له بېخه ونړوه، مالونه یې له ځان سره روان کړل، په خپلوڅپو کې یې ترې روحونه وویستل، په لږ وخت کې داسې شول چې هېڅ نوم اونښان یې پاتې نه شو اود تاریخ او خلکود داستانونو یوه برخه

وګرځېدل پلار يې درې ورځې وروسته خپل کلي ته راغی، خوهغه هېڅ انسان ونه لیده، نه يي د کوم ژوندي انسان او يا اشنا شي غږ واورېده، هغه ځای هوارډاګ شوی و، يا الله ! دا څومره ستره غمیزه ده! نه مېرمن شته، نه زوی او نه لور، نه اوښ شته، نه پسه او نه غوا، نه دينارشته، نه درهم اونه جامې، هېڅ نشته دا خوستره پېښه ده!اوغمیزه لاپسې غټېږی، له اوښانوڅخه يې يو اوښ چې ترېدلی و، يو خوا او بل خوا په منډه و، خاوند يې کوښښ وکړچې هغه راونیسي، له لګې څخه يې راونیوه، خواوښ د شا له خوا هغه په مخ باندې په لغته ووهه، په دواړوسترګو يې ړوند کړ، هغه چې په صحراء کې يواځې وچغې يې پیل کړې، چې کوم کس پیدا شي او يوې خواته يې يوسي، څه وخت وروسته يوباندېچې خبرشواو ورغی، له لاسه يې ونیوه په دمشق کې يې د وخت خلیفه ولید بن عبدالملك ته ورساوه اوله پېښې يې خبرکړ، خلیفه ورته وويل: ته څرنګه يې؟ هغه وويل زه له الله تعالیٰ څخه راضي يم . دا يوه ستره خبره وه چې هغه مسلمان وکړه، هغه په خپل زړه کې ایمان اوتوحید ته ځای ورکړی و، نوهغه د پوښتونکو پوښتنو او دهغوخلکو له پاره چې وعظ اوعبرت ته اړ دي دعبرت نښه اوبېلګه ده . په دې قېصه کې زموږ د استدلال ځای له الله تعالیٰ څخه د بنده رضا ده اوهغه څوك چې الٰهي برخلیک باندې ناخوښه وي اوهغه ته تن نه ږدي، نو دا ډول کسان کولی شي يا د ځان له پاره په ځمکه کې کومه سمڅه ولټوي، يا دې کومه پوړۍ پیدا کړي چې اسمان ته پرې وخېژي او يا دې له دې ایت سره سم عمل وکړي﴿ د اسمان په لور دې يوه پوړۍ کېږدي بیا دې ښه وګوري چې ايا هغه لاراوچل چې دغه شخص يې لري قهر ورڅخه لرې کولی شي ﴾.الحج ۲۲:۱۵

***

## لنډه دمه

"ابوعلي بن شبل" په شعر کې وايي : کله چې اندېښمن شوې نوخپل ځان په پېټوهیلوقرارکړه، ژمنه ورسره وکړه، ځکه چې د زړه ګټې په ژمنوکې وي، هیله د نا امیدۍ مخې ته سپرکړه، چې وختونه ستا پرېشاني ورکه کړي، له ملګروڅخه دې خپل حال اوخفګان پټ وساته، ځکه چې ستا ملګري په اصل کې ستا غمازان او پټ دښمنان دي، په راتلونکي وخت کې د پېښوله پېښېدوڅخه مه وېرېږه، ځکه چې له پېښوڅخه وړاندې وېرېدل په حقیقت کې له اصلي مرګ څخه ترمخه يوبل مرګ دی، لکه څرنګه چې خوشحالي خپلوخاوندانوته همېشه نه پاتې کېږي، نو اندېښنه هم تل نه پاتې کېږي، که نفسونوخپل عقلونه نه تېرایستلی، نود هیلو خاوندانوته به يې ژوندون نه ستایلی . ***

## پرېکنډه هوډ

﴿ کله چې هوډ وکړې، نوپرالله توکل وکړه، بېشکه الله(ﷻ) توکلیان خوښوي﴾. آل عمران ۳ :۱۵۹

زموږډېرخلك داسې دي چې د پرېکړې پرمهال زړه نازړه وي، چې له همدې امله بیا د پرېشانۍ، حیرانتیا، شك او د زړه نازړه کېدوښکارشي اوهمېشه له درد او ذهني کشمکش سره مخامخ شي . انسان ته په کاردي چې لومړی له نورو سره مشوره وکړي، استخاره - له الله تعالیٰ څخه دې خیروغواړي - له ځان سره دې لږه شېبه فکروکړي، نوکله چې په ډېرګومان باندې ورته کوم فکر اولاره ښه وبرېښېده بیا دې په هماغه کارپیل وکړي، هېڅ ډول دربغ دې نه کوي، مشوره او استخاره دې پرېږدي، ځکه چې د مشورې اواستخارې وخت نورتېرشو، اوس د عزم -هوډ- وخت دی، تصمیم دې ونیسي، له پرېکړې څخه دې کارواخلي، تر څو چې د زړه نازړه کېدو اوتشویش ژوند پای ته ورسوي. رسول الله (ﷺ) د اُحد د غزا په ورځ په داسې حال کې چې پرمنبرناست و له خلکوسره یې دغزا په اړه سلا کوله اواصحابو ورته د تګ مشوره ورکړه، نوپیغمبر(ﷺ) خپله زغره واغوسته او خپله توره یې هم را واخیسته، اصحابوورته وویل : ای د الله رسوله! کېدای شي چې موږ مجبورکړی یې ؟ نو که ته په مدینه منوره کې پاتې شې غوره به نه وي ؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وویل (( ترڅوچې الله تعالیٰ دخپل پیغمبراودښمن په منځ کې غوڅه پرېکړه نه وي کړې پیغمبرته نه ښایي چې خپله اغوستې زغره بېرته وباسي )). پرهمدې بنسټ رسول الله (ﷺ) د تګ په هکله غوڅ تصمیم ونیوه او روان شو. بېشکه چې کار شک او زړه نازړه کېدو ته اړتیا نه لري، بلکې کلك هوډ او عملي ګام ته اړتیا لري، ځکه چې مېړانه، سربښندنه، زړه ورتوب اوسالاري په دې کې ده چې انسان غوڅ او پرېکنډه هوډ وکړي . رسول الله (ﷺ) د بدر د غزا پر مهال هم له اصحابوسره د جګړې کولومشوره وکړه. ﴿ ای پیغمبره له خپلواصحابوسره مشوره وکړه﴾. آل عمران ۱۵۹:۳ ﴿مؤمنان خپلوکارونوکې یو له بل سره مشوره کوي ﴾ الشّوریٰ ۳۸:۴۲

هغوی ورته دغزا کولو مشوره ورکړه، نو رسول الله (ﷺ) هم عزم وکړ اود غزاپه لور یې عملي ګام واخیست اود هېڅ شي پروا یې ونه کړه. بېشکه چې په یوکارکې وړاندې وروسته کېدل فکرته زیان رسوي، همت سړوي، هوډ کمزوری کوي، زیار اوهڅې دانه وانه کوي، مزل یې سستوي، د دغې ناروغۍ درملنه یواځې په کلک هوډ ، ټینګ قدم او استقامت باندې کېږي .

لیکوال وایي : زه ډېرداسې خلك پېژنم چې هغوی په وړو خبرو او بې ارزښته مسئلو کې زړه نازړه او وړاندې وروسته کېږي، زما په اند د دې ستونزې بنسټیز لامل دا دی چې خپله د دغوخلکونفسونوته او څوک یې چې په شا او خواکې دي د شك روح ننوتلی دی، دوی په خپل لاس کمزوری ته اجازه ورکړې ده چې روحونو ته یې لار پیدا کړي، نوهماغسې شوه چې ورته ورسېده، همدوی ذهني ګډوډۍ ته د دې لاره برابره کړې ده چې ذهنونه یې وګوري، نوهماغه وچې تشویش یې د ذهنونونداره وکړه . په حقیقت کې تاته په کاردي چې پېښه یا موضوع پوره وڅېړې، په کې ځیرشې، د نظر له خاوندانوڅخه په کې نظر وغواړې او د اسمانونواو ځمکو له رب څخه په کې خیر وغواړې، بیا نو په مخه ورځه، مه وروسته کېږه، اوکوم کارچې تاته ښه برېښېدلی وي له ځنډه پرته یې ژر تر ژره تر سره کړی .

د رسول الله (ﷺ) له وفات څخه وروسته د ابوبکرصدیق (رضي الله عنه) د خلافت په دوران کې له اسلام څخه دبېرته وتلوفتنه رامنځته شوه، ابوبکرصدیق (رضي الله عنه) مرتدینوسره د جګړې په اړه د خلکونظرونه اخیستل نوټولو خلکو ورته د جګړې د نه کولونظرورکړ، خوپه خپله د صدیق خلیفه سینه د غزا کولو خوا ته پراخه شوې وه، ځکه چې په دې کارکې د اسلام سرلوړي، له اسلام څخه د سرکښنه ډلوتباهي اود فتنې بېخ ویستل موجود وو، نود الله (ﷻ) له ورکړشوي نور- عقلي رڼا- څخه په کاراخیستلوسره دې پایلې ته ورسېده چې جګړه کې خیر دی، په خپل نظرکلك ودرېده اوخلکو ته یې وویل، زما دې پرهغه ذات قسم وي چې زما نفس یې په واک دی، زه به هرومرو له هغه چاسره وجنګېږم څوک چې د لمونځ اوزکات ترمنځ توپیرکوي، که دوی - مرتدین - له ماڅخه هغه د اوښ د غاړې د تړلو پړی هم ایسارکړي، چې رسول الله (ﷺ) ته به یې په زکات کې ورکوه نو زه به له هغوی سره هم پرې وجنګېږم . عمر(رضي الله عنه) وایي : زه چې پوه شوم الله (ﷻ) د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) سینه جګړې ته پراخه کړې، نو وپوهېدم چې دا جګړه دحق ده. ابوبکر(رضي الله عنه) په خپل پاك اومبارک نظرسره چې نه په کې چل او نه په کې کوږوالی و جګړه پیل کړه او بریالی شو . نو، ترڅوبه موږ په خپلوکارونوکې وړاندې وروسته کېږو، ترڅو به موږ په خپلوځایونو کې اوړو را اوړو او ترڅوبه په تصمیم نیولوکې زړه نازړه کېږو؟

شاعر وایي : که ته یوه مفکوره لرې نود هوډ ښتن اوسه، ځکه چې په زړه نازړه توب کې نظرله منځه ځي، د منافقانوطبیعت دادی چې هغوی تل تکلاره

ورانوي، ځکه چې هره تګلاره باربارځېږي اوپه خپلونظرونوکې بیا کتنه کوي .
﴿ که ـ منافقان ـ له تاسو سره غزا ته وتلي وی، نو له ورانکاری پرته به یې بل څه نه ووکړي، اوستاسوپه منځ کې به یې فتنه اچوله ﴾. التّوبه ۹:۴۷

﴿ دوی هغه کسان ووچې خپلوملګروته به یې ویل، چې په خپله دوی له جګړې څخه پاتې شوي وو، او ویل به یې که یې زموږمنلې وای نو وژل شوي به نه وی ورته ووایه،که تاسورېښتیني یاست،نودخپل مرګ مخه ونیسئ﴾.آل عمران ۳:۱۶۸

دوی د تل له پاره له (شاید) لفظ سره ملګري او له (کاشکې) سره مینه کوي او پر(کېدای) شي عاشقان دي، ټول عمریې په وړاندې وروسته کېدو، دوه مخې او ژر دی چې داسې به وشي کې تېرکړ .

﴿منافقان د اسلام او کفرپه منځ کې زړه نازړه دي، نه په بشپړه توګه مسلمانانوته ورمات دي اونه کافرانوته﴾. النسآء۴:۱۴۳

کله له موږاو کله له هغوی سره، نن دلته سبا هلته، لکه څرنګه چې د حدیث شریف لفظ دی :(( لکه د ګډو د دوو رمو په منځ کې ترپدلې مېږه )). هغوی د ستونزو پر مهال وایي : ﴿ که موږپه جنګ پوهېدلی نوله تاسوسره به موملګرتیا کړې وه ﴾ . النّسآء ۴:۱۶۷

خود الله (ﷻ) سره هم دروغ وایي اوله خپلوځانوسره هم، هغوی د ستونزې په وخت کې پټېږي او د ګټې او اسانی پرمهال څرګندېږي . له هغوی څخه یونفرپیغمبر(علیه السلام) ته وویل، ماته اجازه راکړه اوپه فتنه کې مې مه اچوه! یعني بېشکه چې دغه شخص لا له پیله د ناکامۍ هوډ کړی و . هغوی د احزاب په غزا کې رسول الله (ﷺ) ته وویل : ﴿ زموږ کورونه بېځوکه دي- الله پاک یې دا پلمه دروغ ګڼي او وایي ـ نه! کورونه یې بېځوکه نه دي﴾.الاحزاب ۳۳:۱۳

یعنې دا پلمه دروغ ده، په حقیقت کې له مسوولیت(جهاد) اوڅرګند حق څخه ځان ګوښه کول غواړي .

## د اُحد د غر په څېر ټینګ اوسه

ټینګښت، فکرکول، پرېکړه او هوډ د مؤمن له خویونوڅخه شمېرل کېږي الله (ﷻ) وایي: ﴿بېشکه د ایمان خاوندان هغه څوک دي، چې پرالله او رسول باوري شوي وي او بیا په کې شک نه کوي ﴾. الحجرات ۴۹:۱۵

**خو د هغو نورو په هکله دا ایت سمون کوي : ﴿هغوی په خپله شکمنه لار کې وړاندې وروسته کیږي﴾ .التّوبه ۹:۴۵**

**دوي تل په خپلوفیصلوکې شکمن وي، تل په شا ځي، له حق څخه مخ اړوونکي او د ژمنو ماتوونکي دي، نو ای بنده! کله چې درته حق وځلېده، ګومان دې زورور اود ګتې پله دې درنده شوه، نو بیا تاته په کاردي چې بې له ځنډه ګام اوچت کړې. شاعر وایي : د کاشکې ، ژر دی او شاید ټکي پرېږده، بلکې د داسې تورې په څېرچې د اتل په لاس کې وي روان شه .**

**یوسرې چې دخپلې مېرمنې د طلاق ـ خوشې کېدو- په اړه زړه نا زړه و او د مېرمنې له لاسه د دوه ترخو پېښوپه منځ کې و، نوپه همدغه اړه د مشورې له پاره یوه پوه کس ته ورغی، هغه ورڅخه وپوښتل چې تا له دې مېرمنې سره څو کاله ژوند تېرکړی دی؟ هغه ځواب ورکړ: څلورکاله، نوحکیم ورته وویل ایا څلور کاله کیږي چې ته زهرڅښې !؟ دا سمه ده چې په ستونزمن حالت کې به له صبر، زغم او انتظار څخه کاراخلې، خو دا ترڅو؟ ځیرك اوهوښیارانسان په دې پوهیږي چې فلانی کارشونی دی که ناشونی، روغ دی که کوږ، دوام کولی شي که یې نه شي کولی، چې داسې ده نو باید تصمیم ونیسي .شاعروایي : نفس چې کوم شی نه خوښوي، نودرمل یې بېړنیزېبلتون دي .**

**دخلکوله حالاتواوکړنوڅخه داسې څرګندیږي، چې د شك، فکر او زړه نازړه توب د پېښېدوځایونه یې ډېروي، خوهغوی ته چې ترټولوزیات دا حالت پېښیږي،هغه څلورځایونه دي :**

**لومړی : د زده کړې په برخه کې د ځانګړي تخصص ـ څانګې- ټاکل دي، په دې اړه دغه کس په دې نه پوهیږي چې کومه څانګه وټاکي، نو ډېروخت ورڅخه دلته تېرشي او زه خو ډېر داسې زده کوونکي هم پېژنم چې هغوی د دې سوچ له امله چې کوم پوهنځی یا څانګه وټاکي، څوکاله وخت د خپل زړه نازړه توب له امله هسې تېرکړي، ځینې داسې هم وي چې له نوم لیکنې څخه وړاندې په شك کې وي، تردې پورې چې د نوم لیکنې ټاکلی وخت هم تېرشي، ځینې داسې وي چې په یوه څانګه کې یو یا دوه کاله تېرکړي، بیا د شریعت پوهنځي ته ولاړ شي، څه وخت چې تېرشي اقتصاد پوهنځي ته، بیا له اقتصاد څخه طب ته ولاړ شي، په همدې ډول خپل ټول عمرتباه کړي . که په پیل کې یې په دې اړه ښه څېړنه، مشوره او استخاره کړې وی، بیا یې داسې هوډ کړی وی چې یوخوا اوبل خواته یې نه کتلی، یو اوبل ته یې غوږ نه نیولی، نوپه دې صورت کې به یې خپل**

ژوندهم خوندي ساتلی وی او له ټاکلې ځانګې ښځه به یې په زړه پورې نتیجه او ګټه هم تر لاسه کړې وای .

دویم : مناسبه دنده اوکار: ځینې خلك په دې نه پوهیږي چې کوم شغل یا کار ورته وړ او مناسب دی، نو له همدې امله کله رسمي وظیفې ته مخه کړي، کله هغه پریږدي اوبیا کوم شرکت کې ځان شریك کړي، کله هغه هم پریږدي بل کوم یوځانګړي تجارت ته لاس واچوي، له دې وروسته بیا له مفلسۍ اونېستۍ سره مخ شي او په پای کې بیا د نورو وزګارو خلکو په څېرپه خپل کور کې کښېني . دغه ډول خلکو ته زما مشوره داده، چا ته چې د روزۍ کومه دروازه پرانیستل شوه، نوهماغه دې ټینګه کړي، ځکه چې له همدې ځای ښځه یې روزي ټاکل شوې ده او چاچې په یوې دروازې پورې ځان کلك کړ، نود هغې دراوزې د پرانیستوپوهه او اسانتیا به ورپه برخه شي .

دریيم: واده کول دي، ترټولوزیات هغه څه چې دځوانانو د تشویش او حیرانتیا لامل ګرځي د مېرمنې د خوښولوموضوع ده، کله خو داسې هم پېښیږي چې په دې خوښاوي کې د نورو نظرهم اغېزلري، اوهغه داسې چې کله پلار یا مور د زوی له پاره داسې یوڅوک غوره کړي، چې د زوی په زړه نه وي کېدای شي زوی د پلارخوښې ته وګوري، نوهغه کاروشي چې د زوی په زړه اوخوښه نه وي . نو دغه ډول خلکوته زما پند دا دی، چې دوی باید د واده په اړه ښه ځیر شي او یو داسې ځای وټاکي چې له دین، ښکلا او فکري جوړښت سره سمون خوري، ځکه چې دلته د یوې ښځې د ژوند د تګلارې خبره ده، د اټکل اوانځورله پاره هېڅ ځای نه پاتې کیږي .

څلورم : د طلاق په موضوع کې هم زړه نازړه توب اوحیرانتیا منځته راځي، (په دې ستونزه کې ښکېل کس) یوه ورځ له مېرمنې ښځه د بېلتون نظر لري، بله ورځ د ګوزارې اوګډ ژوند تېرولوپه فکر وي، بله ورځ بیاپه دې نظر وي چې ګډ ژوند باید پای ته ورسوي، ځینې بیا دا خوښوي چې یواځې اړیکې باید غوڅې کړي، بیا نو په ستومانۍ، روحي ناروغۍ او دکار په ګډوډۍ کې اخته شي، چې یو الله پرې ښه پوهیږي .... بنده ته په کار دي چې دا ډول نفسي کشمکشونه په خپل قاطع- پرېکنده - هوډ سره پای ته ورسوي، په دنیا کې همدا یو ژوندون دی، ورځ بیا نه راګرځي، نه هغه ساعت بیا راځي، نوپه کار ده چې خپل ژوند په نېکمرغۍ سره تېرکړي، په ځانګړې توګه په خپله باید ددې نېکمرغۍ په منځته راوړلوکې ګډون وکړي .

(زه- ليکوال- وايم) چې سعادت -نېکمرغي- په تصميم نيولوسره منځته راځي، مسلمان بنده چې کله کوم کارته عزم وکړاو پرالله تعالی باندې يې توکل وکړ، مشوره او استخاره يې وکړه، نو دغه کس بيا دهغه شاعرد وينا سرتکی ګرځي چې وايي : کله چې هغه د يوکارهوډ وکړي، نو بياخپله توله پاملرنه خپلې ټاکلې موخې ته اړوي اوپه دې لار کې بيا د هېڅ ډول بدو پايلو پروا نه کوي، بيا نو د سېلاب په څېر روان وي، له هېڅ شي څخه مخ نه ګرځوي، د تېرې تورې په څېرغوڅه کوي، د وخت د تصميم په څېرعزم کوي، او د سباوون د رڼا غوندې راخېژي .

﴿ تاسوخپله خبره پخه، شريکان مو راټول اوبيا له يوه ډانګ پېيلي دريځ سره زما پرضد ميدان ته راووځئ، زما پرخلاف خپله پريکړه اعلان او په عملي کولو کې يې درنګ مه کوئ﴾. يونس ۷۱:۱۰

***

## څه چې کرې هغه به رېبې

موږته ډېره حيرانتيا ده! له خلکوڅخه دا هيله لروچې هغوی دې صبراو زغم کوي، خوموږ په خپله په غوسه کيږو، سخاوت غواړو،خو په خپله بخيلي کوو او له نوروڅخه وفا او ښه ورورولي غواړو، خوپه خپله هغسې نه کوو .

شاعروايي : ته داسې يوڅوك غواړې چې هغه دې د خوی اواخلاقو له اړخه پوره اوهېڅ عيب دې ونه لري نو، ايا دعنبرلرګی له لوګي کولوپرته خوشبويي کوي! بل شاعر وايي : ته به داسې ورور پيدا نه کړې چې هغه دې په بشپړډول له وږو نيمګړتياووڅخه هم خالي وي، داسې به څوک وي چې هغه دې د اخلاقو او خويونو له اړخه پوره وي !؟ (هېڅوك داسې نشته). عوام وايي : ته به کامل ورور چېرې ومومې ؟ ابن الرومي وايي : له حيرانوونکو ورځوڅخه يوه دا ده، چې ته په دنيا کې يو داسې کس غواړې چې د اخلاقو اوخويونو له پلوه ښه وي، حال دا چې ته په خپله د بشپړو اخلاقو اوخويونو څښتن نه يې !

***

## لنډه دمه

شاعر"ایلیا ابوماضي" وایي : ای بې درده فریادکوونکیه! که په رېښتیا ته ناروغ شې، نوته به بیاڅه کوې ؟ دځمکې پر سرترټولو لوی تېری کوونکی هغه نفس دی، چې مخکې له تګ څخه ځان له کډې کولوساتي . تاته په ګلاب کې اغزي ښکاري، خوپردې باندې ورڼوند یې چې دګلاب له پاسه د شبنموښکلی هار وګورې. هغه کس په ژوند باندې دروند پېټی وي، چې دا ګومان لري چې ژوند ورباندې یودروند پیټی دی . هغه څوك چې په خپله ښایسته نه وي، نوهغه ته په دنیا کې هېڅ شی هم ښایسته نه ښکاري .

ترڅوچې سباوون په خپله له منځه تللی نه وي ترهغې پورې یې له ښکلا څخه خوند واخله، نوته مه وېرېږه چې هغه به لاړ شي . کله چې پرېشاني ستا په سر سوری وکړي، نوبیا ته په هغه کې بحث اوڅېړنه لنډه کړه، چې هغه لا اوږده نه شي . د هسکوځالومرغانو د دنیاحقیقت موندلی، نو دا شرم دی چې لا تراوسه ورڅخه ناخبره پاتې یې . ته نه وینې چې ځمکه د بل چا وي او دوی په کې د ځانونو له پاره دګرځېدو او اوسېدو ځای جوړکړی وي .

***

## د ښوخبروترڅنګ دعمل اړتیا

زموږ نېکمرغي هغه وخت بشپړېږي، چې کله موږ له خپل خالق، بیا د هغه له ټول مخلوق او بیا له انسان سره خپلې دندې په سمه توګه سرته ورسوو، ښایسته خبرې کول یو اسانه کار دی، خو له دې نه هم بل ستونزمن کار دا دی، چې خبرې د سترو کارونو او ښو خویونو په قالب کې ځای شي . ﴿ ایا تاسوخلکو ته په نېکۍ باندې امرکوئ اوخپل ځانونه موهېرکړي دي، حال دا چې کتاب هم لولئ، ایا له عقل نه کا ر نه اخلئ ﴾. البقره ۲:۴۴

هغه څوک چې نورو ته په نېك کار امرکوي اوخپله یې نه کوي، یا نور خلك له بدو کارونو څخه ایساروي، خوپه خپله بدي کوي، نو صحیح حدیث دی چې: (( دا ډول خلک به دقیامت په ورځ په اورکې اچول کیږي، په خپلو کولمو باندې به داسې وڅرخیږي، لکه خر چې په خپله ژرنده راڅرخي، نو دوزخیان به ورڅخه د دغې تباهۍ اوعذاب لامل وپوښتي، هغه به ورته ووایي،چې ما به

تاسوته د ښوکړنوپه کولو امرکوه، خوماپه خپله نېکي نه کوله، تاسوبه مې له بدی څخه منع کولئ، خوما به په خپله بدي کوله )).

شاعر وايي : ای هغه څوکه چې ته نورو ته ښوونه کوې، ولې دې د ځان له پاره همدا ښوونه نه کوله ؟. يوه ورځ نامتوواعظ "ابومعاذ الرازي"ودرېده اوخلکوته يې داسې اغېزمنه وينا وکړه چې په خپله يې هم وژړل اونورخلک يې هم وژړول، بيا يې وويل، داسې انسان چې په خپله پرهېزګارنه وي، خوخلکوته د پرهېزګارۍ امرکوي حال يې دهغه طبيب په څېردی چې د نورو درملنه کوي، خو په خپله ناروغه وي . په پخوانيوعلماوو کې به داسې کس هم و چې کله به يې خلکو ته په صدقه -خيرات ورکولو- امر کاوه لومړی به يې په خپله صدقه وکړه، بيا به يې نورو ته هم امر وکړ، نوخلکو به د زړه له کومې د دغه عالم خبره ومنله. ما لوستلي چې له پخوانيو غورو پېړيوڅخه په يوه پېړۍ کې يوه عالم وغوښتل چې خلك د مريانو ازادولوته وهڅوي، ځکه چې زياتوغلامانو ورڅخه دا غوښتنه کړې وه، نودغه عالم په اوږده موده کې نقدي مال راټول کړبيا يې يوغلام - مريی - پرې ازاد کړ، وروسته بيا دا دخلکو امام شو، نو له دوی څخه يې د مريانود ازادولو غوښتنه وکړه، خلکو د دغه عالم پرقدم پل کېښود او ډېرمريان يې ازاد کړل .

***

## جنت د راحت ځای دی

﴿ بېشکه موږ انسان په ستونزو کې پيداکړی دی﴾. البلد ۴:۹۰

له احمد بن حنبل (رحمه الله) څخه پوښتنه وشوه چې راحت به کله وي؟ هغه ځواب ورکړ،کله چې دې قدم په جنت کې کېښود هغه مهال به هوسا شې، يعنې له جنت څخه مخکې راحت نه وي، دلته په دنيا کې خو ستونزې، فتنې، پېښې، ناخوالې، ناروغۍ اواندېښنې وي . دا دنيا همداسې خړه پړه پيدا شوې ده، خو ( تاته حيرانتياده) چې ته يې له چټليواو خړو څخه پاکه غواړې .

ما ته مې د زده کړې د پړاو يوملګري چې د نايجريا اوسېدونکی، ډېرنېك اوامين سړی و، قېصه کوله چې موربه يې همېشه د شپې په وروستۍ برخه کې راويښولو، نو يوه شپه يې مورته وويل، مورجانې زه غواړم ارام وکړم، موريې ورته وويل، زه دې هم د راحت له پاره راويښوم، ای زويه کله چې جنت ته

ننوزي نوهلته به بيا ارام وکړي . مسروق (رحمه الله) چې د پخوانيوعلماوو له ډلې څخه دی، هغه به د سجدې په حالت کې ويده کېده، يوه ورځ يې ملګرو ورته وويل، که لږ راحت دې کولی ښه به نه و؟ هغه وويل ، زه خوهم د نفس راحت غواړم .

بېشکه هغه کسان چې ديني مسووليت اوواجبات په دنيايي سوکالۍ باندې پرېږدي په حقيقت کې هغوی عذاب غوښتلوکې بيړه کوي . په ښوکارونو، نورو سره په ښېګنواوپه هغه کارونوکې د وخت لګول چې الله (ﷻ) ته پرې بنده نژدې کيږي رېښتينی راحت شته. کافرانسان خپله برخه اوسوکالي دلته په دنيا کې غواړي، له همدې امله دوی وايي : ﴿ ای زموږه ربه ! په بيړه زموږ برخه دحساب له ورځې نه وړاندې راکړه﴾. ص ۳۸:۱۶

يوتفسيرپوه پورتنی ايت داسې معنا کوي، کافر وايي چې زموږ دګټې او زموږ د روزۍ برخه مخکې له قيامت څخه موږ ته راکړه. ﴿ بېشکه دغه خلك دنيا خوښوي ﴾. الانسان ۷۶:۲۷

دوی ننۍ ورځ ـ دنيا- خوښوي ، خود سبا ورځې -آخرت- په اړه هېڅ فکرنه کوي، خپل نن او سبا، کړنه او پايله، پيل او پای يې ټول له منځه يوړل .نوله همدې امله هغوی تاواني شول. لنډه دا چې د دنيا ژوند همداسې پيدا شوی دی، پايله يې پناه کېدل دي، دا ناپاکې اوخړې اوبه دي، د بدلېدونکي مزاج څښتنه ده، چې په يوحالت کې قرارنه لري، دا هم نعمت دی اوهم عذاب، هم سختي ده هم اساني، هم شتمني ده هم نېستي .

يو شاعروايي : موږ په دنيا کې ترهغه پورې ژوند کوو، ترڅوپورې چې راته مقرره وي، بيا نو که زموږ شتمن دي اوکه نېستمن، داسې کندو- قبرونو- ته پناه وروړي چې دهغې ښکته برخه تش ځای او له پاسه يې اوږد مهالی پلنې تيږې دي، دا د انسان پای دی : ﴿ بيا به ټول رېښتيني بادارته لېږل کيږي، خبراوسئ چې واك يوازې له هماغه رب سره دی، چې هغه ژرحساب کوونکی دی﴾.الانعام ۶:۶۲

***

## لنډه دمه

"ایلیا ابوماضي" په خپل شعر کې وايي : څومره سرټکوې او وايې چې نېستمن یم، حال دا چې ځمکه، پاس اسمان اوستوري هم ستا دي، د ځمکې کرهڼه، ګلان، ښه بویونه، ښکلي نرم بادونه اوهغه د خوږې غاړې بلبلان ټول ستا له پاره دي، اوستا شا اوخوا بهېدونکي اوپاکې اوبه لکه سره زر چې په اورکې ځلیږي، ستا پرسرځلېدونکی لمراو رڼاګانې چې د غرونوپه کنارو او څوکوکې ښکلي سینګار شوي کورونه جوړوي اوکله یې بېرته ورانوي دا هم ستا د ګټې له پاره دي، دنیا تا ته هرکلی وايي نوته ولې غمجن یې، هغه درته موسکۍ ده، نوته ولې نه خاندې ؟

که ته په له منځه تللي درنښت ـ شان ـ پسې خفه یې، نو ډېره لرې ده چې ستا پرېشاني به هغه بېرته دروګرځوي او که ته له دې وېرېږې، چې کومه غمیزه به درپېښه شي، نوناشونې ده چې ستا ګونجې تندی به دهغې مخنیوی وکړي، اوکه د ځوانۍ پېراو دې تېرکړی وي، نوبیا داسې مه وایه چې وخت بوډا شوځکه چې وخت نه بوډاکیږي . وګوره، چې دا پورته له اسمان څخه داسې شکلونه موږته راګوري، هغه د ډېرې ښکلا له امله داسې ښکاري لکه خبرې چې کوي .

***

## هدف ته په رسېدوکې نرمښت مرسته کوي

د کتاب په تېره برخه کې د نرمښت په اړه قرآني آیتونه اوحدیثونه تېرشول، ورڅخه جوته شوه چې نرمښت یو ښه خوی او داسې سپارښتونکی دی، چې د اړتیاوو پرمهال یې غوښتنه منل کیږي، د بېلګې په توګه : که د دوو دېوالونو په منځ کې یوه داسې تنګه لار وي چې هغه د یوه موټر له تېرېدو څخه نورځای نه لري، نوڅرګنده ده چې په دې تنګه لار کې به موټروان په ډېرپام اوځیرکتیا سره موټرننباسي، خوکه همدا موټروان پرهمدغه لار له خپل موټرسره په تېزه تېرشي، نوښکاره خبره ده چې موټربه یې ښي او کیڼ اړخ ته له دېوال سره لګیږي، موټر به یې هم وران شي، نو لاره خو نه پراخه او نه کمه شوه، موټرهماغه دی، یواځې یوالامل شته اوهغه دا چې د موټرد چلولوچل په دواړوحالتونوکې توپیرلري، لومړي پړاو کې په نرمښت او په دوهم پړاو کې په تېزۍ سره وچلول شو .

دوهمه بېلګه : که د خپل کورپه انګړکې یو وړوکی نهالګی نهال کړو، لږې لږې اوبه ورته ورکړو، نوهغه اوبه به وزغمي او ګټه به ترې واخیستل شي، خوکه هماغومره اوبه راوخلي او نهالګي ته یې په تېزۍ او یوځل سره ورخوشې کړې، نوښکاره خبره ده چې ته به دا بوټی له بېخه راوباسې، دلته اوبه په یوه اندازه ورکړل شوي، خو د اوبو ورکولوچل توپیرلري . هغه څوك چې خپلې جامې په نرمۍ سره وباسي، جامې به یې هم روغې پاتې شي، خوکه په قوت سره یې وباسي، نوخپلې جامې او تنی به هم وشکوي . د یوسف (علیه السلام) په قېصه کې چې ورونو یې د هغه کمیس پلارته وروړ او ورته یې وویل، چې لېوه یوسف وخوړلو، هغه مهال د هغوی دروغ داسې څرګند شول چې کمیس روغ پاتی و او کومه برخه یې شکېدلې نه وه، که لېوه هغه داړلی وی لکه چې ورونو یې ویل، نوبیا خوبه هغه کمیس ټوټه ټوټه او شلېدلی وی او داسې سلامت به نه و راوتلی، نو جوته شوه چې هغوی ورڅخه کمیس په قراره ویستلی و . زموږ ژوند نرمښت ته اړتیا لري، موږ باید پرخپلوځانونو ورحمېږو، نرمي ورسره وکړو : (( بېشکه ستا نفس هم پرتا حق لري )). موږ باید له خپلو ورونو سره نرمي وکړو: (( بېشکه الله پاك د نرمۍ څښتن دی اونرمي خوښوي)) . له مېرمنوسره باید له نرمښت څخه کار واخلو: (( په ښیښه یي لوښو- مېرمنو- باندې له زړه سوي څخه کارواخلئ)).

د خلکود تګ راتګ له پاره د نهرونو له پاسه چې ترکانو د لرګیوکوم پلونه جوړکړې دي، نو د هرپول په لومړي سرکې داسې لیکل شوي دي، په قراره قراره ځکه چې څوک په ورو ورو تېرېږي هغه نه پرېوځي، خوکه څوک په بیړه تېرېږي نوهغه د دې وړدی چې لاندې نهرته پرېوځي . یو سوریایي لیکوال چې د سلمیه ښاراوسېدونکی دی د ژوند په یاداښتونوکې یې لیکلي، چې یو ډبډبکی یې درلود، یوه ورځ پرخپل ډبډبکي سپورشواو د ترکانو له هاغه پول څخه تېرېده، چې د نهرله پاسه یې له لرګیوڅخه جوړکړی و، هغوی هغه پول د هغه چا له پاره جوړ کړی و، چې په سایکل باندې په قراره سره تېرېږي، سوریایي لیکوال وایي، زه په تېزۍ سره په پله وختم، کله چې د پول نیمایي ته ورسېدم، نود تېزۍ په حالت کې ماخپل ښي اوکیڼ اړخ ته وکتل اوپرخپل ځان مې رحم ونه کړ، چې له امله یې ډبډبکی راڅخه ولړزېده اوسترګو مې تور وخوړ، چې په پای کې له ډبډبکي سره یوځای نهرته پرېوتم، پاتې داستان بیا اوږد دی .

د اروپایي هېوادونو د ځینو ښارونو د ګلابو د باغونو په دروازو کې لیکل شوې چې نرمي وکړه، ځکه هغه څوك چې دې باغ ته په تېزۍ سره ننوځي

هغه نه شي کولی دا ښکلي بوټي ووېني او نه د دې داډ ورکولی شي چې دا ښايسته ګلاب به ورڅخه روغ پاتې شي، بلکې ګلان به يې ترپښولاندې شي، تور او مړاوي به شي او بېخي به له منځه ولاړ شي . هلته يو روزنيزښست دی چې وايي، مرغۍ د عسلود مچېو په څېرنرمښت نه لري چې په حديث شريف کې يې هم يادونه شوې ده : (( مؤمن بنده د عسلود مچېو په څېردی، چې خوراك يې هم پاك دی او توليد يې هم پاکيزه دی، اوکله چې پريوه ډنډرکي کښيني نوهغه نه ماتوي .

کله چې د شهدومچۍ له ګل څخه شيره څښي، نوپه قراره يې روي او خپله موخه ترې په اسانۍ ترلاسه کوي، بل خوا که مرغۍ د تنې له کوچېنوالي او باريکوالي سره سره کله چې پرکښت يا دغنمو پر وږو کښيني، نو ټول خلك پرځان راخبروي اوکله چې راکوزيږي، ټوپونه وهي او رالوېږي . ماته همېشه د هندي انځورګرقېصه راپه زړه کيږي، بېشکه چې يوښکلی انځوريې کښلی و، د انځور نچوړ يې دا دی چې دغنمو د وږي له پاسه يوه چېنچڼه ناسته ده، د غنمو وږی له دانو ځخه ډك او مخ په وده او پوره اندازه لوړشوی دی . د وخت پادشاه دا انځورد خپلې ماڼۍ پريودېوال راوځړوه، خلك چې خبرشول، نو پادشاه ته ورغلل او د ځړول شوې انځورمبارکي يې ورډالۍ کړه، ټولو د انځور دښکلا له امله د انځورګرمننه وکړه، خود خلکوپه دې ګڼه ګونه کې يوکس چې نېستمن غوندې ښکارېده پادشاه ته ورغی، اوپرانځوريې نيوکه وکړه او ويې ويل، چې دا ناسم دی، خلکوچې دا خبره واورېده ټول په غوسه شول او شوريې جوړ کړ، ځکه چې نيوکه د ټولوله نظرسره برابره نه وه، نو پادشاه هغه کس په قراره خپل ځای ته راوغوښت او ورڅخه يې وپوښتل چې پرکوم دليل ؟ هغه وويل دا ناسم انځورشوې او ناسم وړاندې شوې دی . پادشاه ورته وويل په څه دليل ؟ هغه وويل، ځکه چې انځورګر د وږي له پاسه چېنچڼه رسم کړې ده، حال دا چې وږی يې نبغ پرېښی دی، چې دا د حال سره سمون نه کوي، ريښتينی حال داسې دی چې چېنچڼه کله دغنمو پر وږي کښېني، نوهغه هرومروځکه راکږوي چې د مرغۍ وزن زيات وي پادشاه ورته وويل خبره دی سمه ده، نوروخلکوهم د پادشاه د خبرې ملاتړ وکړ، پادشاه امر وکړ چې انځوردې راښکته شي او له انځورګرڅخه دې تحفه بېرته واخيستل شي .

طبيبان همېشه ناروغانو ته د درمل ورکولو، د کارکولو او په راکړه ورکړه کې د نرمښت په کارولوکې د پاملرنې غوښتنه کوي . يوڅوک به داسې هم وي چې خپل نوك به په خپل لاس وباسي، څوك به خپل دردمن غاښ په خپل لاس

راوباسي، څوك داسې وي چې خپل ستونی په خوراک باندې له دې امله خوږوي چې غټ قپونه کوي اوسم یې نه ژوي . بېشکه چې اوبه په نرم او روان حالت کې مخ په وړاندې ځي او باد تېزي کوي نوځکه ورانول هم کوي . د تېرو پېړیو د یوه عالم وینا مې لوستلې ده چې وایي، د ا هم د یوچا د پوهې نښه ده چې کورته په ننوتلو او وتلو، د جامو په اغوستلواو پر سورلۍ باندې دسپرېدلو پرمهال هم له نرمښت څخه کاراخلي . په هرکارکې بیړه، تېزي اوسرتنبه ګي د زیان د پېښېدواو د ګټې له منځه تلوڅرګند لامل دی، ځکه چې د ګټې اوخیربنسټ نرمي ده.

(( په کوم کار کې چې نرمي وي هغه کارښکلی وي اوکوم شی چې له نرمښت څخه بې برخې شو، نو بدرنګه شي )). له خلکوسره په راکړه ورکړه کې د نرمۍ د اغېز له امله زړونه ورماتیږي، روحونه ورته په چټکتیا ورمنډې وهي او نفسونه ورته خپل سر ټیټوي، له خلکو سره نرم چلند کول د هر خیر اوګټې کونجي ده، اوسرسختنه نفسونه هم ورته خپلی غاړې ږدي . ﴿ د الله مهرباني وه چې ته مسلمانانو ته نرم شوې، که بدخویه اود سخت زړخاوند وی، نو هغوی به ستا له شا او خوا څخه خواره واره شوي وی﴾. آل عمران۳:۱۵۹

یوشاعر وایي : ای روښانوونکې سپوږمۍ! له نرمۍ څخه کار واخله! ته د بادونو په څېرمه کېږه، چې د زمري په څېرتېزغږلري، بېشکه تا خوپه خپله رڼا زما مخ ډك کړ اوستا مخ زموږ په تیارو کې تر او تازه دی، خودغه باد په سرکشۍ کې راروان وي، چې بیا د سرکشۍ له امله کورونه اوماڼۍ په لړزان راولي .

***

## لنډه دمه

مصری لیکوال "طه حسین" په غایبه صیغه خپل ځان داسې څرګندوي:
هغه خپل ځان د نورو انسانانوپه څېرعادي انسان ګڼي، داسې یې ګڼله چې دی هم د نورو په څېرزېږیدلی دی، د خلکوغوندې ژوند کوي، لکه د نورو په شان مهالوېش لري اوخپلې هڅې یې وېشلې دي، خو توپیردا و چې هغه له هېڅ چا سره اشنایي نه درلوده او نه په کوم شي باندې ډاډمن و، د خلکو، شیانو اود ده ترمنځ یوه پرده ځړېدلې وه، چې ښکاره اړخ یې خوښي او ډاډ څرګندېدل او تر شایې غوسه، وېره، پرېشاني او نفسي نا ارامي پرته وه، هغه په یوه داسې ارته او بوګنونکې صحراء کې اوسېده، چې نه یې پولې څرګندې او نه په کې څه نښې

او نښاني ولاړې وې او د ده له پاره په کې د خوځښت کومه روښانه لار او ټاکلی هدف هم نه و .

ابن تيميه (رحمه الله) وايي : زما په زړه باندې کله د خوښۍ داسې شيبې هم تېرېږي چې زه له ځان سره وايم، که جنتيان دغه ډول ژوند ولري، نو دوی خو بيا د ډېر ښه ژوند څښتنان دي . "ابراهيم بن ادهم" وايي موږ داسې ژوند لرو که ټولواکان ورباندې خبر شي، نو په تورو به له موږ سره پرې وجنګيږي .

***

## تشويش تاته هېڅ ګټه نه شي رسولی

د راتلونکي داستان له يادونې څخه زما موخه داده چې زه يوې پايلې ته ورسېدم اوهغه دا چې انسان بايد هېڅ ډول پرېشاني ونه کړي، الٰهي پرېکړو او برخليکونو ته غاړه کيږدي، د الله (ﷻ) له اړخه ورپه برخه حالت باندې خوښ اوسي او په تېر وخت پسې ورغوي ونه مروړي . کوم وخت چې زه ـ ليکوال ـ د ښوونځي په لومړني پړاوکې وم، نوډېرلېواله وم چې د ملګرو پرتله بايد په لوړو پړاوونو کې شم، نوله دې امله به ما په درس ويلو او لوستلوباندې ځان سخت ستومانه کوه، د ازموينو پرمهال به مې چې په کومه ورځ ازمونپاڼه ځواب کړه، بيا به مې ښوونکي ته ورکړه، نو زه به دهغه مضمون په اړه انديښمن، غمجن او پايلې ته به يې سخت په انديښنه کې وم، ما به د هغې ورځې د ازموينې د پوښتنو پاڼه په کورکې بيا ليدله، کتاب به مې بيا پرانيست، خپل ځان ته به مې شمېرې ورکولې او د ځوابونو د سم او ناسم پرېکړه به مې په خپله کوله، په دغسې حالت کې به مې په بېواکه ډول خپل نوکان په خپلوغاښونو پرې کول، څه وخت وروسته به چې په ښوونځي کې پايلې په ډاګه شوې، نوکله به يې خوشحاله اوکله خواشيني کړم، خو دا حقيقت بايد په ګوته کړم، چې هېڅ وخت داسې نه دي شوي چې انديښنو زما شمېرې لوړې کړې، يا يې ناسم ځوابونه سم کړي او يا يې په ټولګي کې زما پرلپسې شمېره مخکې کړې وي . ما داسې ژوند کړی چې هېڅ وخت مې دغميزو پروا نه ده ساتلې، ځکه چې کله ما د کوم شي پروا ساتلې ده ماته يې هېڅ ګټه نه ده رسېدلې .

***

## په ګوزاره حال ژوند کې راحت دی

زه د ریاض ښار یوعلمي مرکز ته د زده کړې په موخه ولاړم، خپله کورنۍ مې د هېواد په جنوب کې پرېښوده او له خپلو ترونو سره یوځای مې ستونزمن مالي ژوند پیل کړ، له بله اړخه د درسونو، استوګنځي او د تګ راتګ ستونزې ګالل هم ورسره تړلې وې، زه به ښوونځي ته د تګ او همدومره د راتګ له پاره شل یا دېرش دقیقې پلی تلم، په کوټه کې چې له چا سره ګډ اوسېدم له هغوی سره به مې سهار، غرمه او ماښام، په پخلي، خونه جاروکولو او د پخلنځي په سمولوکې هم ونډه اخیسته، او سربېره پر دې به مې خپل درسونه هم یادول، د دارالعلوم په پوهنیزو اوټولنیزوچارو کې به مې هم برخه اخیسته، خو له دې هرڅه سره به هم ما په زړه پورې ښې شمېرې ترلاسه او په ښه پرله پسې شمېره به بریالی کېدم . هاغه مهال مې یوه جوړه جامې درلودې، هغه به مې پرېمینځلې، اوتو به مې کړې او بیا به مې واغوستې . لنډه داچې همدا یوه جوړه جامې زما د کور، درس او په نورو چاروکې د ګډون له پاره وې، ځکه کوم جیب خرڅ چې د ادارې له خوا مونږ ته راکول کېده هغه ډېرکم و، د خوراك، استوګنځي اود ژوند نورې اړتیاوې به مې له همدې جیب خرڅ څخه پوره کولې، مونږ به کله لږه غوښه اخیسته، مېوې خوبه موکله کله خوړې، خو له دغوټولوستونزو سره سره به مونږ تل د لوست په لوستلو، حفظ او دعاومعلوماتو په ترلاسه کولوباندې بوخت وو، ما به دچکرله پاره په ټوله میاشت، بلکې له دې څخه هم په زیات وخت کې یواځې یوځل وخت درلود، د اوولسو په شا وخوا کې ټاکلي مضمونونه وو، پر نورو دیني اوعربي مِضمونونو سربېره به پرمونږباندې هندسه، الجبر، انګلیسي او نورساینسي مضمونونه هم زیات شول، ما د منځني ښونځي له لومړي ټولګي څخه د دارالعلوم له کتابتون نه د ادب کتابونه د امانت په توګه اخیستل پیل کړل او ما به چې کله د کوم ادبي کتاب په لوستلو پیل وکړ، نو ما داسي انځورل چې زه له ناستو ملګرو څخه بېل اولرې یم، ځکه چې ماته به د ادب په برخه کې لوستل ډېر زړه راښکوونکي وو.

له دې قېصې څخه مې موخه دا ده چې زه له دغه ډول کړاو، ستونزې او تنګلاسۍ سره سره هم نېکمرغه وم، په پوره ډاډ، ارام زړه اوخوشحاله روح سره به ویده کېدم، ژوند تېرېده، د الله (ﷻ) فضل را په برخه شو، د ښایسته کور او زیاتو خوراکي توکو، د هرډول جامو اوپرېمانه نعمتونوڅښتن شوم، خو له دې ټولو سره سره هم زه هغه لومړنۍ خوښي نه شم موندلای . بوختیاوې، نا قراري او اندېښنې ډېرې شوې، د ټولو یادونه دا څرګندوی چې نېکمرغي د دنیوي

شیانوپه بشپړتیا او ډېروالي کې نه ده . نو، له همدې کبله باید داسې ګومان ونه کړې چې ستا تنګلاسي اونېستي، د ښه ژوند د لارو چارو نشتوالی او ستا د ژوند د پرمختګ له پاره د شیانونشتوالی ستا د غم، پرېشانی او اندېښنې لاملونه دي، ځکه واقعیت دا دی ډېر هغه خلك چې ګوزاره حال ژوند لري، د شتمنوخلکوپرتله د ښه او خوښ حالت څښتنان دي .

***

## ترټولو د بدی پېښې اټکل کوه

کوم وخت چې زه په "ابها" کې د ثانوي زده کړو په لومړي ـلسم- ټولګي کې وم، ډېر لېوال وم چې باید په ټولګي کې اول نومره شم، ما به د لومړیتوب له پاره زیار ویسته، خوځان به مې دویمې شمېرې منلوته هم چمتوکړی و، چې پایلې به څرګندې شوې نو زما د شمېرو اوسط به له لوړې درجې سره سمون درلود، خو زه له تاڅخه پوښتنه کوم چې ته زما د دې دومره مطالعې، درس یادولو، کوښښ او بې خوبۍ سره سره زما د پایلې په اړه څه اټکل کوې؟ د اټکل پرخلاف چې کله پایله راڅرګنده شوه، نو زما نوم د بریالیو زده کوونکوپه قطارکې لیکل شوی و، خو زه د انګلیسي په مضمون کې پاتې وم، دا ځکه چې د انګلیسي مضمون ماته ډېرستونزمن و، دا مضمون زمانه خوښېده، نه پرې پوهېدم او نه مې په کې څه یادولی شو. د دې ناکامۍ له امله پرما د خفګان او پرېشانۍ سختې تورې وربځې راخپرې شوې، ځوشپې بې خوبه وم، کوم ملګري چې زما په دې حال پېټ خوښېدل هغوی هسې هم خوشحاله وو، ځکه چې دا ببخي له اټکل څخه لرې یو انځور و، زه خو په دې باور وم چې په لوړه درجه کې به لومړنی ځای نیسم، نو زما ولولې په لمبوشوې، نفس مې تنګ شو، زما د خفګان اودرد د لا زیاتېدو یو لامل دا هم و، چې یوه ښوونکي راته په دې حالت کې د تسلۍ خبرې وکړې، زه یې تشویقولم، نوما دهغه په ملاتړ دا شعر ووایه : هرشی چې بشپړشي ببرته کمیږي، نو انسان باید د ژوند د ښه کېدو له امله مغرور نه شي .

وروسته وختونوکې چې به زما دغه زیات خفګان خبره غځوله او بیا به په پورتني شعر باندې استدلال رایاد شو، نو حیران به شوم، پرځان به مې وخندل، بله دا چې دې خفګان ماته هېڅ ډول ګټه هم ونه رسوله او نه هغې پرېشانۍ زما نتیجه کې کوم بدلون راوست، که ما دخپل نفس منلي وی او پخواني خفګان ته مې دوام ورکړی وی، نو زه خوبه بیا د دویم ځل ازموینې له پاره په

درس یادولواو بریالیتوب نه برلاسه کېدم، نو زه تاته هم وایم، چې دا ګومان مه کوه که د ناکامۍ له امله غمجن شي، طبعیت دې خراب او په لړزان شي، نوڅه انګېرې چې ته به هرومرو بریالی شې اویا به پایله ستا په ګټه بدله شي، نــه ! هېڅکله نه! ناشوني ده، بلکې ستا دا ډول کړنه به ستا ناکامي لا پیاوړي کړي .

کله چې د نبوي احادیثوپه برخه کې ما د ماسترۍ رساله کې مناقشه ـ پوښتنې او ځوابونه- ترسره کړل، نو د نورو خلکو په څېر زه هم لېواله وم چې لومړی مقام تر لاسه کړم، زما اند خو دا و چې ما ښه ځوابونه وړاندې کړي دي، خو زما د اټکل سرچپه زه دویمه درجه شوم، نو زه په دې اړه بې کچه خفه شوم، طبیعت مې خراب و، دې لوري ته مې ډېرپام شو، نوماته مې یوه ملګري د تسل په موخه وویل، ته داسې وګڼه که د ماسترۍ د سند په لاسته راوړلوکې هېڅ نه وی بریالی شوی او رساله دې په کوم لامل لغوه شوې وی، نو تا به څه کړي وی؟ بله دا چې د دواړو درجو لومړۍ او دوېمې په منځ کې عملي توپیربه څه وي؟ حال دا چې پایله یوه ده، یعنې د ماسترۍ برې لیک! زما هغه ملګري سمه او رېښتیا خبره راته وکړه او خبرو یې زما عقل سرته راوست او فکر یې راته سوړکړ .

نو که تا کله د یوه ناوړه اوطبیعت خرابوونکي کاراټکل درلوده، نوته خپل نفس د ډېربد اټکل د رامنځته کېدو له پاره هم چمتو کړه، بیا چې څومره شوني وي دهغه د مخنیوي هڅې وکړه، خو ترکومه چې د بلا مخې ته ځان غورځول، په یو او بل ملامتي اچول اویا پرېشاني ده، نو دا هېڅ ډول ګټه اوځانګړې پایله نه لري، پرته له دې چې سینه دې تنګه اوفکردې خراب کړي .
ما د ماسترۍ له دې ستونزې څخه د دوکتورا د رسالې د ازمویني او ارزونې د وروسته والي په اړه ګټه ترلاسه کړه، ځکه چې ما خپله رساله اداري ته د ټولو شرایطو تربشپړېدو وروسته وړاندې کړه، یعنې هغه په علمي او ادراي دواړو شرایطو برابره وه، نو زما داهیله وه چې پوښتنې اوځوابونه به د ارزونې له پاره ژر ترسره شي، خوهغه تره ډېره وخته وځنډېدله، نو دا خبره زما په زړه باندې اسانه تمامه شوه، هېڅ پروا مې ونه کړه او نه مې کومه اندېښنه وکړه، لکه مخکې مې چې کړې وه .

دا یوه داسې لار ده چې موږ دې ته چمتوکوي ترڅوموږ له سخت څخه ډېرسخت او د خطرناکو پېښنوله پېښېدوسره ژوند وکړو، وروسته خپل ژوند داسې روان وساتو لکه چې هېڅ هم نه وي پېښ شوي . د بېلګې په ډول، که یوڅوک د خپلې سوداګرۍ د مال د بربادېدو خیال له ځان سره ساتي، نوښکاره ده چې هغه

به په لږ تاوان خوښ وي، څوك چې د وژل كېدو په وېره كې وي، نود بنديتوب په صورت كې به هرومرو د الله(ﷻ) شكرپرځای كوي او د غميزې درد به پرې اسانه تېرېږي .

***

## كله چې روغتيا او خواږه لرې نو پرېاتې دنيا دې سلام وي

پر ۱٤۰۰ هـ ق كال موږ په هغه سيمينار كې چې د يمن پولې ته څېرمه په يوه تبليغاتي پنډغالي كې جوړشوی و ګډون وكړ، د هغه پنډغالي پرانيستنه ښاغلي شيخ عبدالعزيزبن باز(رحمه الله) كړې وه . له هغه تبليغاتي ځای څخه زه له خپل يوه استاذ سره چې په اصول الدين پوهنځي كې زموږ د تفسير ښوونكی و د "ابها" په لور وخوځېدو، كله چې له ابها څخه بېرته د سيمينارځای ته راستنېدو، نو د"ابهاـ تهامه" پرستونزمنه غرنۍ لاره په داسې حال كې را روان شو، چې هغه لاره د سختو سېلابونو له امله هم خرابه شوې وه. زموږدغه استاذ چې د تفسيرپه پوهه كې يې هېڅ شك نشته، خوموټرچلولو كې خورا كمزوری و، هغه دا ونه منله چې زه موټر وچلوم له دې امله چې پرما يې ستونزه نه پېرزوكېده او يا دا چې په خپل موټروېرېده . په هرترتيب هغه ډېره خرابه موټرواني كوله، خو كاشكې چې هغه بيا هم لږ په پام سره موټرواني كولی، بلكې داسې موټريې ځغلوه، لكه د موټروانۍ په ځغاسته كې يې چې ګډون كړی وي، نژدې و چې په يوه ژوره كنده كې مو وغورځوي، ځان به يې په موټر پورې نښلولی اوموټربه يې ځغلوه، ان تر دې پورې چې موږ د تېزوالي له امله د موټرد ماشين بنګارهم اورېده . حقيقت دا و چې ما هغه شپه د مرګ او ژوند ترمنځ تېره كړه، يوځل به مې له دنيا سره الله په اماني وكړه، بيا به راژوندی شوم، غاښونه، پښې اولاسونه به مې ټينګ ونيول او بيا به مې بدن سست كړ . ما به ورته سوال او زاري كوله، نصيحت به مې ورته كوه، چې د الله له پاره قرار ځه، خوهغه به زما دا خبرې داسې ګڼلې، لكه چې زه يې نورهم تشويقوم چې چټک لاړشي، په همدې حالت كې روان وو، چې يوې پراخې درې ته ورسېدو باران هم ورېږي، ناڅاپه راباندې سخت سېلاب راغی، موږپه پيل كې بې پروا وګڼله،خوكله چې د خوړمنځ ته ورسېدو، نو زموږ د موټر ټايرونه ونښتل، په ورو ورو اوبه راپورته كېدې تردې چې موټرته اوبه راننوتې، نوموږله موټرڅخه كوزشو منډې موكړې، موټرموځای پرځای پرېښوده اوپه ډېره ستونزه باندې له خوړڅخه تېرشو، له نيمې شپې څخه ترسهاره پورې د خوړ پر غاړه بې خوراكه اوبې څښاكه، بې بسترې او بې بړستنې پاتې شو، دا چې موږ مرګ ته سترګې غړولې، نو له همدې

امله موږ دا هم غنیمت ګڼله چې ژوندي ووځو او په روان حالت ځکه خوښ وو، چې موږ خو دا وېره درلوده چې موږ به په دې سیلاب کې له منځه ځو، نود الله تعالی ستاینه مو وکړه چې که هرڅومره ستونزه او بې خوبي موهم ولیده، خوبیا هم روغ او ژوندي پاتې شو . ګهیځ یو داسې څوك راغی چې موږ یې له هغه دردوونکي حالت څخه وژغورلو اوپه روغه ځېته بېرته وګرځېدو .

په دې اړه ماته د یوې امریکایي جنګي بېړۍ قېصه راپه زړه شوه، یو امریکایی چې په دویمې نړېوالې جګړې کې یې ګډون کړی و جنګي بېړۍ یې په توپ ویشتل شوې وه، کله چې بېړۍ ولګېده نوپه سمندرکې ډوبه شوه،هغه پوځې په کې دیارلس ورځې د اوبو لاندې پاتې شو، په هغه حالت کې ورسره یواځې یخې اوبه او وچه ډوډۍ وه، نوکله چې له اوبوڅخه روغ راووت پوښتنه ورڅخه وشوه، چې په هغه حالت کې تا کومه د پام وړلاسته راوړنه ترلاسه کړه؟ په ځواب کې یې وویل، چې ماپه هغوڅو وېرونکو ورځوکې دا زده کړل، هرهغه څوك چې روغ بدن، وچه ډوډۍ او اوبه ولري، نوپه حقیقت کې یې د ټولې نړۍ پادشاهي ګټلې ده. او زه ـلیکوال- تاته وایم، چې د بدن له روغتیا، د فکراو زړه له راحت، د خوراك له پاره د وچې ډوډۍ، د څښاك د اوبو او د اغوستو له پاره له جامودرلودلو پرته دنیا نورڅه شي ته وایي؟ له دغو شیانوپرته دې په نوره دنیا سلام وي !! زه او ته ولې د خپل ژوند په اړه له حساب څخه کارنه اخلو، او له ځانه پوښتنه نه کوو چې موږ څه شی لرو او څه شی مو نه دي ؟ د سمې ارزونې په پای کې به موږ دې پایلې ته ورسیږو، چې موږ لږ تر لږه اتیا سلنه د ژوند وسایل او نعمتونه په لاس کې لرو او یواځې شل سلنه او یا له شلوڅخه کم د ژوند نعمتونه او شیان به داسې وي، چې موږ به ورڅخه بې برخې یو، په موږ کې ډېرداسې خلک شته چې زما او ستا په شان دي، ډېرکم داسې حالت به وي چې ستونزه به له نعمت څخه لویه وي، خوبیا هم زه او ته له دې امله ژاړو چې فلانی شی نه لرو، خو کوم شی چې لرو پرهغوشکرنه وباسو، یا دهغو نعمتونو له امله خواشیني یو، چې له لاسه مو وتلي وي، خوهغه ښېګڼې چې مو په لاس کې دي هغو ته نه خوشحالیږو، د ستونزې د پېښېدو له امله کړیږو، خو په هغه شي باندې شکر نه وباسوچې دم ګړۍ موپه لاس کې دي .

***

## د دښمنۍ اور مخکې له ګرمېدوڅخه ووژنه !

زما په خپل دې لنډ ژوند کې به هېڅکله داسې نه وي شوي چې زه د خپل کوم حق ترلاسه کولو یا پرما د چا د نیوکې یاماته د کړاو پیښېدو له امله دخپل زیانمن شوي شان د بیا لاسته راوړو له پاره تللی او یا مې هڅه کړې وي . که داسې شوي هم وي نودغو هڅو زماستونزه نوره هم درنده او کړکېچنه کړې ده، نور یې هم پښېمانه کړی یم، په دې ګومان چې خپل ځان ته اعتبار راوګرځوم، یا هغه ګوتنیونکي ته قناعت ورکړم، نوهغه مهال بیا د خبرو اترو پایله ترخه اوخړه شوې، ستونزه لا نوره هم غوټه شوې ده، زما او د هغه کس په منځ کې بېلتون او زړه بدوالی تر دېرځنډ پورې پاتې شوی، او مخالف شخص پرخپله تېروتنه نورهم ټینګ ودرېدلی دی، په پای کې بیا ما داسې ارمان کړی، چې کاشکې مې دا غوښتنه اوپلټنه نه کولای، ماته خو تردې ټولوښه لاره داوه چې له بخښنې، صبر او زغم څخه مې کاراخیستی اوځان مې ناخبره نیولی وی، چې همدا د ربښتینې کتاب قرآنکریم غوښتنه ده :﴿ای پیغمبره د بخښنې لارخپله کړه، په ښوکارونوامرکوه او له ناپوهانوڅخه ځنګ ته شه ﴾. الاعراف ۷:۱۹۹ ﴿ باید عفوه وکړي او ورڅخه مخ واړوه ﴾. النّور۲۴:۲۲ ﴿ مؤمنان چې کله په قهرشې بخښنه کوي ﴾.الشّورئ ۴۲:۳۷

﴿ په ښه توګه د بدۍ مخه ونیسه، بیا به وګورې چې ستا دښمن ستا د خواخوږې دوست غوندې شي ﴾. فصّلت ۴۱:۳۴ ﴿ کله چې د ایمان له خاوندانو سره ناپوهان په خبروکې ونښلي، نو مؤمنان ورسره روغې خبرې کوي ﴾. الفرقان ۲۵:۶۳

چې داسې ده نو تاته په کار دي چې کله د ځان په اړه له چا څخه ناوړه خبره واورې ځواب یې مه ورکوه، که داسې دې ونه کړل، نوخبره به درته لس چنده شي او که په کوم شعرکې وغندل شوې داسې وګڼه چې تاهغه شعرهېڅ نه دی اورېدلی، که ته یې په شعربانډې ځواب کړې، نوخلکوته به بوختیا پیدا کړې، ادیبان به یې یاد کړي، لنډه دا چې دخلکو پام به درته راواوړي اوکله چې ستاپه اړه څه بده لیکنه وشوه، نوته هغه په بې پروا اوناخبرۍ سره ځواب کړه، داسې وبوله چې بل څوک یې هدف دی . که کوم بد نیته ـکینه کښ- دربانډې څه نیوکه وکړه، نوځان ناخبره او بې پروا ونیسه او داسې یې اټکل کړه چې ګواکې هدف یې کوم دېوال دی، پخوانیوعلماوو ویلي دي، زغم د انسان عیبونه ښخوي .

شاعروایي : که سمندرته کوم هلك تیږه واچوله، نو سمندرته څه زیان نه رسوي، بحرد ځمکې پرمخ پاکې اوبه دي او مړه غوښه ـ کب ـ یې حلاله ده،

ځکه چې اوبه کله له دوه ژیوو یا مشکونوڅخه ډېرې شي، نوهغه پلیتي نه زغمي، د زغم خاوند همداسې وي، چې د دښمنانو او کینه کښوهېڅ پروا نه لري، او د هغوی د کینې په وړاندې له ځان سره ښه چاره لري . ﴿ ببشکه چې ستا دښمن بې بنیاده دی﴾. الکوثر ۳:۱۰۸

د وزګاروخلکود ګډوډیو په وړاندې صبرناک بنده د ځان ساتنې له پاره ښه سپرساتي : ﴿ بېشکه ته -ای پیغمبره- زموږترڅارنې لاندې یې﴾. الطّور۴۸:۵۲

***

## چاته په سپکه سترګه مه ګوره

ما په خپل ژوند کې یوخوی پېژندلی، هغه مې تجربه کړی او په کار مې اچولی، خو زه په خپل دې اټکل کې تېروتی نه یم اوهغه دا چې، بېشکه د ادب په چوکاټ کې له لافو او دروغوپرته د چا ستاینه هرومرو ښه اغېزکوي، ورته خوشحالیږي، که هرڅومره پرهېزګار، عاجز اوملنګ مزاجه هم وي، دنیوي زیب او زینت یې زده نه وي، خو بیا هم په خپله ستاینه خوښیږي، ځوك ډېراوځوك لږ. زه له ډېرو داسې علماوو- دینپوهانو- سره ناست یم چې هغوی پرهېزګاره او دین دوسته دي، خوکله چې په کوم مجلس - ناستي- کې د خپل ځان په اړه د ستاینې او مننې خبره واوري، نود خوښی له امله یې زړونه روښانه شي، مزاج یې وغوړیږي او تندی یې پراخ شي . بېشکه چې نرمه خبره پر زړونو باندې ځانګړی اغېز لرې او یقیني خبره ده چې له رسول الله (ﷺ) څخه موږ ته راپاتې د حق تګلاره همدا ده چې : (( دخلکو عزت او درناوی باید دهغوی د ارزښتونو په رڼا کې وشي )). بېشکه دا به یوه الٰهي پېرزو وي چې ته خلکو ته په - خپلوکړنو- سره نېکمرغي ورپه برخه کړې اوخپل ځان له خلکو سره په ښکلې تګلاره او راشه درشه باندې خوښ کړې .

﴿ د الله مهرباني وه چې مسلمانانو ته نرم شوې، که بدخویه او زړه سختی وی، نو مؤمنان به ستا له خوا څخه خواره واره شوي وو ﴾. آل عمران ۱۵۹:۳

د "څرنګه به ملګري پیدا کړې" کتاب لیکونکی په دې اند دی چې ځان ته د خلکو د راجلبولو له لارو چارو څخه یوه دا ده چې ته د هغوی ښه ستاینه وکړې او لا په کې ژور ننوځې، خو زه په دې نظرنه یم بلکې په دې اړه هم باید

له اعتدال ـ منځلارۍ ـ څخه کار واخیستل شي . ﴿ بېشکه چې الله هرشي ته یوه اندازه ټاکلې ده ﴾. الطّلاق۶۵:۳

لنډه دا چې نه برېنده او دروغجنه غوره مالي او نه بشپړ وچوالی او بې پروایي په کارده، هروخت باید له ښواخلاقو، لوړو او درنوخویونوڅخه کار واخیستل شي . زما اوستا له توانه پوره ده چې خلکوته خپلې پوزې راځوړندې کړو ـ تروه شوو ـ خو له دې کارسره به په حقیقت کې موږ ته زیان رارسیږي، نه خلکوته، ځکه هغوی کولی شي له ما او تا پرته نور داسې څوك ومومي، چې هغوی به ورسره له خاکسارۍ څخه کاراخلي، خاندي به ورته اوهروخت به ورسره همکاري کوي . ﴿ منونکومؤمنانوته وزرې وغوړوه﴾ . الحجر ۱۵:۸۸

زموږ نېکمرغي دخلکو په راخپلولوکې ده، ځکه چې هغوی ستا ستاینه کوي، دعا درته کوي، مینه درسره لري اوپه ځمکه کې دالله تعالی ګواهان شمېرل کېږي. ﴿ خلکوته ښایسته خبرې وکړئ ﴾. البقره ۲:۸۳

زه په خپل ژوند کی ډېر داسې خلك پېژنم چې هغوی دخلکو زړونو ته په لارموندلو کې ځانګړی مهارت لري او له هماغه امله بیا موږ ګورو چې د خلکو زړونه پرې داسې رامات وي، لکه پانې چې له نرم او یخ باد سره خوځیږي راخوځیږي، دوی چې چېرته ځي، چېرته اوسیږي، نو د خلکو د مهربانۍ سترګې یې څاري، مخونه اوتندي یې د خلکو په وړاندې د خوښۍ له امله ځلیږي، زړونه یې د خلکو په اړه پاك او ژبې یې سپېڅلې وي، څومره د نېکمرغۍ څښتنان دي، او نورخلك د هغوی له امله څومره نېکمرغه دي؟ د الله(ﷻ) له مرستې او توفیق نه وروسته د هرانسان له توانه دا پوره ده، چې هغه دې په خلکو کې د منلو پوړۍ ته د رسېدلو هڅه اوزیاروکړي . دا یوه داسې درجه ده چې نه د قارون په خزانو اخیستل کیږي، نه دسلیمان(علیه السلام) په سلطنت او نه د هارون الرشید په خلافت، بلکې د دې پوړۍ د لاسته راوړلو بنسټیزلامل سپېڅلی نیت، له الله(ﷻ) سره ربښتینولي، له خلکوسره د ښېګنې مینه، له الله(ﷻ) اودهغه له پیغمبرسره مینه، د نفس ځورول، ځپل اوملامتول دي . ښه اوسپېڅلي خویونه ځکه ستومانوونکی وي چې مخپورته خیژي، بد خویونه اوسخت مزاج ځکه هغه چاته اسانه موندل کیږي، چې بد اخلاقي مخښکته حالت کې وي، نولوړېدل ستونزمن اوسخت وي، خو کوزېدل اسانه وي .

شاعر وایي : څوك چې په خپله سپك وي هغه ته سپکاوی اسانه وي، ځکه له مرګ نه وروسته د مړي زخمي کول هغه ته څه درد او زیان نه رسوي .

ما د ژوند خوند څکلی، یوډول خویونه مې په کې موندلي، هغه تا او نورو ته نېکمرغي درپه برخه کوي اوهغه دا چې د بل چا قابلیت - ذهني شتمنۍ - ته په درنده سترګه کتل، دهغوی په توانونو- برلاسه کېدو- اقرارکول، د هغوی د ښوهیلو پیاوړي کول، نوره هڅونه اوپه ټولنه کې دهغوی په ښو زیارونو او هڅو باندې سترګې نه پټول دي . د هغوبدوخویونو له جملې څخه چې دهغې له امله د نورو پر ژوند بداغېز پرېوځي او روحیه یې خړوي، په حقیقت کې ځان غوښتنه ده، چې پرته له خپل ځانه ورته نورڅوک نه ښکاري، او داسې فکرکوي، چې ګواکې یواځې په خپله همدا یوځلېدونکی ستوری، د زماني معجزه، د فلک څوکه اود وخت برکت دی، خوبل څوک ورته کمزوری، نیمګړی، د نیوکو لاندې شخص ښکاري .

زه له ځینو داسې خلکو سره هم پاتې شوی یم، چې هغوی د خیر په برخه کې د خپل قابلیت وړ کارونه او هڅې کړي دی، ما یې په اړه داسې اټکل کاوه چې هغوی ته به خپلې وړتیاوې څرګندې وي اود خپل اغېزپه اړه به له لافو څخه کار نه اخلي، خو د وخت په تېرېدو راته څرګنده شوه چې ډېره برخه یې داسې کسان وو چې خپل زیارونه به یې له هغې اندازې څخه ستربلل، چې خلکو به پرې ګومان درلود. د بېلګې په ډول : د پوهنتون یوه زده کوونکي چې د لومړني پړاو زده کوونکو ته یې څو وړې رسالې په بیړه سره لیکلی وی، ما ورڅخه مننه وکړه، خو هغه له وخت څخه په ګټه اخیستود خپلې لیکنې په اړه اوږده څرګندونه وکړه، چې کتابونه یې ډېرزیات چاپ، خلك پرې رامات او ډېرتوکونه یي پلورل شوي دي، ډېروخلکو یې ستاینه هم کړې ده، نو زه هک پک شوم چې دغه کس ته خپل ځان څومره غټ اولوړښکاري، خپلې هڅې اوزیارڅومره قیمتي ګڼي اوڅومره به ورته هغه خلک بد ښکاري، چې څوک یې هڅو ته په سپکه وګوري، یا یې درناوی ونه کړي او یا یې له دغه ډول اغېزمن کارڅخه ځان بې خبره ونیسي .

ما د یوه بل داسې زده کوونکي چې نامتو او پېژندل شوی نه و د وینا فیته واورېده، ګوزاره حاله وه، په دې خاطرچې هغه نورهم وهڅېږي خپل زیار لا پسې ټینګ کړي، ما د تلیفون په کرښه ورڅخه مننه وکړه، کله چې ما ورته د فیتې یادونه اوستاینه وکړه، نوسمدلاسه یې دا یو تیارفرصت وګڼه، لومړی یې د دعاء او زارۍ لاسونه الله(ﷻ) ته پورته کړل، چې الله(ﷻ) یې په دې فیته نارینه او ښځینه مسلمانانوته ګټه ورسوي، ګواکې چې دا فیته په ټوله نړۍ کې مشهوره شوې او د لمرپه شان یې ټوله نړۍ پوښلی ده، بیایې ماته بشپړه څرګندونه وکړه

چې څرنګه یې وینا ته تیاری ونیوه، څومره خلك ورته ناست وو او دې ته ورته نورې داسې څرګندونې چې ما پرې دا ګومان نه کاوه، بیا راته پوره روښانه شوه چې انسان په طبیعي ډول د خپل ځان د قدر، وړتیا او ارزښت په اړه څو چنده خبره پرسوي، نو که د فیتې په اړه چا ورته ناوړه اوکم ارزښته خبره وکړه څومره به له غم نه ډک شي !

ما له یوه عالم څخه هغه مهال مننه وکړه چې خلکو ته یې له پند څخه ډکه وینا کړې وه، په داسې حال کې چې زه هغه مهال ورته ناست نه وم، خوهغه راته وویل، چې ډېرزیات خلك یې وینا اورېدلوته راغلي وو، ډېرخلک یې له وینا څخه اغېزمن شوي ، ډېرو نورو ژړلي وو اوځینې کسان د ده په لاس توبه ګارشول . نو اوس تاته په کاردي چې په هره کچه وي د بل د شان درناوی وکړې او له سپکاوي څخه یې ځان وژغورې : ﴿ یو قوم دې په بل قوم پورې توکي نه کوي، پرهغه چاچې ملنډې شوې دي کېدای شي هغوی به له مسخره کوونکوڅخه غوره وي، او نه به ښځې پر نورو ښځوملنډې وهي،کېدای شي هغه ښځې- په چا چې مسخرې شوې دي ـ له هغو مسخره کوونکوښځوڅخه غوره وي ﴾. الحجرات ۴۹: ۱۱

یوله هغوخویونوڅخه چې تا د خلکوزړونوته نژدې کوي دا دی، چې خلک د خپلوقابلیتونواوالٰهي ذهني شتمنیوپه لور وهڅوې، پاملرنه ورته وکړې، په ځانګړې نظر ورته وګورې، چې دا د پاک قرآن د ریښتینې لارښوونې غوښتنه ده.

﴿هغه کسان مه شړه چې ګهیځ اوماښام خپل رب یادوي﴾.الانعام۶: ۵۲ ﴿هغه کسانوسره خپل زړه ډاډه کړه چې خپل رب سهاراوبېګاه یادوي﴾.الکهف۱۸: ۲۸ ﴿تندی یې تریو کړاومخ یې واړوه کله چې وړوند ورته ورغی، اوتاته څه معلومات و، کېدای شي هغه به د خپل نفس پاکوالی غوښته﴾. عبس ۸۰: ۱-۲

د سیرت لیکونکو یادونه کړی ده چې د "جبله بن الایهم" د اسلام د نه منلو لامل دا و چې د هغه د شان خیال ونه ساتل شو اود هغه په اتکل چې څومره مناسبه وه، هغومره پاملرنه ورته ونه شوه . مصري لیکوال "طٰه حسین" په خپل کتاب "الأیام" کې لیکلي، چې د ازهرپوهنتون د کانکورپه ازموینه کې ورته د ازهر یو استاذ وویل، وړونده د کهف سورت ولوله! د ده په وینا، دغه خبره یې په غوږ کې تردېره وخته پاتې وه، چې وربانډې ځوربده، کړبده، رپېده، خو پایله

يې دا شوه چې "طٰه حسين" وروسته د ازهرسرسخت دښمن شو، هرمهال به يې ستغې سپورې ورپسې ويلې او د تل له پاره يې ازهرپرېښود .

ايا داسې څوک به وي چې خپل ځان داسې بې ارزښته او ټيټ وګڼي چې څوک ورته په هېڅ قيمت قانع نه وي ؟ اوڅوک به داسې وي چې هغه ته خپل ځان هېڅ شی ښکاره شي، او داسې دې وانګيري چې د يادونې وړهم نه دی؟ نه! هېڅوک داسې نشته، هرچاته خپل ځان ګران وي، هرڅوک خپل ارزښت پېژني اوپه دې اړه پلنې او اوږدې خبرې کوي . که کله ته په يوه مجلس کې ناست اوسې، نوپه ځيرځيروګوره، هغه څوک چې په دې ناسته کې خبرې کوي هغه به د، زه وايم، ما وويل، زه ووتلم، مخامخ شوم، راته وويل شو، تليفون راته وشو.. ځانته به دغه ډول ضميرونه کاروي، نو ايا ته غواړې چې زه او ته دواړه دغه ډول طبيعتونه او نفسي غوښتنې په بې پروا توګه له منځه يوسو ؟

هغه مهال چې زه د رياض په دارالمعلمين کې د منځني پړاو په دويم ټولګي کې وم، مابه کله کله شعرويلو، ورسره مې شوق و، پاملرنه مې هم ورته کوله، ما د دارالمعلمين مجلې ته يوشعرد خپراوي له پاره ورکړ، ځينو ښوونکو وستايلم، د هغوی له ستاينې څخه ما له ځان سره داسې وانګېرله چې ګواکې زه هم د "ابوتمام" او"متنبي" غوندې يم، يا ورڅخه نورهم لوړيم . يو ځل د يوه بل ښوونځي زده کوونکي زموږ د ښوونځي ليدلوته راغلل د هغوی په وياړد ښوونځي له اړخه يوه کړنلاره جوړه شوه، له ماڅخه وغوښتل شول چې په دې کړنلاره کې څوبيته شعر ولولم، ځکه چې په زده کوونکو کې زما په څېرد شعربل دعوه ګېر نه و، نو زه د ادارې له خوا وګومارل شوم، چې د "تيمم" ترعنوان لاندې نظم جوړکړم چې معنا د ايت داسې ده : که تاسواوبه ونه موندلې نو په پاکه خاوره تيمم ووهئ . له ما وروسته په ښوونځي کې د ادبياتو د استاذ وار وهغه زما د دې غزل ستاينه وکړه، چې له ښه اند او پنده ډکه وه، نوما هم په دې وخت کې په زړه کې د دې ښوونکي خبره باندې باوروکړاو دا ګومان راته پيدا شو چې زماشعرپه ټولوکې ښکلی دی، خوکله چې زه لوی شوم، د ادب خوند مې وڅکه اوشعرمې وپېژنده، نو ما بيا پرخپل ځان اوپرخپله هغه غزل وخندل، چې پيل يې داسې و: ای زما ستر او په مينه باندې ودان درسي مرکزه! زه تاته خپل سلامونه وړاندې کوم، په داسې حال کې چې زما په مخ کې ستا په اړه لوړې هيلې شته .

نو ته ووايه چې زه او ته به د نورو له رانسکورولو څخه څه ګټه پورته کړو؟ هغوی خوپه هېڅ صورت له خپلوعادتونو اوتګلاروڅخه ګرځېدونکي نه

دي، موږ به يواځي همدومره وکړو چې دهغوی طبيعتونه اومزاج خرپړکړو اود هغوی په دښمنۍ اوغصه به ځان اخته کړو، کله چې داسي ده نو لازمه ده چې د خلکوپه ژوند کې دهغوی د مثبت اړخ او نېکوخويونوستاينه اودرنښت وکړو او د هغوی له نيمګړتياووڅخه ځان ناخبره ونيسو .

***

## څه چې کرې هغه به رېبې

ځينوپوهانو ويلي چې دخلکودعيبونو لټوونکی او رابرسېره کوونکی د مچ په څېردی، چې هروخت په زخمي ځای پسې ګرځي، ځينې خلك د (خو) په ناروغۍ اخته وي، کله چې ته د هغه په مخ کې د يوچا يادونه وکړې، نو وايي به چې هغه ښه سړی دی خو ... نو بيا ته واوره چې له (خو) څخه وروسته نورڅه وايي، غندنه، ناروا کنځل اوپه کلکه توګه سپکاوی . ﴿ تباه دی هرغيبت ګر، پيغور ورکوونکی﴾.الهمزه ۱۰۴:۱-۲ ﴿پېغورورکوونکی اوچوغلګر﴾.القلم ۶۸:۱۱ ﴿ تاسو يود بل غيبت مه کوئ ﴾. الحجرات۴۹ : ۱۲

زما اوستا نېکمرغي په دې کې نغښتې چې د بل چا قابليتونو اومثبتو اړخونوته د قدر په سترګه وګورو، اوماته دا هم څرګنده شوی، چې په هره اندازه موږ د خلکو درناوی کوو، هماغومره به موږهم د هغوی له اړخه د درناوي او پاملرنې وړ ګرځو. همدا ډول که څومره موږ له هغوی سره لرېوالی، سختي اومخ اړونه څرګنده کړو، په هماغه کچه به موږ د هغوی له خوا ورته کړنې وګورو.

﴿همدا يې له کړنو سره برابره جزا ده ﴾. النّبأ ۷۸:۲۶

په موږ کې به هغه هوښيارڅوك وي، چې له نوروخلکو څخه د خپل ځان درناوی غواړي، خوپه خپله بيا د هغوی د سپکاوي لېواله وي، له نوروڅخه د ځان عزت غواړي، خوپه خپله يې د خلکوپه سپکولوپسي راخيستې وي، داخويو ظالمانه وبش دی . ﴿ تباهي ده په تول کې ډنډه وهونکوته - يعنې ځانته درانه اوخلکوته سپک تول کوي﴾. المطففين ۸۲:۱

***

## د نورو هڅې مه شنډوه

ما له ټولنيزو اړيکوڅخه يوه دا تجربه ترلاسه کړې، چې ته خپل ځان او ملګرى هغه وخت ښادولی شې چې ورسره وړ او سم چلند وکړې، هغه ته د غږ په وخت خپل نوم يا تخلص وکاروې، کوم يو چې هغه ځان ته غوره او خوښ ګڼلی، له هغه چاڅخه بل بې احساسه او بې باکه نشته، چې خپل ورورته په ورک ضمير غږکوي، لکه : اى تاته وايم، فلانى تاته وايم، اى سړيه او داسې نور. ته د خپل ځان په اړه هم فکر وکړه، ايا ته دا خوښوې چې څوك دې ستا د نوم په اړه ځان نا خبره ونيسي، نوم يا تخلص دې ناسم واخلي؟ د نورو په اړه ځان ناخبره نيول اوهغوى له پامه غورځول، د شخص خراب خوى، بد اخلاق، سوړاحساس او کمزورى وجدان څرګندوى . د يوې مېرمنې له پاره به دا د حيرانتياخبره نه وي چې خپل کورپاك او برابرکړي، د ناستې خونه په ښکلوبويونومعطره کړي، خو خاوند يې چې کله کور ته راننوځي، هغه د خپلې مېرمنې له دغوټولوهڅوڅخه ځان ناګاره او سترګې پرې پټې کړي، داسې څرګنده کړي چې هېڅ هم نه دي شوي، نه يې په مننه کې له خولې څخه کوم ټکى راوځي او نه څه ځانګړې پاملرنه ورته وکړي، نه يې په اړه څه خوښې څرګنده کړي .

ښېشکه دا ډول چلند د يوې هڅې د بربادولو او د پام وړکار د له منځه وړلو پرته نور څه نه دي، نو ته بايد د نورو په اړه له پاملرنې اوڅارنې څخه کار واخلې، که د ښه کارله خاوندانوڅخه چا مننه وکړه، د ښه رنګ، ښکلي بوي، ښه کار، ښه خوى، اغېزمنې شعري غزل او د ګټورکتاب ستاينه يې وکړه، نودهغو خلکوپه ليکه کې به وګڼل شې، چې هغوى دغيرت اومېړانې څښتنان، وفاداراو امانتپاله خلك دي .

***

## د نورو پېښې پرېږده

يووخت مې له شاعر"عمرابوريشه" څخه " زه په مکه کې" ترسرليک لاندې قصيده واورېده، د شعرلومړى بيت يې دا و،چې اى د شکو د ډېريو ناوې! ته لا تراوسه هم د شپوله تېرېدو سره سره دحق سرچېنه يې . له دې امله چې هغه قصيده په يوه ښکلي انداز اوخوږه نغمه کې وړاندې شوه زما د پام وړ وګرځېده، نو پرهمدې ښسټ مې دا قصيده او د شاعر د وړاندې کولوانداز ياد کړ، بيا مې دهغه په انډول او رديف کې په خپله يوه قصيده جوړه کړه اود خپل

دارالملعمین په یوه علمي ښوونیزسیمینار کې مې ډالۍ کړه . ما هڅه وکړه، چې د "ابوریشه" په څېر یې ووایم، دهغه د شخصیت خپلولوکوښښ مې وکړخو زه کله "ابو ریشه" کېدای شوم؟ نوله همدې امله راباندې دهغې قصیدې لوستل درانه اوساړه تمام شو، پایله یې دا شوه چې نورمې دخلکو پېښې یاهغوی غوندې اندازپرېښود، اوپه خپله اصلي بڼه کې مې د شعرونو وړاندې کولوته ادامه ورکړه همدې ته ورته مې د یو امام تقلید  رایادېږي، چې ما ورپسې یو وخت د "جده" په ښارکې د ماسختن لمونځ کولو، هغه امام هڅه کوله د یوه نامتوقاري پېښې وکړي، خوتوپیرېې ډېر و، د ده او د هغه بل قاري طرز څرګند جلا و، د تقلید له امله د امام رګونه وپړسېدل، غږ یې خراب اوسخت شو، ساه یې بندېده، زه یې هم ترشا تنګ شوم، د هغه د سخت او ستونزمن حالت او له دې امله چې خپل ځان یې په داسې یوکار ځورولو چې په توان یې پوره نه و، نوما هم دهغه ترشا د ستومانۍ احساس وکړ اوپه دې خبره مې باورپوخ شو، چې الله تعالٰی هرانسان له ځانګړو وړتیاوو، قابلیتونو اوصفتونوسره پیدا کړی، چې یو له بل سره په کې مشابهت نه لري.﴿تاسو هریوته موږ جلا جلا د ژوند تګلاره ټاکلې ده﴾.البقره ۲:۱۴۸

که ته غواړې یو په زړه پورې، نوی او اغېزمن کارسرته ورسوې، نو په خپل اصلي شکل، خوی اوتګلاره باندې پاتې شه : ﴿ ای پیغمبره ! ووایه چې هر څوك به په خپله کړنلاره روانیږي ﴾. الإسراء ۱۷:۸۴

نو ته د نورو د غږونو، د خبرو د څرنګوالي، ناستې، ولاړې او د تګ د پېښو هڅه مه کوه، چې ته خپل ځان د تقلید له غلامۍ او له نورو سره د ورته والي له تاوانه وژغورې! ځکه ستا راجذبول، تازه ګي، خوږوالی، نوښت او اغېزستا په ازادۍ او د ورکړې په اړه ستا په ځانګړتیا او ځانته والي کې نغښتی دی .

***

## هغه کار پرېږده چې ته یې نه شې کولی

په"ابها" ښارکې مې د جمعې ورځې د لمونځ اود ممبرد بیان دنده درلوده، د تقریرډېره برخه د رسول الله (ﷺ) د سیرت په اړه وه، داسې برېښېده چې زما دا تګلاره خلکو ته په زړه پورې وه . یوځل له ما څخه غوښتنه وشوه، چې په ټولنه کې د مهر د لوړوالي ستونزي وڅېړم، ځکه چې عام وګړي دې ته اړ وو، خو څرنګه چې دا یوه تقدیري موضوع وه، د خلکو د پوهې له پاره په کې د

ژونديو مثالونو او د ولسي پېښنو بېانولوته اړتيا برېښېده، حال دا چې زه په دغه ډول بيانونو کې تکړه نه وم، ځکه چې زما قابليت په بنسټيزه ډول په سيرت کې و چې ماته په زړه پورې او زه يې لېواله هم يم، خوپه هرصورت د هغوی غوښتنه مې ومنله، د مهرد لوړوالي په اړه مې وينا پيل کړه، اود موضوع اړوند ايت اوحديث مې وړاندې کړل، بيا د حديث په څېړلواوڅېړلو کې ښکته او پورته ولاړم، کوښښ مې کاوه چې د موضوع خواره واره معلومات سره راټول کړم، خوخبره لا ګډه وډه شوه، خولې راباندې راماتې شوې، بدن مې سوړشو، په داسې حال کې مې خطبه ختمه کړه چې د اسمان له څرکه پرته ما ورته کوم بل مناسب سرليک هم پيدا نه کړ، ځکه چې د موضوع په اړه زما بيان هم د افق د څرك په څېردانه وانه او سوړ و، وروسته زه دې پايلې ته ورسېدم، چې زما له پاره به غوره دا وي پرهغه موضوع خبرې وکړم په کومه کې چې زه ښه تکړه يم، وعظ هم په هغه څه کې وکړم چې زه يې ښه وړاندې کولی شم اوخپل دماغ اوغړي له تکلف څخه وژغورم ﴿ زه له تکلف کوونکوڅخه نه يم ﴾. ص ۸۶:۳۹

عمر(رضي الله عنه) وايي : موږ د تکلف ( په زوره او له بېځايه ځان تکليفولو) څخه منع شوي يو. که نېکمرغي اود خپلو زړونو هوساينه غواړو او دا مو خوښه وي، چې خلکوته کره شيان وړاندې کړو، نو پرهمدغه بنسټ موږ ټولوته په کاردي، چې بايد هغه خبرې اوکړنې سرته ورسوو، چې موږ يې توان لرو اوپه ښه ډول يې ترسره کولی شو، نبوی وينا ده چې : (( بېشکه د الله تعالٰی خوښېږي چې کله تاسوکوم کارکوئ، نوپه کارده چې په ښه او کره توګه يې بشپړکړي)).

په کره توګه کارکول نفس له پښېمانۍ څخه ژغوري، وجدان له ملامتۍ يا تکليف څخه خلاصوي اوپه حقيقت کې وړشخص ته امانت سپارل دي .

***

## په ژوند کې بې نظمي مه کوه

يوه ورځ مې د لوستلوپه نيت دولس تفسيرونه: طبري، ابن کثير، بغوي، زمخشري، فتح القدير، قرطبي، في ظلال القرآن، شنقيطي، رازي، خازن، ابوالسعود او قاسمي راټول کړل، بيا مې هوډ وکړ چې زه به هره ورځ د يوه ايت تفسيرپه دغو ټولوتفسيرونو کې لولم، يو تفسيربه مې راواخيست په هغه کې به مې د ايت په اړه ليکل شوي هرڅه ترپايه پورې ولوستل، بيا به مې بل را

واخيست، بيا درېيم اوپه همدې ترتيب ټول دولس تفسيرونه به مې ولوستل، بيا به مې له ځانه وپوښتل چې له دې لوست څخه زما په ذهن کې څه پاتې شول ؟ فکرته به مې هېڅ د يادونې وړ داسې څه نه راتلل، يواځې همدومره څه به راسره وو چې له هغه نه به لا له پخوا څخه خبر وم، پايله دا شوه چې زه له دې ډول لوستنې څخه ستومانه شوم، لامل يې دا و چې ما د لوستلو له پاره له کومې طريقې څخه کاراخيسته هغه کاميابه نه وه، ځکه چې په دې کې سمبښت اوجوړښت ته پاملرنه نه وه شوې، هغه يوه بېړنۍ او ناسمه مطالعه وه، نو ايا ته غواړې په قراره توګه ګټه وکړې ؟

که داسې غواړې نوتا ته په کاردي چې خپل فکرد کتابونواوعلمي سرچېنو په ډېروالي، د ذهن په دانه وانه کولو او د زړه په ستړيا سره ګډوډ نه کړې، بلکې پرځای يې له يوې برياليۍ، ګټورې او نښلوونکې نقشې نه کار واخله، چې تا له بيرې او ستومانۍ څخه ژغوري، دوام او اوږد مهاله لاره برابروي او ضمانت يې درکوي، ان که په دې ډول تګلاره کې لاسته راوړنه لږه هم وي، خولږ کارپه مسلسله توګه سرته رسول يوه ستره قاعده ده . د رسول الله (ﷺ) به هغه کارخوښ و چې کارکوونکي به هغه په پرله پسې ډول ترسره کولو،ان که هغه کاربه لږهم و .

***

## اَلـهَـاكُمُ التَّـكَاثُرُ

**يوپربل باندې دنيايي وياړنې- له عبادت څخه- بې پرواکړي ياست.**

يو وخت څه اندازه نغد مال راسره و، نو يولوی کتاب پلورنځي ته په بې ځارې لېوالتيا ورغلم، هوډ مې درلود چې له هرکتاب څخه يوه يوه نسخه واخلم، له کتابونوسره مې سخته زياته لېوالتيا اومينه درلوده، همداسې مې وکړل، د هر فن له کتابونوڅخه مې الماری ډکې کړې، اروا پوهنه، د فقهې اصول چاڼ شوي اود عام فرهنګ په لسګونوکتابونه مې واخيستل، خوکله مې چې وغوښتل ويې لولم، نه پوهېدم، چې څرنګه يې پيل کړم، څه راواخلم اوڅه پرېږدم . ډېرکتابونه راته داسې هم څرګند شول چې يود بل تکرار وو، څه معلومات چې به په يوه کتاب کې وو هماغه به په بل کې هم وو، اوځينې نور يې داسې وو چې ماته يې هغه ګټه نه رارسوله چې هيله ترې کېده، ځينو نورو کې بې علمي هم څرګندېده، له څوکلونو تېرېدو وروسته په لسګونو داسې کتابونه هم وو، چې ما لا بېځایه کړي

هم نه وو، بلکې د هغو شتون، ګډوډۍ او له نورو ګټورو کتابونو سره شتون به يې لا نورهم ځوروړلم، تردې چې زه له ځينوپوهانو اوځيرکو کسانوسره کښېناستم، خپله ستونزه مې ورته ځرګنده کړه، نوهغوی ماته يوه ډېره ګټوره او کاميابه لار راوښوده اوهغه دا، چې زه بايد په هرفن کې غوره، بنسټيزاو ښکلي کتابونه له ځان سره وساتم، جوړښت، سمښت، لوست اوپلټنې ته يې پام وکړم، پر دې سربېره نور واړه او دوهمه رتبه کتابونه پرېږدم، خوکه کله ورته د څېړنې پرمهال اړتيا ووينم بيا يې ولولم . نو زړه مې دغې سمې مشورې ته خوشحاله، فکرمې ارام او ولولې مې قرارې شوې . که ته کتابتون لرې او يا دې له مطالعې سره مينه وي، نو ته هم داسی وکړه، د علم په هره څانګه کې هغه غوره اساسي کتابونه ترلاسه کړه، ځان پرې بوخت کړه چې له ذهني ګډوډۍ څخه وژغورل شې او دکتابونوپه ټاکلو کې له حيرانتيا اوتشويش څخه خلاص شې .

شاعر وايي: هغوی وويل چې په هره برخه کې اساسي اوغوره شيان راواخلئ، ما ورته وويل دا خو سمه ده چې اساسي شيان ښه دي، خوستونزه په ليدونکي کې ده چې سم شيان نه شي ټاکلی .

﴿ د دنيايي نعمتونوډېروالي بې پروا کړي ياست ﴾. التّکاثر ۱۰۲:۱

په دې اړه مې د څو زده کوونکوخبره راياده شوه چې هغوی د ځينو سختو کتابونو، کم پېدا مخطوطاتو- لاسي ليکنو- نا اشنا تاليفاتوپه اړه پوښتنې کولې، تل د کتابونو په راټولولوبوخت وو . حال دا چې د هغوی لوستنه به ډېره کمزورې وه اساسي کتابونه يې ډېرکم پېژندل، يواځينۍ موخه يې د کتابونو ډېروالی و، نور خلك به يې د نا اشنا کتابونود نومونوپه يادولوهک پک کړل، لکه د عنقا مرغه اوسور اورلګيت، ځينو به يې لاسونه مروړل چې ولې يې د "مقاتل بن سليمان" تفسيرپيدا نه کړ، حال دا چې د ابن کثيرتفسير به يې بشپړ لوستی نه و، اوچا به د " فوائد تمام" کتاب هيله هم درلوده، په داسې حال کې چې د " فتح الباري" کتاب د ليکوال له نوم او د کتاب له رنګ پرته به يې نورڅه نه پېژندل .

﴿ په اهل کتابوکې ځينې نالوستي دي په خپل اسماني کتاب پوهيږي، خوپه هيلواو ارزوګانو ښه پوهيږي او ټول کاريې په اټکلونو ولاړ دی﴾. البقره ۷۸:۲

نچوړ دا چې بايد د روښانه او لويې لارې په شتون کې ځان په ناځرګندولارو بوخت نه کړې، يا دا چې ته بنسټيزې لارښوونې پرېږدې او په وړو مسئلو پسې وګرځې، د حکمت - پوهې - غوښتنه همدا ده چې لومړی اهم - ډېرضروري - او

بیا مهم ـ ضروري ـ کار پیل شي، اوڅوك چې له خپل موخې څخه بې خبره وي، نوهرومرو به هغه ته لاره اوږدیږي، سورلۍ به یې سترې کیږي، اوخپل ځان به هم له کومې ځانګړې لاس ته راوړنې پرته سترې کړي .

***

## ترڅو چې په ټولوخلکو کې نېکمرغه اوسې

❖ ایمان غمونه او اندېښنې له منځه وړي، د مؤمنانود سترګو یخوالی اود عبادت کوونکود تسلۍ او خوښۍ لامل دی .

❖ څه چې تېرشول هغه هېرشول، نو ته په تېرو شیانو فکرمه کوه، ځکه چې هغه تللي او تېرشوي دي !

❖ پرالٰهي پرېکړو او وېشل شوي رزق خوښ اوسه، ځکه چې هرکارپه الٰهي پرېکړه ترسره شوی دی، نوته وربانديې مه خفه کېږه !

❖ په دې خبرشه چې د الله ذکر- یادول ـ زړونه ډاډه کوي، ګناهونه رژوي، په غیبي کارونو پوه رب خوشحالوي او ستونزې ختموي !

❖ د هېڅ چا منني ته سترګې مه غړوه، ځکه چې تاته د بې نیازه ذات له خوا ښه بدله کافي ده، د چا د ناشکرۍ، ګوندۍ او کینې هېڅ پروا مه لره !

❖ چې سهارپاڅېدې، ماښام ته انتظارمه کوه، اوکله چې ماښام شي، بیا ګهیځ ته طمعه مه کوه، بلکې د نن ورځې په چوکاټ کې ژوند کوه، او د نن ورځې د اندېښنې اوسمون په فکرکې بوخت شه !

❖ راتلونکی وخت پرېږده چې په خپله راشي، د سبا ورځې اندېښنه مه کوه، بېشکه که تا خپله نن ورځ سمه کړه نو سبا دې په خپله سمیږي !

❖ خپل زړه له حسد او کینې څخه پاك کړه، بدنیتي او کرکه ورڅخه وباسه !

❖ د خیر له کارونو پرته، نورله خلکو څخه ګوښه اوسیږه، او په خپل کور کې کېنښنه، خپل کارته دې مخه کړه او له نورو سره ناسته ولاړه کمه کړه .

❖ کتاب ترټولوغوره ملګری دی، نو د کتابونو پر لوستلو باندې شپه سبا کړه، علم ته مخه کړه او له پوهې سره ځان ملګری کړه !

❖ دنیا په یونظام باندې جوړه شوې ده، نو تاته په کاردي چې په خپل لباس، کور، دفتراو دنده کې په ترتیب سره وچلیږې !

❖ بیدیا ته ووځه، ګنو شنو بڼونواو د پیدا کوونکي ذات خلقت ـ پیدایښت ـ او جوړښت ته په ځیر سره وګوره !

❖ تاته په کار دي چې په بدني روزنه کې لږڅه ځان بوخت کړې، له سستۍ اوتمبلۍ څخه ځان وژغوره، وزګارتیا او بېکاري پرېږده !

❖ تېرتاریخ ولوله، دهغه له عبرت اوحیرانتیا څخه ډکوحوادثو- پېښو- ته ځیرشه اوله هغوڅخه ګټه واخله !

❖ خپل ژوند له سره نوی پیل کړه، په لارو چارو کې یې نوښت اوخپل یو رنګه ورځني ژوند ته بدلون ورکړه !

❖ خوب تېښتونکي توکي، لکه چای او قهوه ډېر مه کاروه، د تنباکو او چلم له کارولو څخه ځان وساته !

❖ د لباس پاکوالي، د ځان د ظاهري بڼې ترتیب، ښه بوی، عطر اومسواک کارولو ته ډېره پاملرنه وکړه !

❖ ځینې هغه کتابونه چې نا امیدي او بد پالي زېږوي مه لوله !

❖ همېش په یاد لره چې ستا رب د پراخې بخښنې څښتن دی، د بنده ګانو توبه قبلوي، هغوی ته بخښنه کوي او دهغوی نا کاره کړنې په نېکیو بدلوي !

❖ د دین، عقل، روغتیا، پت، اورېدلو، لیدلو، رزوۍ، اولاد او په داسې نورو پېرزوینوباندې د خپل رب شکر پرځای کړه !

❖ ایا ته نه پوهېږې چې په خلکو کې داسې څوک هم شته چې خپل عقل یا روغتیا یې له لاسه ورکړې، یا بندي یا شل او یا په کومه غمیزه اخته دی !؟

❖ په قرآنکریم باندې خپل ژوند تېروه، که يې يادول، لوستل، اورېدل او يا يې په اړه فکرکول وي، ځکه چې د غم او اندېښنې د لرې کولو له پاره قرآنکریم تر ټولوستره او ښه درملنه ده !

❖ پرالله پاک باندې تکیه وکړه، خپل کار ورته وسپاره، پر پرېکړه يې خوښ اوسه، یواځې الله(ﷻ) ته پناه وړه او ورباندې باوري شه، ځکه چې همدا الله(ﷻ) ستا له پاره کافي دی !

❖ هغه چاته بخښنه وکړه چې پرتا باندې يې تېرى کړی وي، له هغه خپلوانوسره خپلولي وپاله چا چې له تاسره خپلولي پرېښې وي، له هغه چاسره مرسته وکړه چا چې له تاسره بد کړي وي، نو د دغو کړنو په پای کې به هرومرو خوښي، ډاډ اوسوکالي درپه برخه شي !

❖ (( لا حول ولا قوّة الاّ بالله )) په بار بار وایه، ځکه چې زړه خوشحالوي، حالت ښه کوي، درانده بارونه پرې وړل کيږي او ذوالجلال رب خوشحالوي !

❖ استغفرالله العظیم ډېروایه، ځکه چې د روزۍ پراختیا، اسانتیا، اولاد، ګټورعلم، له ستونزو څخه خلاصون او د ګناهونو رژېدل په کې دي !

❖ پرخپله طبیعي ښه، قابلیت، ټاکل شوې تنخواه، کوراو کورنۍ باندې خوښ اوسه، نونېکمرغي او هوساینه به ومومې !

❖ په دې خبره یقین او باورساته، چې له هرې سختۍ سره اسانتیا ملګرې ده او له هرې ستونزې وروسته خلاصون شته، او یوحالت تل نه پاتې کيږي، بلکې ورځې هرومرو بدليږي !

❖ همېشه نېکپاله اوسه، ناهیلی نه شې، پرخپل رب باندې ښه ګومان لره، هر وخت ورڅخه د هرې ښې پایلې اوخيرهیله من اوسه !

❖ الله(ﷻ) چې تاته څه ټاکلي وي ورباندې خوښ اوسه، ځکه چې ته پرخپله ګټه نه پوهیږې، کېدای شي یوه ستونزه ستا له پاره د نعمت پرتله غوره وي !

❖ ازمېښت ستا اود الله تعالی ترمنځ واټن کموي او دعاء درته ښيي، هرډول غرور، کبراو بېځایه ویاړ درڅخه لرې کوي !

❖ ته به خپل ځان کې د الله پاک د نعمتونو بې شمېره خزانې لرې .

❖ له خلکوسره ښېګڼه کوه، بشریت ته خیر ورسوه، چې د ناروغ په پوښتنه، له محتاج -اړ- سره په مرسته او پریتیم باندې د مهربانۍ له امله نېکمرغي ومومې !

❖ له بدګومانۍ، ناوړو وسوسو، خیالونو او ناروغو فکرونو څخه ځان وژغوره !

❖ په دې پوه شه چې یواځې همدا ته په غمیزه اوستونزه اخته نه یې، بلکې داسې یو بشرنشته چې هغه دې له ستونزې څخه بچ پاتې وي !

❖ باور ولره چې دا دنیا د ازمېښتونو، ستونزو، کړاوونو اوخړپړتیا ځای دی، نو تاته په کاردي چې په خپله بڼه یې ومنې، او له الله تعالیٰ څخه مرسته وغواړې !

❖ د هغو خلکو په اړه فکر وکړه چې د ژوند په ډګر کې له تا څخه مخکې تېرشوي، چې له هغوی څخه ځینې له کاره ګوښه شوي، ځینې بندیان شوي، ځینې وژل شوي، ځینې یې په ستونزو او کړاوونو، ازمېښتونوکې اخته شوي اود چا شتمنی له منځه تللي دي !

❖ هرکړاو، غم، پرېشاني، خفګان، ولږه، نېستي، ناروغي، پور اوغمیزې چې درپېښېږي، نو بدله یې له الله تعالیٰ سره شته.

❖ ستونزې سترګې اوغوږونه پرانیزي، زړونه ژوندي کوي، نفس ته پند ورکوي اجراوثواب زیاتوي .

❖ د بدو پېښو د پېښېدو انتظارمه کوه، ډېروړې مه منه، او نه ورته غاړه کېږدې !

❖ هغه څه چې د ډېرې وېرې اټکل یې کیږي، نه پېښېږي، او زیاتره هغه ستونزې چې ډېروره یې ګرېږي نه پېښېږي، په هرحال کې الله(ﷻ) کافي وګڼه، هغه ستا څارنه، روزنه او مرسته کوي !

❖ له کینه کښنو، بغض لرونکواو خړمزاجه خلکوسره مه کښېنه، ځکه چې هغوی د روح له پاره توده تبه ده، هغوی د مزاج خړولواستازي اود خفگان جواليان دي !

❖ د جماعت ـ امام پسې ـ د لمونځ کولوپرمهال د لومړي تکبير ډېرخيال ساته، مسجد کې ډېرکښېنه، د لمانځه کولوله پاره په چابکۍ ځان عادت کړه، چې خوښي درپه برخه شي !

❖ پام کوه چې گناهونه ونه کړې، ځکه چې گناه د غمونو او اندېښنو سرچېنه، د ستونزو او کړاوونو لامل او د ټولو غميزودروازه ده !

❖ دغه کلمه ﴿ لا اِلَهَ اِلاّ اَنتَ سُبْحَانَكَ اِنّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴾ ډېره وايه چې معنا يې ده، له تا پرته بل هېڅوک دعبادت وړنشته، پاکي تا لره ده اوزه پرخپل نفس له تېري کوونکو څخه یم . په دې کې د ستونزو او کړاوونو د لرې کېدو نا اشنا راز نغښتی دی چې د تکليفونو د له منځه وړلو په اړه يوسترخبر لري !

❖ د خلکو د سپکو او سپورو تر اغېز لاندې را نه شې، ځکه دغه خبرې په خپله د ويونکي په تاوان دي او تاته کوم زيان نه شي رسولی !

❖ د د ښمنانو اوکينه کښو له اړخه تاته کنځل او سپکې سپورې په حيقيت کې ستا ارزښت ځرگندوی، ځکه چې له تاڅخه اوس يو وتلی او ياد شخصيت جوړشوی دی !

❖ پر دې پوه شه چې ستاغيبت کوونکي په حقيقت کې تاته خپلې نېکۍ در وبخښلې، ستا گناهونه يې ورژول او ته يې مشهورکړې چې دا هم يو نعمت دی !

❖ په عبادت کې پرځان باندې ډېر زور مه راوړه، بلکې په سنتوبرابر اوسه، په عبادت کې له منځلاريتوب څخه کار واخله اوپام کوه چې ډېرسخت دريځه نه شې !

❖ خپل توحيد ـ الله پالنه اوهغه يوبلل- په رېښتيا او د زړه له کومې کوه، چې زړه دې روښانه شي، ځکه چې ستا د ايمان او اخلاص د سپېڅلتيا اوکلکوالي په کچه تاته سعادت ـ نېکمرغي- درپه برخه کيږي !

❖ زړه ور، د قوي زړه، لوړهمت او لوړعزم څښتن اوسه، حوصله اوهمت باید ولرې، په دروغجنو او غولوونکو ډنډورو دوکه نه شې !

❖ سخا کوه، ځکه چې د سخي انسان زړه او فکر پراخ او روښانه وي، خو بخیل د تنګې سینې تیاره زړه اونا قراره فکرڅښتن وي !

❖ خلکو ته تندی ورین کړه، له دې کارسره به دهغوی دوستي ترلاسه کړې، له هغوی سره نرمې خبرې کوه، خوښ به یې شې او له هغوی سره کمیني کوه، پایله به یې دا شي چې ستا احترام او درناوی به کوي !

❖ څوک چې درسره بد چلند کوي ته ورسره نېک چلند وکړه، چې د دښمنۍ اورونه مړه کړې، له خپلو دښمنانوسره روغه وکړه او زیار وباسه چې دوستان دې ډېرشي !

❖ د موراوپلاردعاء د نېکمرغۍ له لویو دروازوڅخه یوه دروازه ده، نو کوښښ کوه چې له هغوی سره په ښېګڼه اونېک چلند دهغوی له دعاءڅخه برخمن شې، چې د هغوی دعاء تاته د هرې بدې پېښې په وړاندې یوه ټینګه قلا شي !

❖ خلك چې څه ډول دي په هماغه شان یې ومنه، د هغوی له اړخه تاته رسېدلی زیان وروبخښه، او پوه شه چې دا ډول کردار په بشري ټولنه کې یوه الـهي نه بدلېدونکې لار ده !

❖ خیالي ژوند مه کوه، بلکې عملي او رېښتینی ژوند کوه، ولې له خلکوهغه څه غواړې چې ته یې په خپله هم توان نه لرې؟ نوعدالت کوه !

❖ ساده ژوند کوه، له نازولتوب او بېځایه لګښت څخه ډک ژوند مه کوه، ځکه هرڅومره چې بدن نازولی کیږي هماغومره روح تنګیږي !

❖ په غم او ښادۍ کې مسنونه اذکاراو دعاګانې وایه، ځکه چې هغه ستا د سلامتۍ او روغتیا له پاره ښه ضمانت کوونکي دي، بل دا چې داسې لارښوونې په کې دي چې دهغو په واسطه ستا ورځ سمیږي !

❖ خپل کارونه په مهالوېش سره برابر کړه، ټول کارونه یو وخت ته مه راټولوه، اوکارونه داسي ووېشه چې په منځ منځ کې د راحت له پاره هم څه وخت وي، چې ورسره ستا د هڅو ورکړه ښکلې وي !

❖ په ځان، صورت، مال، استوګنځي، دندې، اولاد او نورو برخو کي له خپل ځان ښخه ټيټ خلک وګوره، چې په دې پوه شې، ته له زرګونوخلکوڅخه پورته يې !

❖ دا يقين ولره، بېشکه ټول هغه خلك چې ته ورسره په ژوند کې راکړه ورکړه لرې، لکه، ورور، مېرمن، زوی، خپلوان او یا ملګری، نو دوی هر یو له څه نیمګړتیا، څخه خالي نه دی، تاته په کاردي چې خپل ځان د ټولومنلو ته چمتو کړې !

❖ پرهماغه ذهني قابليت چې الله تعالی درکړی اوهغه علم، چې ته ورته لېوال يې، پرهماغه روزی چې ستا په برخه ده، اوهماغه کارچې له تاسره وړ دی ټينګ اوسه !

❖ پام کوه چې خلك اوټولني داغمنې نه کړې، ژبه روغه ساته، خبرې ښې او خوږې کوه او ستا ترڅنګ بايد خلک په امان کې وي !

❖ پوه شه چې حوصله عيبونه پټوي، زغم د تېروتنوله پاره پرده، سخاوت هغه پراخه جامه ده چې نيمګړتياوې اوعيبونه پټوي !

❖ د دې له پاره چې خپل کارونه سم کړې، له ځان سره حساب او د آخرت په اړه فکر وکړې، او دنيا دې هم پرې جوړه کړې، نو يوه شېبه له ځان سره ګوښه کښېنــه !

❖ ستا کورنی کتابتون په حقيقت کې ستا سترباغ او شنه باغچه ده، چې ته په کې له پوهانو،علماوو او اديبانوسره چکر وهې !

❖ حلاله اوپاکه روزي وګټه، له ناروا څخه ځان وساته، خلکوته لاس مه اوږدوه، تجارت له دندې څخه غوره دی، اوخپل مال چاته په مضاربت ورکړه، په ژوند تېرولوکې له اقتصاد- منځلارې- څخه کاواخله !

❖ ساده جامې اغونده، نه د ډېرو اسراف کوونکوجامې، او نه د فقیرانو جامې، خپل ځان په ځانګړي لباس مه مشهوروه، بلکې د نورو عاموخلکوپه څېر اوسه !

❖ مه غصه کېږه، ځکه چې غُصه د انسان مزاج خرابوي، خویونو کی بدلون راولي، ژوند بدرنګه کوي، مینه له منځه وړي اوخپلولي غوڅوي !

❖ کله ناکله سفرکوه، چې په ژوند کې دې نوښت راولي، د الله تعالیٰ رنګارنګ نوی مخلوق اونور هېوادونه به وګورې، نچوړ دا چې سفرکول خوند لري !

❖ په خپل جیب کې وړه د یاداښتونوکتابچه وساته، چې کارونه دې جوړ، په مهالوېش برابر او ژمنې دریادې کړي، او ته په کې خپل یاداښتونه هم ولیکې !

❖ په سلام اچلو کې پر نورومخکې شه، په ورین تندي ورسره روغبړکوه، د پام په سترګه ورته ګوره، ترڅو د هغوی په زړونوکې ځای ونیسې، ورته نژدې شه چې له تاسره مینه وکړي !

❖ پرخپل ځان باوري اوسه او په خلکو باور مه کوه، داسې یې وګڼه چې خلك ستاپه ګټه نه بلکې ستا په زیان دي، او له الله (ﷻ) پرته بل مرستندوی نه لری او د هوساینې په موسمي ورونو ونه غولېږې !

❖ د (ژر دی) له ویلوڅخه ځان وژغوره، یعنې ژر دی چې لاړ به شم، ژر دی چې وبه وایم، او داسې نور، خپل کارونه مه وروسته کوه، درسپارل شوې دنده کې ځنډ مه کوه، ځکه چې دا د پاتې راتلوغښ دلیل دی !

❖ د پرېکړې پرمهال او د دریځ په څرګندولو کې زړه نازړه نه شې، بلکې د غوڅ هوډ خاوند شه او کار دې مخ په وړاندې یوسه !

❖ خپل عمر دې د کسبونواو دندو په بدلولو را بدلولو کې هسې مه تېروه، دا به دا معنا لري چې ته په یوه ډګر کې هم بریالی شوی نه یې !

❖ په دې خوشحاله شه چې د نېکوکړنو، غمیزو،توبه ویستلو، د مسلمانانو دعاء، د رحمان ذات د رحمت او د رسول الله(ﷺ) د شفاعت په شان د ګناهونو د رژېدلو لارې چارې شته !

❖ په کار دی چې خیرات وکړې ان که لږ هم وي، ځکه چې صدقه یا خیرات ګناه له منځه وړي ، زړه خوشحالوي ، پرېشاني ختموي او روزي ډېروي !

❖ رسول الله (ﷺ) خپل لاربښود او امام وګرځوه، بېشکه چې هغه د نېکمرغۍ بریالیتوب خلاصون او کامیابۍ په لور تر ټولو سترلاربښود دی !

❖ روغتون ته ځه چې د روغتیا ارزښت درته څرګند شي، زندان ته درومه چې د ازادۍ په قدرپوه شې، اود لېونیانو روغتون ته هم ولاړشه چې دعقل په قیمت خبرشې، ته ډېر بېشمېره نعمتونه لرې، خو تاته یې قدر نه ښکاري !

❖ واړه او بې ارزښته شیان باید تا مات نه کړي، هرې مسئلې ته د هغې له وزن څخه ډېر ارزښت مه ورکوه، کارونو او پېښنو ته ډېرمه خفه کېږه !

❖ باید د پراخ فکرڅښتن اوسې، هغه چاچې درته بد رسولي وي هغوی معذور وګڼه، چې ډاډمن او ارام ژوند وکړې، اوپام کوه چې د غچ اخېستلوهڅه ونه کړې !

❖ پرخپل خفګان او کرکه باندې دښمنان مه خوشحالوه، ځکه چې هغوی خو همدا غواړي، نو ته باید د هغوی دغه لوړه هیله چې ستا د ژوند د خرابولو په اړه یې لري ترسره نه کړې !

❖ په خپله سینه کې د دښمنیو، کینو، بغض او کرکې اور مه بلوه، ځکه دا په خپله ستا له پاره یو لوی عذاب دی !

❖ ناسته پاسته کې درونډ اوسه، د خیر له خبرو پرته نور باید چوپ پاتې شې، تندی باید ورین ونیسې، د خپلو دوستانو درناوي ته پام وکړه، د هغوی خبرو ته غوږ ونیسه اوخبرې یې مه غوڅوه !

❖ له ځان څخه مچ مه جوړوه چې له زخم پرته پربل ځای نه کښېني، پام کوه چې د نورو خلکو پټ لوټ نه کړې، د هغوی د عیبونو په رابرسېره کولو اوپه تېروتنو باندې یې خوښي ونه کړې !

❖ مؤمن د دنیایي شیانو د له منځه تلو له امله نه خفه کېږي، نه ورته دومره ارزښت ورکوي او نه له دنیایي کړاوونوڅخه وېرېږي، ځکه چې دنیا له خپلو ټولو شتمنیو سره فنا کېدونکی ده !

❖ له ناروا عشق اومينې څخه ځان لرې وساته، ځکه چې هغه د روح له پاره يوعذاب او د زړه ناروغي ده، له خپل رب څخه ووېرېږه، وروګرځه، هغه ياد کړه او بنده ګي يې وکړه !

❖ نامحرمه مېرمنوته کتل، غمونه، اندېښنې او د زړه زخم پيدا کوي، نېکمرغه هغه څوک دی چې خپلې سترګې ټيټې وساتي اوله الله څخه ووېرېږي !

❖ د ورځني خوراك په سمښت کې ښه زيار وباسه، ګټور خوراک وکړه، ځان ډېر موړ مه ساته او په مړه خېټه مه ويده کېږه !

❖ د وېرې او پېښنو پرمهال بايد تر ټولو د بد حالت د رامنځته کېدو اټکل وکړې، بيا ځان د هغې منلو ته چمتو کړه، نو راحت او اساني به ومومې ( د مشکل د پېښېدو په حال کې به نه کړېږې، يعنې اسانه به درباندې تېرشي ) !

❖ پېرى چې ډېرکش شي نوشکېږي، شپه چې تياره شي رڼا کيږي، کارچې ستونزمن شي هغه اسانيږي او دوه اسانۍ په يوې سختئ باندې برلاسي دي !

❖ د رحمان ذات په رحمت کې فکر وکړه، الله(ﷻ) د بني اسرآئيلو يوې بد کارې ښځې ته چې يو سپي ته يې اوبه ورکړې وې بخښنه وکړه، هغه څوک يې هم وبخښه، چې سل بېګناه خلك يې وژلي وو، الله(ﷻ) خپل لاس توبه ويستونکي ته غزولی دی - چې توبه يې قبوله کړي - اوهمدارنګه يې نصرانيان توبه ويستلو ته رابللي دي !

❖ له هرې ولږې وروسته مړښت، له هرې تندې وروسته تنده ماتېدل، له ناروغۍ وروسته روغتيا، له نېستئ وروسته شتمني او له پرېشانۍ وروسته خوښي راځي، چې دا يوه ټينګه الٰهي کړنه ده !

❖ ته په "الم نشرح"سورت کې فکر وکړه : ای پيغمبره ! ايا موږ ستا سينه پراخه نه کړه ؟ او د ستونزو په وخت کې يې درپه زړه کړه، دا باور ولره چې د سختيو پرمهال دا سورت ترهرڅه لويه درملنه ده .

❖ د ستونزو په وخت کې له دې دعاء څخه ولې لرې پاتې شوی يې؟ : (( له عظيم او حليم الله پرته بل څوك د بنده ګۍ وړ نشته، د لوی عرش له څښتن پرته بل څوك د عبادت لايق نه دی، له هغه الله پرته چې د اسمانونو اوځمکې واکمن او د قدر وړعرش څښتن دی بل څوك دعبات وړ نشته )) !

❖ کله چې په قهرشوې، نوغلی ـ چوپ ـ شه، په الله(ﷻ) باندې له شیطان څخه پناه وغواړه، خپل ځای ته تغیر ورکړه، که ولاړ وې کښېنه، اودس وکړه او د الله ذکر وکړه !

❖ له سختئ څخه فریاد مه کوه، ځکه چې فریاد نه کول ستا زړه کلکوي، تاته د روغتیا خوند درپه برخه کوي، ستا شان لوړوي او صبردې ښکاره کوي !

❖ په تېرو پېښنو کې د فکربوختول بې عقلي او لېونتوب دی، دا د وړو بیا وړه کولو یا د اړې د بورو بیا اره کولو او مړي له خپلوله قبرونوڅخه د راویستلوسره برابروي !

❖ د غمیزې ځلانده اړخ ته وګوره، د هغې اجر وغواړه، پوه شه چې دا غمیزه له بلې څخه اسانه ده، او نوروغمځپلو ته ګوره بیاځان ته تسلي ورکوه !

❖ هغه څه چې درپېښ شو، داسې نه وه چې ته به ورڅخه بچ کېدې، او له کوم شي نه چې بچ شوی یې، ناشونې وه چې تا ته به دررسېده، د ازل هغه لیک چې ته ورسره مخ کېږې وچ شوی دی ـ تازه لیکل نه کوي ـ او له الٰهي فیصلو څخه نه شې خلاصېدی !

❖ ته خپل زیانونه په ګټو بدل کړه، له تریو لیموڅخه خوږ شربت جوړکړه، د کړاوونو اوبو ته یو موټی بوره ورواچوه (چې خوږې شي) اوځان له خپلو حالاتوسره سم کړه !

❖ د الله تعالٰی له رحمت اومهربانۍ څخه ناامیده نه شې، مرسته یې مه هېروه، ځکه چې دالله (ﷻ) مرسته د ستونزې په اندازه رالېږل کېږي !

❖ کوم شیان چې ستاخوښېږي دهغو پرتله ستا ګټه په هغو شیانو کې ډېره ده چې ستا نه خوښېږي، ځکه چې ته پرخپلوپایلو نه پوهېږې، ډېرځله نعمت په زحمت کې تاو شوی وي او ډېرځله خیر د شر ترڅادر لاندې پټ وي !

❖ خیال دې په واك کې وساته، چې د اندېښنو کندو ته دې ونه غورځوي، او کوښښ کوه په هغو پېرزوینو، ذهني قابلیتونو، بریالیتوبونوکې ځیرشې، چې تاته الله درپه برخه کړي دي !

❖ په خپل کوراو د کارپه دفترکې له بېځایه شور اوچغوځخه ډډه وکړه، او د نېکمرغۍ له نښنوڅخه یوه هم، نظم او چوپتیاده !

❖ لمونځ پرستونزو باندې برلاسی مرستندوی دی، اوهمدغه لمونځ د انسان نفس د اسمان څنډوته ورخېژوي او روح یې د کامیابی او رڼا فضا ته رسوي !

❖ ګټوراو تېنګ کار د انسان نفس له زیان رسوونکو او سرکښو غوښتنو څخه خلاصوي اوهم یې له ناروا خیالاتوڅخه ژغوري !

❖ نېکمرغي یوه داسې ونه ده چې دهغې خړوبول، خوراك، هوا او رڼا پر الله تعالیٰ او د آخرت په ورځ باندې باورلرل دي !

❖ ځوك چې د ادبي ذوق، روغ طبیعت او ښو اخلاقو څښتن وي، نوهغه هم ځان اوهم خلک نېکمرغه کوي او د خپل فکر او حال د سمون او ښه کېدو خاوند کیږي !

❖ خپل زړه تازه ساته، ځکه چې زړه هم ستړی اومانیجن کیږي او د ژوند لارې چارې ورته ځوډولیزه کړه او هرډول پوهه اوحکمت ورته ولټوه !

❖ علم سینه او لیدلوری پراخوي، نفس ته د لوړو فضایي څنډو لار پرانیزي چې په پای کې یې بیا له هرډول غم، اندېښنې اوخفګان څخه وباسي !

❖ داهم یو ډول نېکمرغي ده چې د ستونزو اوخندونو په مخ کې بریالتیوب وموميې، ځکه چې د بریالیتوب یو داسې خوند دی چې هېڅ خوند ورسره نه برابرېږي، اوکامیابي داسې خوښي ده چې هېڅ ډول خوښي ورسره نه برابرېږي !

❖ که غواړې چې له خلکوسره نېکمرغه ژوند وکړې،نو داسې چلند ورسره وکړه کوم چلند چې له هغوی نه ځانته خوښوې، دهغوی برخې مه کموه اوهغوی له خپل شان څخه مه ښکته کوه ! (په سپکه ورته مه ګوره).

❖ کله چې انسان خپل ځان اود خپلې وړتیا پوهه وپېژني، او په بشپړډول د پوهې غوښتنه پرځای کړي، نو د بریالیتوب او برلاسۍ خوند به وموميي !

❖ پوهه اوتجربه له شتمنۍ څخه ډېره لویه سرمایه ده، ځکه چې پرمال باندې خوښي یوحیواني خوی او پرپوهه باندې خوشحالي یوانساني خاصیت دی !

❖ کله چې ښځه یا خاوند په قهرشې نو د قهرجن په وړاندې دې هغه بل چپ شي اوهریو ته په کاردي چې یو بل له شتونیمګړتیاسره ومني، ځکه چې یوانسان هم بې عیبه او بشپړنه دی !

❖ نېکپاله ملګری تا باندې ستونزمن کارونه اسانوي، ستا پرمخ د هیلو دروازه پرانیزي، خو بد پاله ملګری درته په سترګو کې دنیا توره تیاره کوي !

❖ څوك چې د مېرمن، یوې کوټې، روغتیا او د اړتیا په اندازه د مال څښتن وي، لکه چې ښه ژوند یې په برخه شوی دی، ورته په کاردي چې الله(ﷻ) وستایي او پرخپله برخه قناعت وکړي، له دې نه پورته بیا له غم څخه بل څه نشته !

❖ څوک چې سهارپه خپل ځای کې ډاډمن پاڅېده، بدن یې روغ و، دهماغې رواني یوې ورځې خواړه ورسره وو، داسې به وي لکه دنیا چې له ټولې شتمنۍ سره ورپه برخه شوې وي !

❖ څوك چې دالله پر ربّانیت، د اسلام پرشریعت اود محمد(ﷺ) پررسالت خوښ شو، نو الله(ﷻ) یې دا حق پرځان منلی چې دا بنده به راضي کوي یعنې (په هر حالت کې به له الله څخه خوښ وي).

❖ د بریالیتوب بنسټونه دا دي چې الله تعالیٰ درڅخه راضي شي، هغه خلك درڅخه خوشحاله شي چې ستاپه شا اوخوا کې اوسېږي، اوخپل نفس دې هم خوښ وي، بل دا چې یوګټورعمل خلکو ته وړاندې کړې !

❖ خواړه د یوې ورځې، سفرد یوې اوونۍ، واده د یوې میاشتې او مال د یوه کال نېکمرغي ده، خو ایمان د ټول عمرنېکمرغي ده !

❖ ته به په خوب، خوراک، څښاک او واده کولونېکمرغه نه شې، بلکې ستا نېکمرغي په کارکولوکې ده اوهمدا کاردی چې نومیالیوشخصیتونو ته یې ترلمر لاندې ځای ـ شان- پیدا کړی دی !

❖ چا ته چې د لوستلووخت برابر وي، نوهغه نېکمرغه دی، ځکه چې هغه د لوستلوله لارې د ګردې نړۍ له بڼونوڅخه مېوې شکوي، د دنیا په حیرانونکو شیانوکې چکر وهي او پخواني وختونه اوځایونه ځانته رانژدې کوي !

❖ له دوستانوسره خبرې اترې غمونه له منځه وړي، له ګناه څخه پاکې ټوکې راحت دی اود شعراورېدل ذهن خوشحالوي !

❖ ته خپل ژوند ته په خپل نظر- کتلو- سره هرډول رنګ ورکولی شې، ستا ژوند ستا د خپلوفکرونو یوجوړښت دی، نو تورې عینکې مه په سترګو کوه !

❖ فکردې هغوخلکوته واړوه چې ستاخوښېږي اوڅوک چې دې نه خوښېږي د خپل ژوند یوه شېبه هم هغوی ته مه ځانګړې کوه، ځکه چې هغوی ستا اوستا له اندېښنې څخه نه خبرېږي !

❖ کله چې ته پریوه ګټورکاربوخت شې نو دماغ به دې په قراره او روح به دې ډاډمن کړی وي !

❖ نېکمرغي له اصل، نسب، سرو اوسپینو زرو سره تړاو نه لري، بلکې نېکمرغي په دین، پوهه، ادب او هوښیارۍ کې پرته ده !

❖ په بنده ګانوکې د الله(ﷻ) په وړاندې نېکمرغه انسان هغه دی، چې نورو خلکوته د ښېګڼې لاس ورکوي، اوکله چې ورسره ښېګڼه وشي نوله هغوی څخه مننه کوي !

❖ کله چې ته په خپل روان ژوند کې نېکمرغه نه شې، نوبیا دا طمع هم مه کوه، چې په راتلونکي که به درته له هوا یا اسمان څخه نېکمرغي راوغورځېږي !

❖ پرخپلوبریالیتوبونو،لاسته راوړنواوهغو نېکوکارونوکې چې تابشپړ کړي دي فکروکړه، وربانډې خوښ شه او پردغه نعمت بانډې الله(ﷻ) وستایه، ځکه چې دا رنګه کړنه د سینې تنګوالی له منځه وړي !

❖ ستا د پرونۍ ورځې په غم کې چې کوم ذات مرسته کړې وه، نوهماغه رب به ستا د ننۍ اوسبانۍ ورځې له پاره هم کافي شي، نو ته ورته ځان وسپاره، کله چې هغه رب له تاسره وي، بیا له چا څخه وېرېږې ؟ او چې همدا رب ستا مرسته ونه کړي اوستا د کړولو پرېکړه یې کړې وي، بیابه له چا څخه هیله ولرې؟

❖ ستا او د شتمنوخلکوپه منځ کې يواځې او يواځې يوه ورځ -همدانن- توپيردی، نو، د پرون ورځې خوند خو له هغوی څخه هم هېردی، د سبانۍ ورځ حال له هغوي او له تا نه هم ورک دی ( څرګنده نه ده) نوهمدا نن ورځ څومره لږ وخت دی !؟

❖ خوشحالي نفس خوځوي، زړه خوښوي، د اندامونومنځ کې سمون تينګوي قوت منځته راوړي، ژوند ته خپل ارزښت ورکوي اوعمرته ګټه رسوي !

❖ پانګه لرل، سوکالي، روغتيا او دين، دا ټول د نېکمرغۍ ستنې دي، ځکه چې د بېوزله، وېرندونکي، ناروغ اوکافرانسان له پاره هېڅ ډول خوشحالي نشته، بلکې هغوی تل په بد مرغۍ کې وي .

❖ څوك چې اعتدال - منځلاريتوب - پېژني په حقيقت کې نېکمرغي پېژني، او څوك چې په ژوند کې منځلاريتوب او په دين کې د نرمښت لاره غوره کړي بريالی به شي !

❖ د ژوند په يوه ګړۍ کې له يوې خبرې پرته د بلې يوې کلمې ځای هم نشته چې هغه د (اوس) کلمه ده، او د نېکمرغۍ په قاموس کې يواځې يوه کلمه شته، چې هغه د "رضا" کلمه ده او بس !

❖ کله چې يوه غميزه درپېښه شوه، داسې يې وګڼه چې دا تر ټولوستره ده، نوپرتا به اسانه تېره شي، او سمدلاسه د هغې د له منځه وړلو په اړه فکر وکړه، ځکه چې که کړاوونه نه وي، نود خوشحالۍ هيله به نه کېده !

❖ کله چې په يوه ستونزه اخته شوې، نو داسې فکر وکړه چې پخوا له دې څخه په څومره ستونزو کې لوېدلی وې، خو الله پاک ورڅخه ژغورلی وې، نو بيا به هم وپوهېږې چې په لومړي ځل چا ژغورلی وې هماغه به دې اوس هم ژغوري !

❖ که د چا حق يې پرځای نه کړ، دنده يې ترسره نه کړه، کوم درنښت يې ترلاسه نه کړ، ستاينه يې ونه شوه، علم يې ترلاسه نه کړ، خپلولي يې ونه پاللـه او نه يې کوم د خيرکارسرته ورساوه، نو په حقيقت کې دغه شخص خپله ورځ تباه کړې ده !

❖ په کارده چې تل ستا په لاس، په شا او یا په څنګ کې کتاب وي، ځکه چې په ژوند کې ډېرداسې وختونه وي چې هغه بې ګټې تېرېږي، نوکتاب یوغوره شی دی وخت پرې له هسې تېرېدلوڅخه ژغورل کیږي !

❖ د قرآنکریم حافظ، شپه او ورځ لوستونکی یې دا ځانګړتیا لري، چې له ستومانۍ، وزګارتیا او زړه تنګۍ څخه سر نه ټکوي، ځکه چې قرآن یې ژوند په نېکمرغۍ باندې ډك کړی دی !

❖ ترهغې د یوه کار پرېکړه مه کوه ترڅوچې دې د هغه کارټول اړخونه څېړلي نه وي، بیا نوله الله (ﷻ) څخه په کې خیروغواړه، د استخارې لمونځ وکړه، له باوري خلکوسره پرې سلا وکړه، که په هدف کې بریالی شوې، نو ډېر ښه او که نه نو بیا پښېماني مه څرګندوه !

❖ عاقل انسان ځان ته دوستان ډېروي اودښمنان کموي، ځکه که یوملګری په یوه کال کې پیداکیږي نودښمن په یوه ورځ کې پیداکیږي، نونېکبخته هغه کس دی چې الله تعالٰی دغه بنده خپل مخلوق ته ورګران کړي !

❖ تاته په کاردي چې خپلودنیایي غوښتنوته یوه ټاکلی اندازه وټاکې، که نه نوبیاخو به دې زړه دانه وانه، سینه به دې تنګه، ژوند به دې خراب اوحال به دې بد شي !

❖ خپله روغتیا د مال، شهوت اومنصب له پاره مه قربانوه، چې هرڅه به دې زیانمن شي، چا چې روغتیا له لاسه ورکړه هغه په هېڅ خوند نه پوهیږي !

❖ چا باندې چې الله(ﷻ) پېرزوینه کړې وي ورته په کاردي، چې نعمتونه په شکرویستلو وتړي، د الله(ﷻ)په عبادت کولو یې وساتي اوپه عاجزۍ یې وپالي چې نعمتونه همېشه دوام وکړي !

❖ د چا نفس چې په پرهېزګارۍ، فکر یې په ایمان، اواخلاق یې په نېکیوسره پاك شي، نو د الله (ﷻ) او د خلکو محبت یې ترلاسه کړ !

❖ تمبل اوسست هغه څوک دی چې خفه اوستومانه وي، کارګراو په کارکې ورځنده انسان په دې پوهیږي چې څرنګه ژوند وکړي، اوڅرنګه د نېکمرغۍ څښتن شي !

❖ که څوك پوه شي نو د دنیاخوندونه او مزې د هغې د غمیزو او اندېښنو پرتله څوچنده ډېرې دي، خو راز دلته دی چې موږ څرنګه په ځیرکتیا سره دغو مزو ته رسېدای شو؟!

❖ که یوه مېرمن ټوله دنیا، ډول ډول بري لیکونه، رتبې، هرډول د ویاړ نښانونه ولري، خوچې مېره ونه لري په حقیقت کې نېستمنه ده !

❖ بشپړ ژوند دا دی چې ته خپله ځواني په همت، له ستونزو سره په ټکر او بوډاتوب په فکرکې تېرکړې !

❖ ځان ملامتوه، بل څوک نه !ځکه چې په تا کې دومره نیمګړتیاوې شته، چې دهغو رغول ډېر وخت غواړي، نورخلك خو پرېږده !

❖ له مانیوڅخه ډېرغوره شی کتاب دی چې ذهنونه روښانوي، زړونه خوشحالوي، نفسونه له مینې ډکوي اوفکرته وده ورکوي !

❖ له الله (ﷻ) څخه د بخښنې اوروغتیاغوښتنه کوه، که د بخښنې اوعافیت څښتن شې، نوخیردرپه برخه شو اوله شرنه وژغورل شوې، د ټولونېکمرغیو په لاسته راوړنه کې بریالی شوې !

❖ یو ټیکلی ډوډۍ، اووه دانې خورما، یوګیلاس اوبه، په کوټه کې یو پزکی او د لوستلوله پاره یودانه قرآنکریم هرڅه دي، له دې پرته په نوره دنیا سلام وایه.

❖ نېکمرغي په قربانۍ ورکولو کې پرته ده، ځانځاني به نه منې، د ښېګڼې هڅه به کوې، زیان رسوونکی شی به له منځه وړې، اوله ځان ستاینې څخه به لرې ګرځې !

❖ برابره خندا نفس خوشحالوي، زړه قوي کوي، ستوماني له منځه وړي، په کارکولوکې پیاوړتیا ډېروي او فکر پاکوي !

❖ عبادت په خپل ذات کې نېکمرغي ده، کامیابي د نفس په سمښت کې ده او څوك چې الله(ﷻ) تل یادوي، هروخت ورڅخه بخښنه غواړي، ډېره زاري او عاجزي ورته کوي، نو داسې بنده له ښوکسانوڅخه ګڼل کیږي !

❖ غوره ملګری هغه دی چې باور وربانديې لری، زړه دې پرې تکيه وي، خپل بار ورسپارې، په اندېښنوکې درسره ګډون کوي، او راز دې نه څرګندوي !

❖ اوس مهال چې په کومه نېکمرغی کې يې له دې څخه د نورې زياتې په طمعه مه اوسه، کېدای شي له هغونعمتونوڅخه به بې برخې شې، چې اوس يې لرې، او د راتلونکو کړاوونو اټکل مه کوه، چې ځان ته به مخکې له وخته اندېښنې او خفګان راولې !

❖ دا ګومان مه کوه چې د هرشي د ورکړې قابليت لری، سمه ده چې ته به د خيرکارونه وړاندې کولی شې، خو دا چې ته دې د هرڅه او هرکار قابليت ولرې، نو دا لرې او ناشونې ده !

❖ ځانته ناسته تا له هرډول کينه ګر، کرکجن، وزګار، کبرجن، غيبت ګر انسان څخه ساتي، چې تاته همدا ګټه کافي ده .

❖ پرهېزګاره مېرمن، پراخ کور، د اړتيا وړ روزي او نېك ګاونډی هغه نعمتونه دي چې ډېرخلك ترې ناخبره دي !

❖ د بدو شيانو د هېرولو فن يو نعمت دی، نعمتونه ياد ساتل نېکي ده، او د خلکو له عيبونوڅخه ځان بې خبره نيول درنښت او بهتري ده !

❖ بخښنه له غچ اخسيتلوڅخه ډېره خوږه وي، کار له وزګارتياڅخه ډېرګټور دی، قناعت له مال څخه سترصفت دی، او روغتيا له شتمنۍ څخه ښه ده !

❖ له بد ملګري څخه ګوښه ناسته غوره ده، نېك ملګرى له يواځېتوب څخه ښه دی، له خلکوڅخه ګوښه ناسته يو ډول عبادت، او الٰهي قدرتونوکې فکرکول بنده ګي ده !

❖ يواځې ناسته د ښوفکرونو تولواکي ده، له خلکوسره ډېره ناسته ولاړه حماقت دی، پرخلکوباندې باورکول يا هغوی ته ځان سپارنه ناپوهي ده، اوخلك ځان ته دښمنان ګرځول يوناوړه کاردی !

❖ بد خويي عذاب دی، کينه زهردي، د بل چاغيبت کول کم اصلي ده او د بل چا په تېروتنو پسې ګرځېدل شرمول دي !

❖ پرنعمتونو شکر ویستل د عذاب مخه نیسي، د ګناهونو پرېښودل د زړونو ژوندون دی او پرخپل نفس باندې برلاسه کېدل د سترو نومیالیو خوند دی !

❖ له امن سره یوه قطره وچه ډوډۍ له هغو شاتو څخه هم خوندوره وي، چې وېره او نا امني ورسره مله وي، له پټ څخه ډکه خیمه له هغې ماڼۍ څخه ښه ده چې فتنه ـ ورانی ـ په کې وي .

❖ د علم خوشحالي تلپاتې، شان یې لوړ او یاد یې همېشه وي، خو د مال خوښي او شان له منځه تلونکی او یاد یې پای ته رسېدونکی دی !

❖ پر دنیا باندې خوښېدل د ماشومانوخوښي ده، پر ایمان باندې خوشحالي د ښوخلکوخوشحالي ده ، مال پالنه ذلت او د الله رضا له پاره یو کارکول عزت دی !

❖ د همت ستونزه خوږه وي، د یوه کارپه پای ته رسولو کې راحت وي، د کارخولې مُشك دي، او په ښه نوم یادېدل ښه عطردي !

❖ نېکمرغي دا ده چې قرآنکریم ستا ملګری، دنده او بوختیا وي، کوردې عبادت ځای اوقناعت ستا خزانه وي !

❖ په خوراک اومال باندې خوښېدل د کوچنیانوخوشحالي ده، په ښه ستاینه باندې خوښېدل د لویانو خلکوخوشحالي ده، اونېکي کول تلپاتې درنښت دی !

❖ تهجد ـ دشپې لمونځ ـ د ورځې ښایست دی اوخلکوته ښېګڼه خوښول د ضمیر ـ وجدان ـ پاکي ده !

❖ په ازمېښت کې څلورډوله مهارتونه شته، چې له الله(ﷻ) څخه یې اجرغوښتل، په صبرکې وخت تېرول، ښه یادول او د الله(ﷻ) مهربانۍ ته سترګې غړول دي !

❖ په جماعت سره لمونځ کول، د یوې دندې سرته رسول، له مسلمانانو سره مینه کول، د ګناهونو پرېښودل اوپاک خوراک دا ټول هغه شیان دي چې د دنیا او آخرت ګټې او خوښۍ په کې نغښتې دي !

❖ پام کوه چې سر نه شې، ځکه چې سر د ډېرو دردونو چېنه وي، او شهرت ته مه لېواله کېږه، ځکه چې شهرت ځانګړې مالیه - باج - لري، ګوزاره حاله ژوند هم یوه نېکمرغي ده !

❖ هسې وخت تېرول، په توبه ویستلو کې ځنډ، دخلکوپه دښمنۍ ځان اخته کول، د مور اوپلار له حکم نه سرغړول او د رازونوښکاره کول د خورا بېعقلۍ له نښوڅخه شمېرل کېږي !

❖ کله چې دالله پاک طاعت پرېښودل شي، ګناهونه ډېرشي، د خپلې بدنامۍ پروا ونه ساتي، د الله(ﷻ) له عذاب څخه بې پروا شي، ښوخلکوته په سپکه وګوري، نوڅرګنده شوه چې د دغه ډول انسان زړه مړ دی !

❖ څوك چې په خپل کورکې خوشحاله نه شو، نوهغه به په بل هېڅ ځای کې نېکمرغه نه شي، اوله چا سره چې خپله کورنۍ مینه نه کوي، نورخلك یې هم ورسره نه کوي، اوچا چې خپله نن ورځ هسې خوشې تېره کړه، نوخپله سبانۍ ورځ یې له لاسه ووتـه !

❖ څلور شیان دي چې نېکمرغي منځته راوړي : ګټورکتاب، نېك زوی، ګرانه مېرمن اوصالح ملګری، خو د دغو ټولو پرتله الله تعالٰی ښه نعم البدل- عوض- دی !

❖ ایمان، روغتیا، شتمني، ازادي، سوکالي، او پوهه د هغو ټولوهڅو او پلټونو نچوړدی، چې هوښیاران یې سرته رسوي، خو دا به ډېرکم پېښ شي چې دا ټول شیان دې په یوه تن کې راټـول شي !

❖ همدا اوس نېکمرغه شه، ځکه چې له تاسره د تلپاتې ژوند په اړه کوم ژمنلیك نشته، اونه درسره داسې کوم ضمانت او ډاډ شته چې د وخت له ناخوالو څخه به ته سلامت پاتې شې، نو داسې مه کوه چې غم په نغدو اوخوشحالي په پور اخلې !

❖ په دنیا کې ترټولوغوره شی رېښتینی ایمان، ښه اخلاق، بشپړعقل، روغ جسم او بې تکلیفه روزي ده، او له دې پرته نورهرڅه هسې بوختیا ده !

❖ دوه ناڅرګند نعمتونه دي، چې يو يې د بدنونو روغتيا اوبل يې سوکالي ده، او دوه نور څرګند نعمتونه دي، چې يو د انسان په ښه نوم يادېدل او بل نېك عمله زېږنده ده !

❖ خوشحاله زړه د کينې او راضي نفس د کرکې مېکروبونه وژني !

❖ امن ترټولوغوره بسترده، روغتيا ترټولو لويه پرده ده، پوهه ترټولو خوندورخوراك، مينه يوه ګټوره درملنه او د عيبونوپټول يوغوره جامه ده !

❖ نېکمرغه انسان هېڅکله بدکاره، ناروغ، پوروړی، غمجن، بنديوان اود خلکو په سترګوکې نا ګڼلی نه وي !

❖ د ستونزوختمېدل، د دښمنيوله منځه تلل، د ښوکارونوکول اوپرنفسي غوښتنو بريااليتوب نېکمرغي ده !

❖ ترټولو بې خطره لارهغه ده چې ستا کورته تللې ده، ډېره برکتناکه ورځ هغه ده چې ته په کې نېك عمل وکړې، خو ترټولو بد مرغه ورځ هغه ده چې ته په کې له بل چا سره بد چلند وکړې !

❖ که چا تاته کنځلې کړې وي نوداسې خلک هم شته چې خپل هغه رب ته کنځلې کړي، چې له نشت څخه يې شته کړل، خوبياهم دهماغه رب په وجود کې يې شك وکړ، روزي يې ورکړه خوهغوی له نوروڅخه مننه وکړه، همدغه رب له وېرې څخه ډاډمن کړل، خودغوخلکو ورسره جګړه پيل کړه !

❖ ته ټوله ځمکه په خپل سرمه باروه او دا ګومان مه کوه چې ګواکې خلك زموږ کارته د پام په سترګه ګوري، خو که له خلکوڅخه يوکس په زکام ـ رېزش- اخته شي نو زما اوستا مرګ به هېرکړي !

❖ ګوزاره حاله ژوند، روزي او وطن، سلامتيا اوکور، له فتنوڅخه امان، له ستونزوڅخه خلاصون، د الله(ﷻ) پرنعمتونوباندې شکراو ټول عمريې ستاينه او عبادت کول همدا خوشحالي ده !

❖ د بېځوکه او لاروې غوندې په دنيا کې ژوند تېروه، داسې لمونځ کوه لکه له دنياچې ځوک تلونکی وي، داسې کارمه کوه چې بيا پرې پښېمانه کېږې، له خلکوڅخه په بشپړه توګه مړه خوا اوسه !

❖ له دنیاڅخه مړه خوا شه چې الله(ﷻ) ته ګران شې، او د خلکوشتمنیوته سترګې مه غړوه، نوخلکوته به ګران شې، په لږو قانع شه، پرپاک قرآن عمل وکړه آخرت ته د تللوله پاره تیاری ونیسه،او له عظیم اوجلیل رب څخه ووېرېږه!

❖ د خلکوپه سترګوکې بد ګڼل شوی انسان ښه ژوند نه لري، دښمني کوونکي انسان هوسا اوګناهګارسوکاله نه وي، فاجرـ سرکښه ـ انسان دوست نه لري، دروغجن ستایونکی نه لري، اوپه خاین انسان باورنه شي کېدای .

❖ د مؤمن شان ته حيرانتيا ده، ټول كاركې يې خيردی، او دا ځانګړتيا له مؤمن پرته بل چا ته نشته، كه ورته خوښي پېښه شي، نوشكريې پرځای كوي، چې دا شكرهم ورته په خيرتماميږي، اوكه غميزه ورته پېښه شي، نوصبركوي چې دا صبريې هم په ګټه دی !

❖ له مسلمان ورور سره نری خندا د نېكمرغۍ كونجي، محبت يې دروازه، خوشحالي يي باغچه، ايمان يې رڼا او امن يې دېوال دی !

❖ ورين تندی، له ښكلي مخ، شنوباغچو، يخو اوبو او ګټوركتاب څخه عبارت دی، او دا ټول له هغه زړه سره ښايي چې نعمت پېژندونكی، ګناه پرېښودونكی او خيرخوښوونكی وي !

❖ له روغتياڅخه برخمن انسان په تيره داسې ويده وي، لكه په ورېښمين بستركې چې پروت وي، د وربشې ډوډۍ داسې خوري، لكه دغوښې په ښوروا كې ماته شوې ډوډۍ، اود لوخو په جونګړه كې داسې اوسيږي، لكه د كسرئ پاچا په ماڼۍ كې چې اوسيږي !

❖ بخيل انسان يا د نېستۍ ژوند كوي، او يا شتمن مړكيږي، خوپه حقيقت كې يې د خپل اولاد خدمت او د مال څارګري كړې وي، خلك ورڅخه خفه او كركجن ګرځي !

❖ اولاد له مال او پانګې، روغتيا له شتمنۍ، امن له كور او تجربه له مال څخه قيمتي ده !

❖ په خوشحالۍ شکراوپه خفګان صبرکوه، د چوپتیا په وخت کې فکرکوه، د الله(ﷻ) مخلوقاتوته د پند په نیت ګوره، د خبرو پرځای د الله(عزوجل) ذکرکوه، ژوند باید د الله په عبادت کې تېرکړې، اومرګ باید ستا اصلي موخه وي !

❖ د مرغه په څېراوسېږه چې روزي يې ورته سهار او ماښام راځي، هغه د سبا ورځې غم نه کوي او نه په بل چا باورکوي، چاته زيان نه رسوي، سوری يې کم اوحرکت يې نرۍ دی !

❖ هرڅوك چې له نوروسره ډېره ناسته ولاړه کوي، نوهغوی به يې سپکاوی وکړي، چاچې په خلکو بخيلي کوله، نوهغوی به يې بد ګڼي، څوك چې له زغم څخه کاراخلي، نوخلک به يې درنښت وکړي، څوك چې سخا کوي نوخلک به ورسره محبت کوي، اوڅوك چې خلکوته اړشي بيا يې هغوی ښه نه ګڼي !

❖ ستوري په خپل مدارکې څرخيږي، ورځې ګرځي راګرځي، شپې ورځې زېږوي او دا ناشوني ده چې همېشه دې يوحال دوام وکړي، يواځې رحمان ذات هره ورځ په بېل بېل حال کې دی، نوته ولې خفه کېږې !؟

❖ ته څرنګه د پادشاهانودروازو ته ودرېږې، حال دا چې هغوی په خپله د رب العالمين په واك کې دي، ته خوپه حقيقت کې له يوه فقيراوبخيل کس څخه غوښتنه او زخمي انسان ته شکايت کوې !

❖ ته د پېښنمي په وخت کې يوڅو داسې ليکونه ولېږه چې دهغوليکونو رنګ اوښکې، کاغذونه يې د مخ اننګي، پوست خونه يې د قبول ځای اوطرف ـ لوری ـ يې د الله (ﷻ) عرش وي، بيا نود ځواب انتظارکوه !

❖ کله چې الله تعالی ته سجده کوې، نوپه دغه وخت کې يې په پټه توګه خبرکړه، ځکه چې هغه خوپه پټه اوښکاره دواړوښه پوهېږي، اوته پرخپل دغه راز باندې د څنګ ملګری مه خبروه، ځکه چې محبت ځانګړي رازونه لري اوخلك هم توپيرلري، ځکه چې ځينې ستا خيرغوښتونکي اوځينې کينه کښ وي !

❖ پاکي ده هغه ذات لره چې د انسان زاري يې ځان ته عزت، دهغه اړتيا يې خپله شتمني، ورڅخه غوښتنه کې يې خپل درنښت، په سرتيټوالي کې ورته خپل لوړوالی او ورباندې توکل يې د ځان له پاره کافي ګڼلي دی !

❖ کله چې په اندېښنه کې ولوېدې، اود غم له کبله غمجن شوې، په مال او کورنۍ باندې وکړېدې، نوبیا مه خفه کېږه، ځکه، کېدای شي چې الله (ﷻ) له دې وروسته نورڅه منځته راوړي ! ( یعنې خفګان دې په خوښۍ بدل کړه) !

❖ هېڅکله دا کلمه ﴿حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴾ : الله موږ ته کافي دی اوهغه ښه کارجوړونکی دی ) مه هېروه، دا یوه داسې دعا ده چې اور وژني، غرق شوی انسان پرې نجات مومي، سمه لار پرې پېژندل کېږي، اوپه دې کې کلکه ژمنه پرته ده !

❖ ای مرغۍ نېکبخته یې ! له ویالې څخه اوبه څښې، په ونه کې اوسېږې، مېوې خورې، له خطره نه وېرېږې او په دوزخ نه تېرېږې، نو ته خو له انسان څخه ډېره نېکمرغه یې !

❖ خوشحالي هم د سوالي شي په څېریوه شېبه وي، خفګان رژوونکی دی، قهر د اورسپرغۍ ده، بېکاري زیان او عبادت یو ګټور تجارت دی !

❖ پرونۍ ورځ مړه شوې، ننۍ ورځ روانه ده، او سبانۍ ورځ لا تر اوسه نه ده زېږېدلې او ته د همدې روانې شېبې څښتن یې، نوپه بنده ګۍ یې تېره کړه، نو ډېره ګټه به درته ورسېږي !

❖ ستا ښه ملګری قلم، ستا حوض د قلم توررنګ، کتاب دې دوست، وطن دې خپل کوراو پانګه دې خپل زور دی، نو په تېرو شیانو باندې خفګان مه کوه !

❖ کېدای شي د کارونوپه پیل کړېدلی او په پای کې به یې خوشحاله شوی یې، لکه د ورېځې غوندې چې پیل کې یې تالنده - برېښنا اوتندر وي- خو وروسته ورڅخه ښایسته د رحمت باران وي !

❖ استغفار- له الله څخه بخښنه غوښتل- بند قولفونه پرانیزي اوفکرونه پراخوي !

❖ شپږ شیان دي چې دانسان له پاره کافي اوشافي دي : دین، پوهه، شتمني، مېړانه، له الله تعالٰی څخه بخښنه او د بدن روغتیا !

❖ هغه ذات چې د محتاج -اړ- انسان دعاء قبلوي، په اوبو کې ډوبېدونکی کس چې کله الله ته چغه وکړي هغه ژغوري اودهغه کړېدلي بنده کړاو له منځه

وړي، چې د یا الله غږ کوي؟ څرګنده ده چې یواځې همدا یو الله دی چې ستونزه هواروي !

❖ له بې ګټې تا ویلو ما ویلو، له خوشې ناستې اوکمعقله ملګري څخه لرې شه، ځکه چې ملګری ځانته راښکونکی دی، طبیعت غل اوسترګه هم غلا کوي !

❖ خبرو ته ښه غوږ نیول اود بل چاخبرې نه پرېکول، په نرمه لهجه خبرې کول اوښه اخلاق د اصیلو خلکو په سینو د ویاړ نښانونه دي !

❖ ته خود ایمان، قرآن، دوه سترګو، دوه غوږونو، دوه پښو، دوه لاسونو، ژبې، سوکالۍ او ډاډمن ژوند څښتن یې، نوتا د کوم یوه شکرپرځای کړ!؟ نوتاسو-ای انسانانو اوپېریانو د الله تعالٰی په کومو نعمتونو دروغ وآیاست !؟

❖ ته خوپه خپلودوه پښوګرځې، خو ډېرداسې خلك شته چې د هغوی قدمونه پرې شوي دي، ته په خپلو پنډیو ودرېږې، خود نوروخلکوډېرې پنډۍ غوڅې شوي، ته خو قرارخوب کوې حال دا چې دردونو د ډېروخلکوخوب تښتولی دی، ته موړ یې، خو نور وږي دي !

❖ ته له کونوالي، ګونګوالي، وړوندوالي څخه روغ او له پیس، جذام، نري رنځ، سرطان، اولېونتوب له نارغیوڅخه خوندي یې، نو ایا تا د رحمان ذات شکر پرځای کړی دی !؟

❖ زموږ بد مرغي دلته ده، چې موږ د خپلې روان وخت په سمولوکې پاتې راغلي یو اوپه خپل تېروخت پسې فکرونه کوو، له خپلې ننی ورځې ناخبره او د سبا ورځې په غم کې بوخت یو، نو دا کومه پوهه اوعقل دی !؟

❖ پرتا باندې د خلکونیوکې دا معنا لري لکه تاچې یو داسې کارکړی وي چې هغه د یادونې وړ وي او یا دا چې ته له هغوی څخه په علم، عقل، مال اوحیثیت کې پورته اومخکې شوی یې !

❖ له بل چاسره سیالي کول، نوروخلکوکې خپل ځان رنګول اوګډوډول، د هغوی نخرې کول، په حقیقت کې ځانوژنه او د خپل شخصیت یا ځانګړتیاوو تباهي ده !

❖ بېشکه چې هرې ډلې خپل ګودر پېژندلی، او د هرچا له پاره خپل لوری وي، ځینې ونې له یوه بېخه او ځینې له بېلا بېلوبېخونوڅخه لوړیږي، چې دواړه بیا له یو ډول اوبوڅخه خړوبه کیږي !!

❖ له اوښکې سره خندا، له پرېشانۍ سره خوښي او له ازمېښت سره ثواب مل وي، نو دا یوه الـهي ټینګه لارښوونه او نه بدلېدونکې قاعده ده .

❖ وګوره چې له ناروغ اوغمځپلي پرته بل څوك وینې ؟ په هر کورکې به پرمړي ژړېدونکې ښځه او پرهرمخ به د ژړا له امله اوښکې وګورې،(عربي متل دی) چې په هرناو کې د سعد زامن شته !

❖ دهغه چا غږ چې ستا د ښېګڼې مننه کوي، هغه د مرغانو د سندرو، د سهارله وږمې د ونو له شرهاري، او د رباب له ترنګهاري څخه هم خوږ وي !

❖ که کله ته تودې اوبه وڅښې، نو په سختۍ سره به الحمدلله ووایې، خو که یخې اوبه وڅښې نوستا هراندام به وایي چې: الحمدلله !

❖ تر ټولوارزانه نېکمرغي چې د هوښیارانو په بازار کې پلورل کیږي هغه د بې ارزښته شیانو پرېښودل دي، او پوه انسان ته قیمتي خبره داده، چې ته له خلکو او خلك له تاسره مینه وکړي !!

❖ له اندېښنې څخه ځان وژغوره، ځکه چې هغه زهر دي، له کمزورۍڅخه ځان څنګ ته کړه بېشکه چې هغه مرګ دی، له سستۍ څخه ډډه وکړه، بېشکه چې هغه تاوان دی، په کارکې له زړه نازړه توب څخه ځان وژغوره چې دا یو بد تدبیردی !

❖ بد ګاوندی له یواځې ژوند څخه هم خراب دی، له نوروسره ښېګڼه له دنګو ماڼیوڅخه هم لوړکاردی، اوپه ښه نوم یادېدل لوړ ویاړدی !

❖ څوك چې د لارښوونکي دین، سموونکي عقل، د ساتونکي ټبر، د ښکلې حیا څښتن وي، نوپه حقیقت کې دغه شخص ټول درنښتونه ترلاسه کړي دي !

❖ چاچې شخړه پرېښوده، له ښځایه ویاړڅخه یې ډډه وکړه، له دروغوڅخه یې ځان وساته، پرالـهي برخلیک خوښ شو اوکینه یې پرېښوده، نو الله تعالی به پرې د خپلو بندګانو زړونه ورمات کړي !

❖ چاچې خپل پادشاه سپك وګڼه، هغه به له دنيا څخه بې برخې شي ، چا چې يوعالم سپك وګڼه، له دين څخه به بې برخه شي، چا چې د ملګري سپکاوی وکړ، سرېتوب به يې له منځه ولاړ شي، اوچاچې الله تعالىٰ سپك وګڼه (العياذ بالله) نو دنيا اوآخرت دواړه به يې له منځه ولاړ شي !

❖ تاته د خلکو اړتيا ستا له پاره يونعمت دی، نوته پرې مه تنګيږه، که نه نو دا به بيا ستا له پاره په عذاب بدل شي اوپه دې پوه شه چې ستا په ژوند کې به ترټولو ښه ورځ هغه ورځ وي، چې خلک تاته راځي، نه دا چې ته خلکوته ورځې (البته د خدمت کولو په موخه )!

❖ مخکې له دې چې دشپې ويده شې نوخلکوته بخښنه وکړه، خپل زړه دې په عفوه باندې اووه ځله پرېمينځه او اتم ځل پرې له الله تعالىٰ څخه د بخښنې غوښتنه ورزياته کړه، نو تاته به د ايمان خوند ځرګند شي !

❖ علم په تنهايۍ او بې کسۍ کې ښه دوست، په ګوښېتوب کې څارونکی، د ښې لارې لارښود، په سختۍ کې يو ښه مرستندوی او له مرګ څخه وروسته پړاو له پاره ښه پانګه ده !

❖ څوك چې دعاجز زړه، اوښکې بهېدونکوسترګو اود موړنفس څښتن وي، نوهغه ته شکېدلې جامې يا څپلۍ څه تاوان نه رسوي !

❖ د غمونواو اندېښنو لامل له الله (ﷻ) څخه مخ ګرځول او دنياته مخ کول دي،( که چا الله ته شااو دنياته مخ کړ) نو د تل له پاره زندان ته ورننوت، نه به ژوندی وي چې د خلاصون هيله يې وشي اونه به په مړو حسابيږي !

❖ ښه مال د ځمکې په تل کې د اوبو شرېدونکې چينه ـ جاري صدقه ـ ده، که ورځخه ويده هم شې، نوهغه شپه بېداره تېروي، که ته بې درکه شې نوهغه حاضره وي اوکه ته مړشې، نوهغه ستا له پاره توښه وي !

❖ که ته د ځان له پاره نېکبختي غواړې، نوچوپتيا غوره کړه، ځکه چوپ انسان هيبتناك وي، د بل خبرو ته غوږ نيوونکی منلی اوګڼلی وي، ستونزه تولـه په خبرو کې پرته وي !

❖ ژوند د آخرت له پاره توښه تيارول، يا د روان ژوند بندوبست، يا له روا شيانوڅخه خوند اخيستل يا د خپل عقل شتمنول او يا د نفس پاکول دي او له دې پرته نورټول هسې بېځايه شيان دي !

❖ ګوښه ناسته تا له کينه کښ، دښمن، بېکاره، کبرجن، غيبت کوونکي او فخرکوونکي ... په څېر له بدو خلکوڅخه ژغوري، چې دا هم ډېره ستره ګټه ده !

❖ که اندېښمن شوې نوله يوه وطنه بل وطن ته په سفرکولو باندې به نېکمرغه نه شې، بلکې هغه مهال به نېکمرغه شې چې ته له يوشعور- فکر- څخه بل شعورته سفر وکړې يعنې واوړې !

❖ کله چې نفس خپله ښايسته وي، نوهغه ته سهارځلانده، شپه ورته مېله، خلك ورته دوستان اود لوخوجونګړه ورته غښتلې مانۍ برېښي !

❖ د الله(ﷻ) له رحمت څخه چې پرخپلوبنده ګانويې کوي يو دا دی، چې څوك يې حکم ومني نو زړه يې موړکړي، په داسې حال کې چې که له څوقپونو پرته نورهيڅ هم ورسره نه وي، نوداسې به انګېري چې د ټولې دنيا پادشاه دی !

❖ بدني روغتيا دنيا، اوښه صحت ځواني ده، صبرمېړانه ده، سخا تقوا او ښه نسب مال دی !

❖ ترټولوپرېوتی انسان هغه څوك دی، چې ځان د بل چا په ښه کې ځرګندوي، خپله ښه يې ورکه کړې وي، د الله تعالٰی په وېش باندې ناخوښ او د خپلې روزۍ په اړه اندېښمن او بدخويه وي !

❖ چاچې هروخت په مسجد کې ځان پرعبادت بوخت وساته، نود قرآنکريم مُحکم ايت ورپه برخه شو، دوست به ومومي، ښه علم به حاصل کړي، د الله تعالٰی رحمت به يې په برخه شي، کومه ګټوره خبره به واوري او توبه به يې قبوله شي !

❖ چاچې روژه ونيوله روزي به يې خوندوره شي، څوك چې ډېرعبادت کوي خوب به يې په برخه شي، څوك چې سخا کوي ستايونکي به يې زيات وي اوڅوك چې مشري کوي نوکينه کښ به يې ډېر وي !

❖ ترهغې پورې نېکمرغي نشته، چې ترڅوستا جسم ،عقل ، وجدان اوخیال له هراړخیزې ولجې څخه ازاد نه شي، په دې خاطر چې یواځې د یوه الله بنده ګي وکړې او بس !

❖ نېکمرغه انسان هغه څوك دی چې نه روغېدونکي او نه سمېدونکي شیان هېروي، د نورو ښېګڼه په یاد ساتي اوبد یې نه یادوي !

❖ څومره چې ته د خپلې روزۍ ځای پېژني له هغه نه ډېر زیات ستا روزۍ ته خپل ځای څرګند دی، روزي تا پسې داسې ځغلي لکه لمرچې سیوری شړي او ترهغې به مړ نه شې ترڅو دې خپله روزي بشپړه کړې نه وي !

❖ نېستمن هغه څوك دی چې یو بد اصله ـ پست ـ انسان ته اړ شي، فقیراو بېوزله هغه دی چې ډېر شی هم ورته لږ برېښي او وړوند انسان هغه دی چې خپل عیبونه ورته نه ښکاري !

❖ څوك چې د خپلوغوښتنوترلاسه کولوکي لوړې موخې ته ورسېده، نودا اټکل دې هم وکړي چې کوم شیان یې خوښ نه وي له هغو سره به هم مخ کېږي، خو د الله (ﷻ) عبادت ورڅخه بېل دی، ځکه چې د هغه پایله خوالهي خوښي اوجنت دی !

❖ د الله(ﷻ) د پېرزوېنود ډېروالي ترټولوزیات وړهغه څوک دی، چې د نعمتونوشکرپرځای کوي اوپه خلکوکې ترټولومنلی کس هغه دی، چې ډېره سخا کوي، زیان رسوونکی نه وي او تندی یې ورین نیولی وي !

❖ خوشحالي سوکالۍ ته، مال خیرات ته، لوړ پوړي سپارښتنې اومشري عاجزۍ ته اړتیا لري !

❖ له ستومانی پرته هوساینه نه ترلاسه کېږي، ښه ژوند له تکلیف پرته نه راځي، له ادب پرته مینه نه پیدا کېږي !

❖ زامن له شتمنۍ څخه، ښه اخلاق له لوړمنصب، همت له تجربې، تقوا له ستاینې څخه لوړ اوغوره شان لري !

❖ هرڅه چې اورې په طمعه یې مه اوسېږه، پرهردوست باورمه کوه، ښځوته دې خپل رازمه څرګندوه، او په هرې هیلې پسې مه ځه !

❖ ما له ګوښه ناستې پرته راحت نه دی لیدلی، له عبادت پرته مې په بل شي کې ډاډ نه دی لیدلی، له مینې پرته مې وفا نه ده لیدلې او له رېښتینولۍ پرته مې باور نه دی لیدلی !

❖ ډېرځله یوڅوک د نورو ځپونومخه بنده کړي، یوه خبره ډېرې دښمنۍ منځته راوړي، یوه ګناه د ډېرو نېکیومخه نیسي، او په یوځل لیدو پسې ورسته ډېرې پښېمانۍ راروانې وي .

❖ په مینه کې دروغجن نه شې، په کینه یا کرکه کې ډېرمه سختېږه، په دې خاطر، چې محبت دې بې اخلاصه او کرکه دې له حد څخه زیاته نه شي، په ژوند کې اسراف مه کوه، تېر وخت پسې ګوتې مه مروړه، اوټول هدف به دې ځانپالنه نه وي !

❖ هرسړی په خپل کورکې ټولواك دی، نه یې څوك سپکوي، نه یې په دروازه کې څوك ایساروي، نه یې کوم ظالم سپکولی شي، او نه یې کوم بخیل ځوابولی شي !

❖ ترټولوښه ورځ هغه ده چې ستا زغم زیات کړي، علم درپه برخه کړي، له ګناه څخه دې وژغوري، ځیرکتیا درپه برخه کړي اوعزم - هوډ - دروبخښي !

❖ ژوند یوه داسې شېبه ده، په ارزښت یې هلته پوهیږوچې کله موله لاسه ووځي، او روغتیا د روغوخلکوپه سریوتاج دی، چې یواځې ناروغانوته ښکاري.

❖ هغه سړی به هېڅکله نېکمرغه نه شي چې د نافرمانه زوی، لانجمنې مېرمنې، زیان رسوونکي ګاونډي بېکاره ملګري، په ناروا امرکوونکي او د نفسي غوښتنو منونکی وي .

❖ ښېشکه چې ستا رب، ستا نفس، ستا سترګې، ستا مېرمن اوستا مېلمه پرتا حق لري، نوبايد چې د هرحق خاوند ته خپل ټاکلی حق په خپل شکل وروسپارې !

❖ د ګهیځ په لیدو ځان خوشحاله کړه، ځکه چې دا سباوون ځانګړی ښایست لویوالی او رڼا لري، چې هغه تاته د نېکپالۍ اوښوهیلو دروازې پرانیزي !

❖ تاته په کار دي چې خپل کارونه سهار وختي ترسره کړې، ځکه چې د سهارپه وخت کې برکت وي، که تلاوت، ذکر، د قرآنکریم حفظ،عامه لوستنه، سفر، کوم کار او یا کتاب لیکې، نوسهار وختي یې ترسره کړه !

❖ په هرڅه کې معتدل ـ منځلارى ـ اوسه، د لارې په څنډه درومه، خپل رب دې خوشحاله او راضي کړه، د الله تعالىٰ پرمخلوق رحم کوه، فرضي عبادتونه پوره ترسره کوه، اونفلي عبادتونه هم ځان ته توښه وګرځوه، نوته به په نېغه لار روان انسان شې !

❖ ښه خاتمه، په شریعت برابره وینا، نېك عمل، ظلم او له خپلوۍ شکولو څخه ځان ساتل دالله تعالىٰ ښه توفیق دى .

❖ کله ناکله به یوه خبره نعمت له منځه یوسي، او کله بیا یوځل تېروتنه رسوایي منځته راوړي، ډېرځله ځانته ناسته خوږه وي، ډېرځله د ګوښه ناستې خاوند عزتمن کیږي .

❖ مسلمان هغه دى چې نورمسلمانان یې د ژبې او لاس له زیانه سلامت وي، مؤمن هغه څوک دى چې د خلکووینه اومال ورسره خوندي وي، اومهاجرهغه څوك دى، چې هغه څه پرېږدي له کوم شي څخه چې الله (ﷻ) منع کړى وي .

❖ ستا ښه مال هغه دى چې تاته ګټه درورسوي، غوره علم دې هغه دى چې ستا شان لوړکړي، ښه کوردې هغه دى چې ته په کې ځاى شې اوستا ښه ملګرى هغه دى چې تاته لارښوونه کوي !

❖ که ته حاسد ـ کینه کښ ـ ونه لرې، نوپه تا کې څه خیرنشته، که دوست ونه لرې، نوته اخلاق نه لرې، اوکه ته دین نه لرې، نومقصد دا چې ته هېڅ هدف نه لرې !

❖ ځان د خپلونېکیوپه یادونه خوښ کړه، زړه دې له ګناهونوڅخه په توبه ویستوخوشحاله کړه، او په ښېګڼوباندې د خلکومینه ترلاسه کړه !

❖ د بدن چاغوالى غفلت او بې پروایي زېږوي، په ډېرخوراک خیټه ډکول هوښیاري له منځه وړي، زیات خوب په هدف کې د پاتې کېدولامل دى، زیاته خندا زړه وژنې، او وسوسه یوعذاب دى .

❖ مشري تي ورکولو ته ورته ده، رودل یي خواږه او پرېښودل یې ترخه دي، د ریاست ترلاسه کولوخوشحالي بېرته دګوښه کېدوپه خفګان له منځه ځي او د قدرت چوکۍ ځرخېدونکې ده یعني ( قدرت هېڅ چاته تل نه پاتې کيږي).

❖ دا هم د نړۍ له خوندونوڅخه شمېرل کيږي چې له ګران ملګرى سره سفر وکړې، له هغه چا لرې اوسې چې تا نه خوښوي، له زيان رسوونکي کس څخه روغ پاتې شې، اوبريالتيوب درپه زړه کړې !

❖ نېکي له ازاد انسان نه مريی جوړوي، ښېګڼه انسان زنداني کوي، حوصله او زغم مقابل کس کمزوری کوي، او صبر د اورسکروټې وژني .

❖ کله چې دنیا سپکه وګڼل شي نوډېره خوندوره شي، او اړتیا هغه وخت زیاته بې ارزښته شي چې ورڅخه بې پروايي اختيارشي .

❖ که ته د سبا ورځې د روزۍ په اړه اندېښمن یي، نوداسې څوك شته چې تاته د سبا ورځې د رارسېدو ژمنلیک درکړي؟ او که د پرونۍ ورځې پېښې غمجن کړی یې، نوڅوک به درته پرون ورځ بېرته راوګرځوي !؟

❖ د الله(ﷻ) له اړخه بنده ته لږ توفيق په برخه کېدل له زيات مال څخه غوره دی، اوپه عزت کې ځانته ناسته د هغه مشرۍ څخه ښه ده، چې سپکاوی په کې وي، په عبادت کې کمزوري په ګناه کې له سرکشۍ څخه غوره ده .

❖ قانع انسان پادشاه، اسراف کوونکی احمق، قهرجن لېونی، بيرندی کم عقله اوکينه کښ ظالم وي .

❖ د الله(ﷻ) ذکر راضي کوي، انسان نېکمرغه کوي، شيطان رټي، خفګانو نه له منځه وړي، او د عمل تله درنوي .

❖ هغه څوک نېکمرغه دی چې له اوږد عمرسره نېك عمل ولري، اوهغه کس بريالی دی چې له ډېرمال سره سره ډېره ښېګڼه کوي، اوهغه څوک نېکبخته دی، چې دعلم له ډېروالي سره يې پرهيزګاري هم زياته شي .

❖ دهغه چا بدله چې نورو ته پاملرنه کوي دا ده، چې خپلې اندېښنې به يې هېرې شي، اودهغه چا اجرچې د خپل بادار د دين خدمت کوي دا دی، چې نور

خلك به يې خدمت کوي، او د هغه چا سزا چې دنيا ته يې شا اړولې وي دا ده چې هغه ته به روزي پراخه راځي .

❖ د روغتياپه شتون کې د الله(ﷻ) ډېر لږ نعمت هم کم مه ګڼه، که له ګناهونوڅخه توبه نه وباسې نو بيا يوه ګناه هم کوچنۍ مه ګڼه، اوکه اخلاص درسره نه وي نوبيا عبادت مه ډېروه !

❖ په مال باندې خوښي د ماشومانوخوښي ده، په ښه نوم يادېدوباندې خوښي د مېړنيوخوشحالي ده، اود الله تعالی په اجرخوښېدل د اولياووخوشحالي ده .

❖ رېښتيا ويل داړ، دروغ ويل شك، حياحفاظت،علم دليل، څرګنده اوڅېرلې خبرې ښکلا او چوپتيا حکمت دی .

❖ د برياليتوب مزه د صبرتريخوالی له منځه وړي، د برلاسۍ خوند د ستونزوسختي له منځه وړي، او يو کارپه ښه ډول سرته رسول د هغه کارستونزه ختموي .

❖ په دنيا کې ترټولو پاک شی د الله (ﷻ) محبت، په جنت کې ډېرښه شی د الله ملاقات، په ټولو کتابونوکې ګټورکتاب قرآنکريم اوپه خلکو کې ډېرښه انسان رسول الله (ﷺ) دی .

❖ نېمکرغه انسان هغه دی چې له خپلې پرونۍ ورځې څخه پندواخلي، پر خپل ځان رحم وکړي، خپل قبر له پاره تياری وکړي اوپه پټه اوښکاره دواړو حالتونو کې له الله تعالی څخه ووېرېږي .

❖ حرص ذلت او طمع سپکاوی دی، بخيلي سپك خوی او د چا تر اغېز لاندې راتلل پښېماني ده، غفلت د انسان اوښه ژوند په منځ کې پرده ده .

❖ الله(ﷻ) ياد ساته هغه به تا ياد کړي، الله(ﷻ) په هوسا حالت کې وپېژنه چې هغه بيا تا په سختی کې وپېژني، کله چې غوښتنه کوې، نو له الله (ﷻ) څخه يې کوه اوکله چې مرسته غواړې د الله (ﷻ) په نوم يې غواړه !

❖ د ښه عمرخواږه د ژوند په سختی کې په کار واچوه، مال د خپل حالت د ساتنې له پاره وکاروه اوعمر د خپل رب بنده ګۍ ته ځانګړی کړه !

❖ ډېرځله یوه مزه د حسرت -پښېمانی- لامل وګرځي، اویوه غلطي د سپکاوي لامل وګرځي، یوه ګناه د یوه نعمت د له منځه وړولامل شي او کله خندا ژړا راولي .

❖ چې د نعمتونوشکر پرځای شي هغه ټینګ پاتې شي، خوچې ناشکري وشي نوهغه وتښتي اوکله که دنیا څوك خوشحاله کړل، نو ورڅخه بېرته وتښتي او که یو ځلې دنیا ښه وکړي، نوبل وار ته بیا دوکه کوي .

❖ د بدن سلامتي له هغودوه غنیمتونو- سلامتي اوفارغ وخت - څخه یو غنیمت دی، روغتیا په لږ خوراک کې، د روح روغتیا د ګناهونو په لږوالي او د وخت روغتیا د الله تعالٰی له غضب څخه په ځان ژغورنه کې ده .

❖ یوه دقیقه درد د یوې ورځې په کچه وي، خو یوه ورځ خوند د یوې دقیقې په اندازه تېرېږي، د خوشحالۍ شپه لنډه او د غم شپه اوږده او درنده وي .

❖ بېوزلی درته پېرزوینې در په یاد کړې، ولږې درته خواږه خواږه کړل، زندان درته ازادي ارزښتناکه کړه، اوناروغۍ درته د روغتیا مینه پیدا کړه .

❖ درې طبیبان ځان سره ملګري کړه: خوشحالي، هوساینه او پرهېز، اوله درېیو دښمنانو څخه ځان وژغوره : بد فالي، اندېښنه اوناهیلي .

❖ نېکمرغي دا ده چې انسان د کمال پړاو ته ورسېږي، بریالتیوب دادی چې انسان د خپلوکړنومبوه وڅکي، او خوشبختي داده چې دنیا د انسان په خدمت کې وي، سره له دې که مخ یې هم ترې اړولی وي .

❖ د پېشنمي وخت کې راپاڅېږه، خپل دواړه لاسونه اوږده کړه، سترګې دې پاس جګې کړه، او داسې دعاء وکړه : ای ستره ربه! موږ تاته له لږې او بېکاره پانګې سره راغلي یو، خوته موږ ته پیمانه پوره راکړه .

❖ له درد، ناروغۍ او بوډاتوب څخه سلامتیا د نعمتونو له جملې څخه شمېرل کېږي، ترهغې پورې اوبه مه څښه چې تږې نه شې، ترهغې خوراك مه کوه ترڅو وږی نه شې، اوترهغه وخته مه ویده کېږه ترڅو ستړی نه شې .

❖ چا چې له زغم څخه کار واخیست هغه څه به ترلاسه کړي چې هیله یې لري، اوچا چې په نېك کار کې ستونزه وزغمله بریالیتوب به یې په برخه شي، په

**يوکارکې بيره کول د هغه کارد زيان لامل شي، او ارزوګانې يې د مفلسی په معنا سره وي .**

**❖ ستا په اړه چې الله(ﷻ) کومې پرېکړې کړې دي پرهغې باندې راضي شه، اوکوم حالت چې الله(ﷻ) تاته غوره کړی اوته په کې قرارلرې، نودهغه حالت د لرې کېدوهيله مه کوه، ځکه چې الله(ﷻ) ستا په ګټه له تا ځخه ښه خبردی، اوهغه ستا له مورځخه هم پرتا خورا مهربان دی !**

**❖ په هره الٰهي پرېکړه کې خيروي، ان که د ګناه حالت هم وي، خو د پښېمانۍ، توبې ويستلو، خاکسارۍ بخښنې د کبر او وياړختمېدوپه شرط سره .**

**❖ هرمهال استغفرالله وايه، ځکه چې په ورځ او شپه کې الله (ﷻ) د بخښنې وږمې رالېږې، کېدای شي تاته له همدې جملې ځخه داسې څه درپه برخه شي، چې ترقيامته به ستا د نېکمرغۍ لامل وګرځي .**

**❖ هغه ځوک نېکبخته دی چې کله پرې د نعمتونولورېينه وشي، نوشکر وباسي، کله چې ورباندې غميزه راشي نوصبر وکړي، کله چې څه ګناه ورځخه وشي، نوله الله ځخه بخښنه وغواړي، کله چې قهر ورشي له زغم ځخه کار واخلي اوکله چې څه پرېکړه کوي نوله انصاف ځخه کاراخلي .**

**❖ د ژبې تېزوالی، د عقل پياوړتيا، د فکراو زړه صفاوالی ، د اندېښنې لرې کول، د نورو له تجربو ګټه اخيستل، د نېکوخويونو او کارونوپه برخه کېدل او داسې نور د لوستلو له ګټوځخه شمېرل کيږي .**

**❖ د زړه غذا په اخلاص، توبه الله ته په ورګرځېدو او هغه باندې باوري کېدل، ورځخه د اجرپه لېوالتيا، له عذاب ځخه يې په وېره او له ذات سره يې په مينه کې نغښتي دي .**

**❖ په (( يا ذالجلال والاكرام )) پورې ځان ونښلوه او(( يا حيّ يا قيّوم برحمتك استغيث )) دعاءهمېش وايه، ته به وګورې چې ځومره خوښي، اساني او ډاډ درپه برخه کيږي .**

**❖ که چا درته زيان دررسوه، نوسمدلاسه الٰهي پرېکړه، د بخښنې بهتري، د زغم ثواب درپه زړه کړه، اودا هم په ياد لره چې هغه ظالم اوته مظلوم يې، نودغه مهال کې ته ډېرنيکمرغه يې . (ښه دی چې ظالم نه يې)**